د پښتو ټولنې د نشراتو لمبر (۶۵)

# پښتو سندرې

لیکونکی
گل پاچا «الفت»

د پښتو ټولنې مبصر او د صحافت او تألیف
د [illegible]

Ketabton.com

کابل - ۱۳۲۵

عمومی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

**عنوان** **مخ**

د کتاب ښودنه ........ أ
حمد ........ - 1 -
مطلب ته را بلنه ........ - 1 -
په مقصد پیل ........ - 4 -
د روښانیانو دوره ........ - 17 -
میرزا خان انصاري: ........ - 18 -
د ختیکو دوره ........ - 28 -
خوشحال خان ........ - 28 -
عبدالقادر خان ختیك ........ - 39 -
د مهمندو دوره ........ - 44 -
رحمان بابا او حمید ........ - 44 -
(۱) یونس، موسی خیل(۱) ........ - 68 -
(۲) پیر محمد کاکړ(۱) ........ - 80 -
څلوریځی ........ - 92 -
(۳) کاظم خان (شیدا)(۱) ........ - 93 -
(۴) علیخان ختیك(۱) ........ - 106 -
د هجران سندره ........ - 109 -
(۵) عبدالرحیم هوتك(۱)() ........ - 118 -
(۶) احمد شاه بابا(۱) ........ - 125 -
د علماء او روحانیونو اشعار ........ - 130 -
د ساز او سرود بدلي ........ - 148 -
لنډۍ ........ - 160 -
د شاعرانو قضاوتونه ........ - 170 -

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ښودنه

دا کتاب په۱۳۲۳ کښې د حمید د اشعارو تر اوومې نمونې یعنې د کتاب په اوسنیو مخو تر (۶۰) صفحو لیکل شوی و، او د کال په مطبوعاتي جوائزو کښې یې د ښاغلی وزیر اقتصاد لمړی جائزه په پښتو تالیفاتو کښې واخستله.
سږ کال چه د کتاب د چاپولو وار راغی نو د کتاب د تکمیل د پاره ور پسې نورې برخې هم ولیکل شوې او کتاب تقریباً یو په درې زیات شو.
پدې کتاب کښې د پښتو غوره او منتخب اشعار او هر ډول سندرې ټولې شویدي مگر یواځې منتخب اشعار ورته نشو ویلی ځکه چه په اشعارو باندې ادبي تبصره هم شویده او د ادبي انتقاد روح هم پکښې لیده شي، د پښتو سندرو تاریخ هم پکښې په اجمالي ډول پروت دی او د شاعرانو مقابله او موازنه هم په صریح او غیر صریح ډول تر یوه حده شویده.
پدې کتاب کښې د پښتو شعر د تاریخ په لحاظ له (۱۳۹ هجري) څخه تر (۱۳۰۰) پورې له نظر لاندې نیول شویدی. او د دې لامله چه د پښتو شعر سیر او تحول له هغه وخته تر دغه وخته پورې معلوم شي د یوه شاعر په یوه شعر هم اکتفا شویده.
د ادبي تبصرې او شعري تحلیل په لحاظ د پښتو شعر د نوعیت په اعتبار په درې دورو ویشل شوی چه د روښانیانو دوره، د خټکو دوره، د مهمندو دوره ورته ویل شویدی او دغه هره دوره د کتاب باب بلل کیږي.
د کتاب په آخر کښې دوه بابه نور هم شته چه یو باب د علماؑ او روحانیونو اشعار دی او بل ته د ساز او سرود بدلې ویل شویدی.
په دغه هر باب کښې چه څو تنه شاعران راغلي دي د لویو او وړو فصلونو حیث لري.
پدې شاعرانو کښې چه د چا قلمي یا چاپي دیوان لاس ته راغلی دی په هغه باندې مفصل بحث شوی او شاعري یې تر یوه حده چه وخت اجازه راکوله څېړلی شویده.
پدې جمله کښې د پښتو یو ښه شاعر اشرف خان هجري چه دیوان یې نه و بیخي پاته شو ځکه چه په یو څو نمونو باندې ما په ده ځنګه چه د یو ه لوی شاعر حق تقاضا لري څه نشو لیکلی او په نیمګړی بیان ما ونه غوښتل چه د پښتو مهم شاعر عادي او معمولي شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

معرفي شي. د عبد القادر خان په برخه کښې هم ددې لامله چه وخت تنګ و او کارونو اجازه نه راکوله څنګه چه زما زړه غوښتل هغسې و نشوه او په لړو ليکلو اکتفا وشوه.

زه بايد دلته اقرار وکړم چه ما هيڅکله دومره وخت او فراغت ندی موندلی چه د يوه کتاب د ليکلو او تتبع د پاره کافي وي.

کوم شاعران چه پدې کتاب کښې د هغوی د اشعارو نمونې راغلي دي دادي:

امير کروړ- شيخ رضي- نصر- بيټ نيکه- شيخ اسماعيل- خربښون- شيخ اسعدسوري- شيخ متي- قطب الدين بختيار- ميرزا انصاري- دولت- خوشحال خان خټك- عبدالرحمن با با- عبدالحميد مهمند- يونس موسی خيل- پير محمد کاکړ- کاظم خان شيدا- عليخان خټك- عبد الرحيم هوتك- احمد شاه با با- ميا عبد الکريم صاحب- مراد علي صاحبزاده د کامې- علامه حبيب الله قندهاري- ملا عبد الباقي کاکړ- د موسيی آخوندزاده صاحب-ملا صيام الدين واعظ- صفت خان د چيرهار- ليونی محمد جي د پکلی- سيد کمال د شګی- صالح محمد- دين محمد د نو ښار- توګل د ښېوې- ميرا اپريدی- نوروز- در محمد ځاځی- احمد ګل د ګلائي مومند چه ټول (۳۸) تنه کيږي.

وروسته تر دې د پښتو څو غوره او منتخبې لنډۍ راغلي دي او ورپسې د شاعرانو قضاوتونه د پښتو شاعرانو په باب کښې را اخستل شوی.

دا کتاب د دې لامله چه مسلسل نه دی طبع شوی او د کابل په مجله کښې يوه يوه برخه نشر شويده مونږ ونکړای شو چه تصحيح ته يې پخپله ځان و رسوو ځکه ډيرې زياتې طباعتی غلطی پکښې پاته شوی او غلط نامه ئې هم ډيره لويه شوه. دا کتاب که څه هم په اصل کښې يو ادبي اثر دی چه د ذوق او بديعې حس پاللو خدمت کوي يو اخلاقي رهنما هم کيدی شي او لړ لړ سړی له عرفان او تصوف سره هم آشنا کوي د بلند همتی او بلند نظری تعليمونه، د حق او حقيقت خوا ته ترغيب او د معنويت خوا ته رابلنه هم پکښې شته او اميد کيدای شي چه لوستونکی په خپلو افکارو او خيالاتو يو ښه تغير او تحول محسوس کړي.

که څوك غواړي چه د پښتو له شعر او پښتنو شاعرانو سره آشنا شي، د زړه د اطمينان او د روح د خوشحالی د پاره څه ومومي، د دنيا له ښو او بدو او د انسانيت له مدارجو خبر شي ددې کتاب په اشعارو کښې دې غور وکړي او له شعر سره دې مينه پيدا کړي وايي چه ډاروين د طبعياتو لوی عالم يو وخت ډير تاسف کاوه چه زه اوس له اشعارو خوند نشم اخستلی او زما دماغ لکه يو ماشين داسې دی چه په دنيا کښې د قوانينو په جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصروف دی، دې نوموړی عالم دا هم ویلی دی چه د ذوق او بدیعې حس بایلل د بشري سعادت بایلل دی.

که سړی ښه فکر وکړي په رښتیا چه سعادت له یو ذوق او بدیعې سره تړلی دی او د انسان ټوله خوشحالی له ادبي ذوق او ادبي احساس څخه نشأت کوي، نو که چېرې دا کتاب د ذوق و احساس په روزلو او ویښولو کښې څه برخه واخستلی شي دا به زما په خیال یوه لویه معنوي گټه وي چه د شعر و ادب په لمن کښې یې مومو او د مملکت سعادت پکښې وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بسم الله الرحمن الرحیم

# حمد

پـه نامـه د هغـه خـدای مـې دا بیـان دی
چه یو نوم یې په نومونو کښې سبحان دی

پـه سـجود یـې مځکـې سـر دی لګـولی
چه یې زوړند په رکـوع سره اسمان دی

هـــره ونـــه پـــه قیـــام ورتـــه ولاړه
هـر ګیاه یـې پـه تسـبیح سـره زبـان دی

همـه واړه پـه تسـبیح د ده مشـغول دي
که ملك دی که پېری دی که انسان دی

هر مـاهی یې پـه اوبـو کښـې حمـد وایـي
هر مارغه یې په چمن کښې ثنا خـوان دی

((رحمان بابا))

# مطلب ته را بلنه

که د دنیا د نیمګړی بازار له شور و غوغا نه لږ څه لرې شو، که د غرو دزرکو او دبڼ د بلبلو آواز ته غوږ کښېږدو، که د جرو بیو او آبشارونو شورو فریاد ته ښه ځیر شو او د رڼو ستورو د سترګکونو په معنی وپوهېږو، که د زمانې یادداشتونه را برسېره کړو او سترګې وغړوو، پدې شنو ناوونو او ښکلو درو کښې د پښتو ډېر شاعران وینو چه لکه سرشار آبشارونه د خپلو اوښکو له کاروان او شورو فریاد سره تېر شویدي چه تر اوسه ئې آوازونه پدې پاکه هوا کښې ګرزي او د آسمان په شنه ډنډ کښې غوټې وهي.
پدې غرو او رغو کښې ډېرې د سورنارې لکه د شپنو شپېلۍ اوچتې شوی چه اوس هم زړکې ورپسی ځان له ګرنګه ولی او د هوا کوترې ورپسې تروږې ګرزی.
هندوکش او سپین غر تر اوسه پوری هماغه نارو ته ګوش به آواز ولاړ دي او د آسمان په لمنو کښې ورپسی څار کوی، د مشرقي تورغر او د تیرا سوی غرونه د همدوی په غم کښې تك تور او لوغړن له تاوه ډك ښکاره کېږی، سیندونه او دریابونه په همدوی پسې شپه او ورځ ناقراره دی، د کسې غر د همدوی په مناجاتو او رازونیاز د خدای په دربار کښې په قیام ولاړ دی. د سوریانو او غوریانو کروړان او پهلوانان په همدغو نغمو کښې راته ځان ښئ د روښانه فکرو خاوندان په همدغو شاعرانه نغماتو کښې را سره خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی او په همدغه عالم کښې د خپلو توریالیو او ننګیالو په نامه خوشحالېږو او رحمانی تعلیمونه اروو.

مونږ له ډېر وخته را ایسې شعر او شاعران لرو چه خانان او قلندران، پاشاهان او امیران، پیران او بابا ګان پکښې وینو او افتخار پرې کوو. کوم شی چه مونږ ته له خپلو پلرو او نیکو، مشرانو او پادشاهانو، فقیرانو او قلندرانو پاته دی او هر څه پکښې شته هغه باید د قدر او قدر منو په نظر وګورو.

هر څه چه غواړئ او په هر شی پسی چه ګرزئ په دغو الهامی نغمو او پښتو سندرو کښې پیدا کېږی. د پاك خدای مینه او محبت، د ښایست او ښکلیتوب ستاینه، د عشق ناقراری او لېوالتیا، د عقل سر ګردانی او حیرانتیا، د سپینې تورې ځل او برېښنا، د ایمان ټینګوالی، د معرفت اسرار، حکیمانه لارښودنی، د صوفیانو نغوتې، د پادشاهانو درب و دروب هر څه راته پکښې خپل ځان ښئ او پوهېږو چه زمونږ پخوانیو او اسلافو هر راز شعور درلود او په هر څه ښه پوهېدل.

کله چه مونږ پټی سترګی او په درانه خوب ویده وو، کله چه مونږ د خپلو په قدر نه پوهېدو او پردیو سندرو ته به خلقو نڅل، کله چه زمونږ رباب ماته او بې سره و، له خپلو شاعرانو بی خبره وو او د خپل باغ و بڼ د بلبلو په ژبه هم نه پوهېدو، اوس هغه د غفلت دوره تېره شوه، او زمونږ په ادبی نهضت کښې دومره رڼا پیدا شوه چه په دولسو پیړیو کښې یعنی د دوهم هجری قرن تر اوایلو پورې د شعر او ادب او پښتونولی کرورړان او پاخه استاذان وینو، او په دغه رڼا کښې راته هر راز ښکلې نورانی څېرې ښکاره کېږی او ویلی شو:

په هر وخت کښې وه زمونږه ډیوه روښانه     دروېزه کړې هر چـا زمـونږ لـه خـوانه

نو که چېری له دغی روحی غذا او آسمانی الهاماتو سره څه مینه لرئ یا غواړئ چه د روح او زړه، ذوق او فکر پالنه او روزنه وکړئ، دا اشعار په وارو وارو او په غورو فکرولولئ مګر په خوارو سترګو او د عدم اعتنا په نظر ورته مه ګورئ، ځوك چه په دغه مرض اخته وی هغه پدې خوند نه پوهېږی او نه ورځنی څه فایده اخستلی شی، لکه چه یوه سمسور باغ او ښکلی ګلزار ته ډېر د هوا مرغان رانښکته کېږی مګر کومه برخه چه بلبل او بورائی د ګلو په نداره کښې لری ښائی چه نور ډېر مرغان ئې ونلری، انسانان هم ټول په دغه برخه کښې یو راز نه دي او لکه چه خوشحال خان خټك وائي:

دوه سړي په باغ کښې ګډ شي یو ګل ګوري     دویـــم ګـــرزي پـه طلـب د خـارو خـس

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك د ګلو سيل كوي او څوك پكښې خس و خاشاك لټوي، د ځينو سترګې پټې كړى وى او هېڅ نه وينى، ځينى نور په هره شنه پاڼه كښې د معرفت دفترونه لولى، په شعر او وينا كښې هم ځينې داسى لطايف او خوندونه وى چه غافلانو او بى اعتنا خلقو ته ځان نه ښئ او هر څوك ئې نشي ليدلى.

دا خبره ماته د اشعارو د انتخاب په وخت كښې ځو ځو ځله په تجربه معلومه شوېده چه په سرسري نظر راته ځينى بيتونه عادى او معمولى واېسېدل مګر په حقيقت كښې هغسى نه و، چه يو مثال ئى اوس هم راته ياددى او هغه د عبدالقادر خان دا بيت دى:

وائى چه وبـال دى چـه نظرو ښه مـخ ته
ما په دواړو سترګو قبول كړى دا وبال دى

كه څوك د عبدالقادر خان ديوان داسې لولى لكه چه د صرفميرګردان كوى يا په بى اعتنائى ورته ګوري دا بيت به ورته محض خبره ښكاره شى مګر همدغه ساده خبره يو شعرى لطف لرى چه هغه په دواړو سترګو قبلول دى ځكه چه دا محاوره دلته اصطلاحى او حقيقى دواړه معنا وى افاده كولى شى او وروسته تر لږ التفاته معلومېږى چه د ديدن په وخت كښې دا مصرع ويل (ما په دواړو سترګو قبول كړى دا وبال دى) څه حقيقى كيف لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په مقصد پيل

هر ملت چه ژبه لری او ګړېږی هغه شعر او ادب هم لری که مونږ د دنيا مختلف قومونه او هيوادونه ولټوو په هر ځای او هر ټبر کښې وحشی وی که مدنی، ضعيف وی او که قوی، عالم وی او که جاهل، بډای وی او که فقير شعر او ادب مومو او څو تنه شاعران پکښې پيدا کولی شو ځکه چه شعر د انسان په طبيعت او خټه کښې اغږل شوېدی او دنيا پخپله هم په حقيقت کښې يو شعر دی له کوم وخته چه انسان په ژړا او خندا پوهېدلی او د تعجب احساس پکښې پيدا شوی د شعر نغمه هم اوچته شوی او د دنيا په ګلزار کښې په مينه مست بلبلان پيدا شويدي مګر دا نغمه وخت په وخت د ژوندانه له تغيراتو او تحول سره بل راز شويده او ډېرې مرحلې ورباندې راغلی دی يعنی په لمړيو وختو کښې شعر يوازی د اعجاب، او احساس او بديعی خيالاتو سندره وه وروسته چه په انسانی جمعيت کښې د اغراضو او مقاصدو نيلی وځغلېدی او د ځينو مطالبو دپاره راز راز علل او سببونه وپېژندل شوه شعر هم تحول پيدا کړ او د ځينو مراعاتونو په اثر کښې له خپل محور څخه وخوځېده يعنی د اجتماعی حيات او ژوندون په تقاضا د يوه او بل د خوشحالۍ او زړه جلبولو دپاره وويل شو او په دغه صافه هنداره کښې علاوه پر احساسی تاثراتو نور شيان هم ښکاره شوه.

کله چه انسان په قبيلوی اجتماعاتو کښې ژوند کاوه او د قومی رقابتونو بازار تودو شعر هم د همدغه حيات له تاثير لاندی راغلی او د يوی قبيلی د خندا يا ژړا ترجماني ئې کړېده- په هغه وخت کښې چه د پهلوانۍ ميدانونه په هر ځای کښې جوړ شوی و، او بی له قوته بل افتخار نه پېژانده کېده د شعر قبله يا معشوقه هم رستمان و، او بی د سلاطينو له درباره ئې په بل ځای کښې استوګنه درلوده – کله چه د اسلام مقدس او سپېڅلو تعليماتو انسان د اخوت او ورورولۍ خواته را وباله او جاهلی عصبيتونه ئې ورك کړه شعر هم لږ څه بين رنګ پيدا کړ او ټول انسانان ئې يو د بل ورونه او د يوه وجود غړی وبلل چه بايد يو د بل په درد متاثر او ناقرار شی.

له کومه وخته چه په دنيا کښې د مليت جنډه په هر ځای کښې جګه شوه شعر هم ورته سر ټيټ کړ او د ملی مفاخرو په رنګ رنګين شو – نو له دغه اجمالی سير څخه معلومېږی چه شعر او ادب د انسانانو د ژوند عکس يا سيوری دی چه د ژوندون له تغير سره سم تغير مومی او بل راز کېږی يعنی لکه کاپر ګل وخت په وخت خپل مخ يوه خوا او بله خوا اړوی او غاړه کږوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدى لامله تشبيهات او استعارات، تخيل او تعبير، سلوك او انشأ، مطالب او مضامين، لهجه او آهنګ په هر عصر کښې بدليږى او د ژوندانه له عمومى رنګه رنګ اخلى – نو ويلى شو چه ادب او شعر د انسان د ژوند هنداره ده، يا په بل عبارت انسان په ادبى دنيا کښې ژوند کوى او د ژوند په هره دوره کښې يو ډول ادب لرى.

د پښتو شعر هم خو تاريخى دورې تېرې کړې چه هره دوره ئې مخصوص رنګ او د هغه وخت له حياتى وضعيت سره تناسب لرى- څنګه چه په غرنى هيواو کښې لوړى ژورى يا تاوده او ساړه ځايونه په تفاوت سره ليدل کيږى دغسى زمونږ په شعر و ادب کښې هم تيټ و پاس او نشيب و فراز ليده شى او په لوړتيا يا ښکته والى کښې ئې زيات فرقونه ګورو کله د پښتو د شعر يوه دوره د ارتقا دوره بولو مګر چه له هغه ورسك څخه هغه پلو ګورو او لوړې څوکې (قلې) راته ښکاره شى بيا وايو چه دا د هبوط او ادبى نزول دوره ده چه د تاريخى مجهولتيا له کبله مونږ ورباندى بل راز ګمان کاوه.

د دې شلېدلى او زاړه کتاب د آغاز او انجام، منځ او آخر په تعين کښې ښائې چه مونږ ډېر ځله سهوه شو او په ادبى تتبعاتو او اجتهادونو کښې ډېر وغولېږو مګر بيا هم ورځ په ورځ حقيقت او حقائقو ته نږدى کيږو او د رڼا خواته ځو.

کله چه پښتو ټولنى د پښتو شاعرانو په باب کښې کوم اثر وليکه هلته داسى وبرېښېده چه زمونږ ادبى تاريخ له (٣٠٠ هـ) څخه شروع کيږى، وروسته تر دى چه ښاغلى حبيبى د خپلو تتبعاتو او لټون په اثر کښې د پښتو يوه خورا قيمتى ذخيره (پټه خزانه) وموندله هلته يوه نوې رڼا وځلېده او د امير کروړ د يوې حماسى او فخرى سندرى په استناد ثابته شوه چه د پښتو شعر د ١٣٩ په شاوخوا کښې هم ځينى داسى نمونى لرى چه پوره ادبى پوخوالى پکښې ليده شى او معلوميږى چه په دغه وخت کښې پښتو پخپلو کلماتو او اصطلاحاتو کښې سره د فصاحت او روانى له مراعاته ډېر ښه ادبى تعبيرات خوندى کولى شوه لکه چه له دى لاندې سندرى څخه معلوميږى:

## وياړنه

زه يم زمرى پر دې نړى له ما اتل نشته | پرهند و سند و پر تخار او پر کابل نشته

بل په زابل نشته | له ما اتل نشته

غشى د من مى ځى بريښنا پر ميرخمنو باندې | په ژوبله يو نم يرغالم پر تښتېدونو باندى

په ماتېدونو باندې | له ما اتل نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د بریـو پرخـول تـاویږی هسـك پـه نمـنځ وپـه ویاړ　　دآسـی لـه سـوومی محُکـه ربږوی غرونـه کانـدم لتاړ

کړم ایوادونه اوجاړ　　له ما اتل نسته

زمـا د تـورې تـر شـپول لانـدی دی هـرات او جـروم　　غـرچ و بامیـان و تخـار بـولی نـوم زمـا پـه اودوم

زه پېژندوی یم په روم　　له ما اتل نسته

پـر مـرو زمـا غشـی لـوئی ډاری د ښـن راځخـه　　د هریـوا لـرو دپرځنـډو حـُم تښـتی پلـن راځخـه

ږپی زړن را ځخه　　له ما اتل نسته

د زرنـج سـوبه مـی د تـورې پـه مخسـور وکـړه　　پـه بـاداری مـی لـوړا وی د کـول د سـور وکـړه

سترمی تر بور وکړه　　له ما اتل نسته

خپلـــو وګـــړو لـــره لـــوراو پیرزوینـــه کـــوم　　دوی پـه ډاډ نـه ښـه بـامم ښـه ئـې روزنـه کـوم

تل ئې ودنه کوم　　له ما اتل نسته

پر لویـو غـرو مـې وینـا دورمـې نـه پـه ځنډو پـه ټـال　　نـړی زمـا ده نـوم مـې بـولی پـر دریـځ سـتایوال

په ورځو شپو میاشت و کال　　له ما اتل نسته

په دې سندره کښې د توری ترشپول لاندی ملکونه ګڼل، د بریو پر خول د هسك تاوېدل داس له سوو ځخه د ځمکی رېږدېدل، غرونه لتاړول، د من (ارادې) غشی ته بریښنا ویل، ټول هغه شاعرانه تعبیرات دي چه په. یوه حماسي شعر کښې ډېر قوت پیدا کوی او دا په ډېر ښه شان ثابتوی چه په یوه ژبه کښې دغسی شعر ویل ډېر عمر غواړی ځوك چه د شعر د پوخوالی دوری او د شعر د تکامل او نضج بطی سیر په نظر کښې ونیسی هغه به یقین وکړی چه د پښتو شعر د دغه شعر له ویلو نه پخوا ډېر مراحل طی کړیدی او وار د واره په همدغه ډول نه دی پیدا شوی کومه د تکامل دوره چه په ټولو حیاتی امورو کښې جاری ده هغه د ډېرو تحولاتو تقاضا کوی او ډېره زیاته زمانه غواړی نو مونږ باید خپل ادبیات او اشعار په دوو لویو دورو وویشو چه یوه دوره له دغی موجوده تاریخی نیټی ځخه چه پټه خزانه ئی راښئ د مخه وبولو او بله دوره له دغه وخته رادی خوا وګڼو یا ورته پټه او ښکاره دوره ووایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومې لنډۍ او ټپې، قصې او افسانې چه په پښتو کښې د منظومو ډرامو په ډول تر اوسه شته او اصلی شاعر ئې هېڅوك نه پېژني او نه ئې څوك په يقيني ډول وخت او زمانه تعينولی شي زما په ګمان د پټې دوری اشعار دي چه د دی وخت له اشعارو ځينې په مادي او معنوي لحاظ زيات فرق لري او کوم بعد او لريوالی چه د دې وخت د اشعارو او د دغو افسانو تر مينځ موجود دی هغه هم دا تقاضا کوی چه بايد دغه قصې تر دغه راز اشعارو د مخه وی او قدامت ولری ځکه چه شرقی ادب دغه حکايتی مرحله د غزنويانو له دوری نه پخوا شروع کړی وه او د محمود غزنوی په وخت کښې فردوسی پکښې پهلوانی ښکاره کړه وروسته بيا وررورو قصو او افسانو له نظم نه نثر ته انتقال شروع کړ او له نظم سره ئې تقريباً وداع وکړه نو ويلی شو چه په پښتو کښې هم ځينې افسانی ډېری پخوانۍ دی چه نه ئی ويونکی او جوړونکی پېژندل کېږی او نه څوك ورته وخت او زمانه ټاکلی شی – مګر دا ګمان بايد ونشی چه په پښتو شعر کښې به وار د واره همدغه اوږدی قصې اولوئې افسانی پيدا شوی وی او همدغه به زمونږ د ادب شروع او آغاز وی ځکه چه د دغسی قصو جوړول او په شعر کښې را وستل ډېر زيات قوت او اقتدار غواړی د شعر ابتدائې مرحله بايد ډېر ساده کيف ولری او بسيط رنګ پکښې ولېدل شی.

زما په شخصی عقيده د پښتو لمړی شعر بايد د لنډۍ په صورت وی او همدغه د پښتو لنډۍ چه زمونږ د ملی ادب يوه غوره او خوندوره برخه ده چه اوس پکښې د پښتو دعالی او لوړ ادب ښې ښې نمونی پيدا کېږی د پښتو شعر آغاز هم کېدلی شی مګر دا خبره چه د اول وخت لنډۍ به کومی وی؟ او کومې لنډۍ به په کوم وخت کښې د پښتو د شعر لمړنۍ پټې وی؟ ډېره ګرانه معلومېږی چه اوس پکښې څه نشو ويلی او ډېر تحقيق غواړی. هر کله چه د دغې پټې دوری هر څه لاتر اوسه پوری زمونږ له نظره پټ دی او د ليکونکو له تبصری لاندی نه دی راغلی په خصوصياتو او مميزاتو کښې ئې هم په تفصيل سره څه نشو ويلی او د يوی اجمالی نظريې په ډول همدومره وايو چه په دغه رومانتيکی دوره کښې د پښتو شعر د خپل ساده حيات په لحاظ د نثر قدر ظرفيت او استعداد درلود چه هر راز رزمی قصی او عشقی افسانی پکښې ويل کېدی او د وزن او قافيې په لحاظ يې هم لکه د نن ورځې مثنوی له شاعر سره زياته مرسته کوله مګر د دی لامله چه پس له څو پيتو او مصرو پکښې قافيه بدلېږی او رنګينی پيدا کوی له مثنوی څخه زيات جذابيت لری او تر آخره خپل خوږوالی ساتی.

په دغه دوره کښې دغه کلاسيکی تشبيهات او استعاری په دغه رنګ نه لېدل کېږی او تعبيرات هم ټول ساده او عام فهمه دی- مطالب او مضامين هم په تصويری او تمثيلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول دی چه خطابی آهنګ او د امر و نهی لهجه پکښې په دغه ډول چه په کلاسیکی اشعارو کښې ئې وینو نشته یعنی دغه تعلیمی او تدریسی لهجه هلته نه څرګندېږی او مضامین هم د احساس او اعجاب په اثر د شعر په لمن کښې لوېدلی دی. سړی چه د انسان شعوری مراحل په نظر کښې نیسی او شعر ته د معنی او مفهوم په لحاظ ګوری داسی ایسی چه اول به فخری او حماسی اشعار په یوه بسیط او ساده ډول پیدا شوی وی او بیا به د عشق او جمال پرستۍ نغمی اروېدل شوی وی، وروسته تر دې به د اخلاقی او تعلیمی اشعار او بیا عرفانی او تصوفی شعرونه میدان ته راوتلی وی او کوم سیاسی او انتباهی نظمونه چه اوس وینو دا به له ټولو وروسته زېږېدلی وی.
دغه تقسیم چه د معنی او مضمون په لحاظ د یوی نظریې په ډول وښودل شو، زمونږ پښتو شعر چه اوس د دی وخت د معلوماتو له قراره له کوم وخته شروع کېږی دغه دورې په همدغه ترتیب نښئ، ځکه چه زمونږ تر ټولو پخوانی او لمړی شعر چه اوس مونږ ته معلوم دی هماغه د امیر کروړ فخری او حماسی شعر دی چه د مخه وښودل شو مګر مونږ دا نشو ویلی چه پخوا تر دغه شعره به د پښتو کوم بل عشقي غزل یا کوم بل راز شعر بیخي نه وي او له همدغه شعر نه به وروسته دا نورې دورې شروع شوی وي. ښائي چه مونږ به تر دغه شعره د مخه هم ډېر بل راز اشعار پیدا کړی شو مګر دلته مو مطلب دادی چه تر دغه شعر را پدې خوا په مجمل ډول مونږ ته د دغو دورو ترتیب څه نه څه معلومیږي.
له دغه شعر نه را پدې خوا د روښانیانو تر وخته پورې مونږ په پښتو شعر کښې د مضمون او معنی په لحاظ درې عنصره په واضح او ښکاره ډول وینو، چه حماسي، عشقي او دیني و اخلاقي اشعار ورته ویلی شو.
د حماسیاتو نمونه خو هماغه د امیر کروړ شعر دی چه فی الحاله د پښتو لمړی شعر بلل کیږي. وروسته تر دغه شعره څو نور پاخه او قوي شعرونه هم مونږ ته پټه خزانه راښئ چه دلته ئې د ښاغلی حبیبي له یوه کنفرانس څخه را اخلو چه د آریانا په مجله کښې نشر شویدی او د پښتو د ادب غوره او پخوانی سندرې ورته ویلی شو، چه له خپل زاړه آهنګ څخه هم خپل قدامت او پخوانی توب ښئ لکه چه د شیخ رضی او نصر یوه مکاتبه چه دغه دوه د تره زامن د (۳۵۱) په حدودو کښې یم له بله په شعر خبرې کوي او په دغه وخت کښې د پښتو د کلماتو تغیر او تصریف او استعمال هم راښئ چه بل راز رنګ او بڼه لري، شعرونه دادي:
(۱) شیخ رضی نصر د شیخ حمید ځوی ته لیکي:

د الحاد پر لور دی تر پلل — گروه دی زمونږ وکوراوه
مونږ رو ښلی په زیار نه — تا په تورو توراوه
لرغون ولی گروهیدلی — چه دې گوښی اړاوه
هغه گروه دی اوس اړه کړه — چه پلرو دی رڼاوه
لودی ستا په نامه سپك سو — که هر څو مو درناوه
نصره نه موئې له کهاله — لودی نه ئې په کاوه
زمونږ رغا ده ستا له گروهه — دور ځلوی په رغاوه

(۲) نصر د شیخ رضی جواب داسې لیکي:

د الحاد په تور تورن سوم — زه لرغون څو ملحد نه یم
زما د ښنه هسی تور کړی — که ملحد یم د دښنه یم
له اسلامه نه تر پلمه — تورانو څخه په تر پله یم
گروه می هغه لرغونی دی — اوس هم کروړ په لرغونه یم
د اسلام پر هسك به ځلم — وتورانوته تیاره یم
د لودی څوی سنتی یم — د حمید د لوړ کهاله یم

تورانی دښن چه وائی — زه له گروهه په اړه یم
دائی تور تاسی دروهوی — زه مومن ستاسی پرتله یم
د دښنو وینا مغږه — زه لودی یمه څو زه یم

پدی دوه شعرو کښې سړي ته معلومیږي چه د هغه وخت ځینې اشتقات بل راز و، او اوس بل راز شوی دی لکه: روښلی- وتوراوه- په کاوه- ځلم- دروهوی مغږه او داسی نور
... همدارنګه په هغه وخت کښې ځینې کلمات مستعمل و، چه اوس نه دی لکه:
گروه، وکوراوه، گروهیدلی، اړه کړ، رغاده، دورځلوی، کروړ او داسی نور ...
د همدغه وخت له اشعارو څخه د بیټ نیکه یو مناجاتی شعر هم د پښتانه شعرا په لمړی جز کښې ښودل شویدی چه سړی پکښې د خدای مینه، د قدرة جلال او جبروت د هغه وخت د شعر خوند او کیف مومی چه هغه دا دی:

لویه خدایه لویه خدایه — ستا په مینه په هر ځایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرو ولاړ دی د رناوی کښې — تولـه ژوی په زاری کښې
دلته دی د غرو لمنې — زمونږ کېږدی دی پکښې پلنې
دا وګړی ډېر کړی خدایه — لویه خدایه لویه خدایه
دلته لږ زمونږ اوربل دی — ووړ کورګی دی ووړ بر جل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو — بل د چا په مله تله نه یو
هسك او مرکه نغښته ستا ده — د مرو ووده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه — لویه خدایه لویه خدایه

له (۴۰۰ هـ) راپدی خوا پټه خزانه مونږ ته د خرښبون چه د سړبن ځوی دی او د شیخ اسماعیل چه د بیټ نیکه زوی دی دوه شعرونه راښئ چه دغه دوه د تره زامن ئې د بېلتون او بېلېدو په وخت کښې یو بل ته وائی او داسی آهنګ لری لکه چه دوه مین او خواږه یاران یو له بله بېلېږی، یعنی سړی لکه د دوه مینو سوی ناری داسی ایسی او د آدم او درخانی د مینی یادونه کوی. شعرونه دا دي:

(۱) شیخ اسماعیل د خرښبون د تلو په نسبت وائي:

که یون دی یون دی مخکښې بېلتون دی — له کسې غره څخه ځی خرښبون دی
که وروره وروره خرښبون وروره! — ته چه بېلتون کړی زما ویر ته ګوره
چه ځی مرغی له توری کرغی له — همزولی پاته ځی څه برغی له
د خدای دپاره خرښبون یاره — چه هېرمو نکړی زمونږ کهول واړه
زړه می رپېږی یار می بېلېږی — بېلتون ئی اور دی ځان پری سوزېږی

(۲) خرښبون د شیخ اسماعیل په جواب کښې وائي:

بېلتانه ناره می وسوه په کور باندی — نه پوهېږم چه به څه وی پېښ په وراندی
له خپلوانو به بېلېږم په سرو سترګو — دواړه سترګی می په وینو دی ژړاندي
اسماعیله ستا ناورمی زړه سوری که — بېلتانه خرښبون بیا له تا پردی که
نه هېرېږی که می بیا نه ستا یادی که — په چړو ویربه پری سی د زړه میراندی
ځمه ځمه چه اورډ یون می دی ومخ ته — دیانه څوری به واچوم وترخ ته
ستاسی یاد به می وی بس د زړه وسخ ته — که دا مځکه غرونه ټول سی لاندی باندي

څوك چه دی دوه شعرو ته په اول نظر وګوری پوهیږی چه د خرښبون او شیخ اسماعیل لهجه د شیخ رضی او نصر له لهجې څخه زښت ډېر فرق لری ځکه چه د دی دواړو وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ او تاسی خبرو ته ډېری نږدې دی او محاوره ئې د دې وخت محاوری ته بیخی قریبه ده مګر بیا هم د کلام سیاق او روش ئې په پخوانیتوب شاهدی لی.
په همدغه وخت یعنی د (۴۲۵) په شاوخوا کښې د شیخ اسعد سوری یوه قصیده هم پټه خزانه راښئ چه هم پکښې د پخوانیتوب آثار ښه ډېر لیدل کېږی او هم په دغه وخت کښې د پښتو د شاعری ښه قوت ښئ او دا ورځنی معلومېږی چه دغه راز شعر ویل د ویونکی زیات اقتدار او یو عمومی استعداد او آماد ګی غواړی- پدی قصیده کښې که څه هم ځینی کلمات لکه: فلك، بهار- ګل، خار- خونخوار- هزار- دار- انتقال- نیسان- نثار- سوګوار- کهسارا او داسی نور لیدل کېږی چه په مخکښېنو اشعارو کښې په دغه رنګ کلمات نه ګورو او دلته د یوې نوې اغېزی او رنګ بدلولو په ډول په دغه شعر کښې لیدل کېږی مګر ډېر نور داسی کلمات او اصطلاحات و محاورات هم شته چه دا قصیده د پښتو د ادب یوه لوړه، غوره او پخوانۍ نمونه معرفی کوی.
قصیده دا ده:

| | |
|---|---|
| د فلك له چاروڅه وکړم کوکار | ز مولوی هر ګل چه خاندی په بهار |
| هر غټول چه په بېدیا غوړېده وکا | رېژوی ئې پاڼی تاندی تار په تار |
| ډېر مخونه د فلك څپېړه شنه کا | ډېر سرونه کا تر خاورو لاندی راز |
| د واکمن له سره خول پری باسی مرسی | د بی وزلو وینی توی کاندی خونخوار |
| چه له برمه ئې زمری رپی رنګلو کښې | له اوکوبه ئې ډاری تیر و جبار |
| هم ئې غشی سګنی ډال د ژوبلو رو | رستمان ځنی ځغلا کاندی په ډار |
| چه ئې ملا وی نه کړیږی په غښتلیو | دا فلك پروکاڅه کاری ګذار |
| په یوه ګردښت ئې پرېباسی له برمه | نه ئې غشی د لیندۍ وی نه ئې سار |
| څه تېری څه ظلم کاندی ای لکه! | ستا له لاسه نه دی هیڅ ګل بی له خار |
| په ویرژلو لورنکړی په زړه کراړیه | پرنتلو اوروی د غم ناتار |
| هیڅ روغی مې په زړه نسته ستا له ځوره | بېلوی په ژړا ژړمین له یار |
| له تېریو دی اوښی څاڅی له اوریځیو | چینی ژاړی په ورتې ورتې ستا له شنار |
| نه به لاس له ځوره واخلی نه به لوری | نه به ملا کړی له بی وزلو له ترار |
| نه به زړه سوزوی په هېچا باندی | نه به پریوزې له ګردښته له مدار |
| نه به وصل کړی مین له بل مینه | نه به و درملې تپونه د افګار |
| ستا له لاسه دی پراته ژوبل زګیروی کا | هر پلو ته تپی زړونه په ځار ځار |
| کله غوڅی کاندی مراندې د زړګیو | کله تېر باسی وګړی هوښیار |
| کله ټکی واچوی په نازولیو | کله خیری کړی ګرېوان د نمنځنی چار |
| کله غورځوی واکمن له پلازونو | کله کښېنوی په خاورو کښې بادار |
| زمونږ پر زړونو دی نن بیا یو غشی وویشت | ودی ژوبلله پر دی غشی هزار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر سوريو باندې وير پرېووت له پاسه — محمد واکمن چه ولاړی په بل دار
يو وار سو اسير پر لاس د ميرخمنو — انتقال ئی وکړ قبر له بل وار
په سماوئی ودان آهنګران و — په ټېنکه وير درست جهان او ښار
د محمود د ژوبلو رو په لاست کښېووت — چه غزنه ته ئی باتلی په تلوار
نڼکيالیو لره قيد مړينه ده ځکه — ستائی والوتله هسك ته پردی لار
تر نړی ئی غوره خاوری هديره کا — د زمريو په بېريو کله وی ښوار
په دی وير د غورو ګړی تورنمری شول — په دی وير رڼا تياره سوله د ښار
ګوره ښاخی رڼی اوښې د دی غرونو — دا کړونګی ساندی لی په شورهار
نه هغه زرغا د غرو نو په بيديا ده — نه د رزکو په مسادی کټهار
نه غټول بيا زرغونيږی په لاښونو — نه بامی بيا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بيا راځی کاروان د مشکو — نه را درومی غور ته بيا جوپی د ښار
د پسرلی اوره تودی اوښی تويوينه — مرغلری به نيسان نکړی نثار
دا په څه چه محمد ولاړ له نړيه — په ويرنه ئی سوغور ټول سوګوار
نه ښکاريږی هغه سور د سور په لتو — نه ځلېږی هغه لمر پر دې ديار
چه به نجليو په نڅا پکښې خندله — چه به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه غور په وير ناتار د واکمن کښنوست — هغه غور سو د جاندم غوندی سور آړ
لاس دی مات سه ای فلکه چه وی وکا — محمد غوندی زمری د مړينی ښکار
شين زړګی فلکه ولی لاولاړ ئی — ای د غور غرونو پر څه نشوی غبار
مځکی ولی په رېږد لونه پرېوزی — لاندې باندې سه چه ورك شی دا شعار
چه زمری غوندی واکمن ځی له جهانه — چه څوك نکړی په نړی باندی قرار
سخ په تا ای محمد د غور لمر وې — په نړی به نه وی ستا د عدل سار
ته پر ننګه وی ولاړ په ننګ کښې مړسوی — هم پر ننګه دی په ننګه کاځان جار
که سوری دی په تک وير کاندی ويرمن سول — هم به وياړی ستا په نوم ستا په ټبار
په جنت که دې وتون زمونږ واکمنه — هم په تا دی وی ډېر لور د غفار

دا قصيده شيخ اسعد سوری د امير محمد سوری د مړينې او بنديتوب په نسبت ويلی ده چه دغه نومړی پادشاه د سلطان محمود د تاخت و تاز په وخت په غور کښې بندی ونيول شو او هماغسی بندی غزنی ته را واستول شو خو په لاره کښې ئې بنديتوب په مړينه بدل شو.

پدې قصيده کښې هم ډېر پخوانی تصريفات او زړه صرف و نحوه زاړه لغات وينو چه له دی لاندينيو کلماتو څخه معلوميږی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(رپى- ډارى- ژوبلور- زمولوى- ځغلا- لور- روغى- درملى- ودى ژوبلله- سماو- زرغا- رېږدل) او داسى نور ... چه اوس ئې د نن ورځې په محاوره کښې نه ګورو او نا اشنا ايسى.

ادبى تعبيرات او خواږه محاورات هم پکښې په ښه پيمانه ځاى شويدى چه د فلك ظلم او سنګدلى، د دغه پادشاه شهامت او د ده په حال د هر چا او هر شى تاثير او د زمان و مکان بل رازوالى سړى ته په بديعو او عجيبو الفاظو کښې ښئ لکه وګړى تورنمرى کېدل، د غرونو رټې او ښې ځځېدل د ګرونګى ساندى- د وريځو ژړا- د زړګيو مراندى غوځول- په نازولوټکى اچول- آسمان ته په زړه کراړويل- د زمرو رپې- په غشو باندى ډال سکڼل- د رستمانو ځغلا- د واکمنو له سره خول پرى ايستل- د زرکو په مسا کټهار- د پسرلى د اورو تودى اوښې تويول.

او بيا د دى ټولو په اخر کښې د شنه زړګى خاوند يعنى فلك ته دارنګه خطاب چه ولى ولاړيې؟ او د غور غرونو ته ويل چه ولى نه غبار کېږئ؟ او بيا ځمکى ته امر کول چه ولى په رېږدلو نه پرېوزى او ولى نه لاندى باندى کېږى چه دغه شعار ورك شى- دغه راز شاعرانه تعبيرات هماغه ادبى سحرونه دى چه وينا شعر کوى او په شعر کښې يو بل راز کيف و اثر پيدا کوى.

کوم ادبى قوت چه په دغه قصيده کښې وينو او ښه تعبير هم ترينه نشو کولى بيا ئې د پښتو په يوه بل شعر کښې دوه سوه کاله وروسته يعنى تر (۶۰۰ هـ) وروسته د شيخ متى په يوه مناجات کښې ګورو چه د لوى خداى محبت، د جمال ننداره د عشق ليوالتيا او د حقيقت و عرفان رڼاوى پکښې په ډېر شاعرانه کيف معلومېږى او سړى ويلى شى چه دغه راز پوخ او ښکلى شعربه په ډيرو ژبو کښې په دغومره عمر او پخوانيتوب خدازده چه پيدا کړو.

شعر دا دى:

پـر لويــو غــرو هــم پــه دښــتو کښــې
پــه لــوى ســهار پــه نيمــو شــپو کښــې

پــه غــاړه رغ او پــه شــپلکو کښــې
يــا د ويــر ژلــو پــه شــپېلو کښــې

ټــول ســتا د يــاد نــارى ســورى دى
د ســتا د مينــى ننــدارى دى

جنــډى زرغــون کــه پــه بيــديا دى
د بــربڼ خواتــه پــه خنــدا دى

ترنــك چــه خــړ دى پــه ژړا دى
دا ټــول اغبــز د مينــى ســتا دى

ټولــه ښــکلا دى ســتا لــه لاســه
اى د پاســوالو پاســه پاســه

کــه لمــر روښــانه مــخ ئــى ســپين دى
يــا د ســپوږميه تنــدى وريــن دى

کــه غــر دى ښــکلى پــر تمــين دى
لکــه هنــداره مــخ د ســين دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د ښکلا دا پلوشه ده — دا ئې یو سپکه ننداره ده
دلته لوی غرونه زرغونېږي — د ژوند ورمې پکښې چلېږي
بورا وی شاوخوا کرېږی — سترګې لیدو ته ئې هیښېږی
لویه خاونده ټوله ته ئې — تل د نړۍ په ښکلېده ئې
خاونده ښکلي ستا جمال دی — ښکاره ئې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړۍ کال دی — ستا د قدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونویوه رڼا ده — دلته چه جوړه تماشا ده
زړه می دا ستا د مینی کور دی — سوی د عشق په سوزند اور دی
رپ ئې وتا ته ستا پر لور دی — بې له دی هېڅ دی ورك ئې پلور دی
ستا د جمال په لیدو ښاد دی — که نه وی دغه نور برباد دی
په غرو کښې ستا د عشق شپېلکی دی — د دی نړۍ په عشق سمې دی
که غټ که ووړکه پنډېزی دی — ستا د جمال ځری هر شی دی
چه پر دنیا می سترګې پری سوی — ستا د جمال په نندارې سوی
نه هسك نه مځکه وه تورتم و — تیاره خپره وه ټول عدم و
نه دا ابلیس نه ئې آدم و — ستا د جمال سو چه پرتم و
چه سو ښکاره ښکلی دنیا سوه — د پنځ پر لوری ئې رڼا سوه
زه چه ځرګند پردی د نیا سوم — د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندی شیدا سوم — له خپلی ستې را جلا سوم
په ژړا ژاړم چه بېلتون دی — یمه پردیسی بل می تون دی
وګړو ولی متی ژاړی — سوری ئې اوری غاړی غاړی
څه غواړی؟ څه وائی څه باړی؟ — خپل تون او تورو کلی غواړی
چونی چه بېل شی نیمه خواسی — تل ئې د بڼ په لور ژړا سی

پدی شعر کښې شاعر د قدرت په ټولو مظاهرو کښې یوه خدائی مینه او جمال ګوری او په دنیا کښې یو داراز سیر کوی چه بې له شاعره ئې بل هېڅوك نشي کولی.

دلته شاعر په لویو غرو او دښتو کښې، د سهار په رڼا او د نیمی شپې په تیاره کښې، د ویرژلو په شپېلیو او د ګلونو په پاڼو کښې، د خرو او سپینو دریابو په تماشا، د لمر او سپوږمی په سپین مخ، د غره په ښکلیتوب او عظمت کښې، د ژوند په ورمو او د بوراګانو په کرېدو کښې په شپو ورځو، کلونو او پېړیو کښې همدغه یو شی ګوری چه دی ورځنی د ښکلا په پلوشه، د مینی په ننداره او د قدرت په یوه کمکی مثال تعبیر کوی او بیا وائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زړه د عشق او مینې کور دی او په همدغه قیمتی متاع قیمت پیدا کوی، په همدغه ننداره ژوند او خوشحالی کوی او په هر ځای او هر شی کښې دغه تماشا ګوری.
د نړۍ سمې په عشق سره دی او دنیا ټوله د جمال په رڼا کښې پیدا شوه، ما چه دنیا ته کتلې د جمال په ننداره او د ښکلې مخ په تماشا یم، د همدغه جمال په تماشا شیدا او له خپلې ستې جلا شوم څکه لکه یو مسافر د بېلتون له لاسه ژاړم او لکه له ټولګۍ بیل چوڼې نیمه خوایم. د شیخ متی له دغه مناجات او ځینو نورو اشعارو څخه د (۴۲۰) په حدودو کښې ویل شویدی معلومیږی چه په دغه وخت کښې د پښتو شعر په ښه قوت کښې و، او ښه ښه شاعران ئې درلوده چه د اشعارو نمونې ئې متاسفانه ډېرې لږې په لاس راغلی دی مګر له همدغو لږو نمونو نه هم معلومیږی چه د پښتو شعر په دغه وخت کښې څه رنګ او څه ښېګڼې لرلې؟ د شیخ متی مناجات خو مو ولید اوس د دغه وخت یو بل شعر چه د قطب الدین بختیار دی او د عشق و مینې سوی پکښې لیدل کېږی وګورئ! دا شاعر هم له (۴۰۰ ھ) څخه شل دیرش کاله وروسته مړ شویدی.
شعر دا دی:

ویـــر مـــی زړه ســـوری ســوری کـــړ  راتـــــه وګـــــــوره ملـــــــوکی!
پــــه بېلتـــون کښـــې دې وباســـم  لــــه خوږمنـــه زړګـــی کــــوکی

راتـــه وګـــــوره ملـــــوکی
راتـــه وګـــــوره ملـــــوکی

د بېلتـــــون اورونـــــه بـــــل دی  هـــر ګـــړی مـــی زړګـــی ســـوزی
لیـــــونی یمـــــــه د مینـــــــی  ســــــوزم زه لکــــــه پېلـــــوځی

راتـــه وګـــــوره ملـــــوکی
راتـــه وګـــــوره ملـــــوکی

غـــــــوړولی دی او ر بـــــــل دی  اور زمـــا پـــه زړګـــی بـــل دی
زه بختیـــار خـــاوری ایـــری شـــوم  پــه اور ســـوی مـــی ګوګـــل دی

راتـــه وګـــــوره ملـــــوکی
راتـــه وګـــــوره ملـــــوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ پدې ساده او روان شعر کښې چه هيڅ راز تکلف نه ليدل کيږي څومره خوږوالی او سوی ليدل کيږي او په عين سادګی کښې څه سوزناك اثر دی. په ظاهر کښې ډيرې ساده خبرې دي مګر هر څوك پوهيږي چه يو مؤثر شعر او ښه نغمه ده، آهنګ او تعبيرات او خطاب ئې د پښتو اېسي او په ښتيا له يوه خوږمن زړګی نه راوتلی دی.
تر (۴۰۰ هـ) پورې چه مونږ د پښتو اشعارو ګورو شعر راته يوه روحانی نغمه او د زړه غګ معلوميږی چه له تکليف او تصنع څخه ئې لمن پاکه ده او نهايت ساده ښايست لری، مګر وروسته تر دی ورته دغه حال نه دی پاته شوی او ورو رو لکه د هوا مرغه زمکی ته راښکته شوی او خپله هغه لوړتيا ئی نه ده ساتلی، د مغلو د خړسيلاب له راتګ سره ئې خپل هر څه ورك کړې دی او کله کله د محض نظم په بڼه هم ښکاره شويدی، له دغه وخته را پدی خوا د پښتو شاعران او د پښتو شعر ډېر لږ او ډېر ضعيف معلوميږی تر څو چه د روښانيانو په دوره کښې بيا سر را جګوی او د ختکو له دورې نه ئی يو بل راز حيات شروع کېږی او له دغه وخته بيا پکښې ځينی تحولات څرګنديږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روښانيانو دوره

د پښتو او پښتونخوا خزان چه له شپږم قرنه را پدی خوا شروع کيږی او په اوم هـ قرن کښې د پښتو د ادبی کاروانو بلې لمبې له نظره غائبيږی د پښتو هر څه د مغلوله خږو سېلابونه ضرر مومی او پدې هيواد کښې بی د تورو لړو، زوروړو سيليو، راز راز طوفانو، او وېرووونکو هيبتناکو تيارو څخه نور څه نه ليدل کيږی يا په بل عبارت په مونږ باندی يوه د بدبختۍ توره شپه راځی چه څو قرنه عمر لری او لکه د هجر شپه بيخی سبا کيږی نه چه ناڅاپه د لسم قرن په ۳۲ کال يوه د اميد رڼا پيدا کيږی او د عبدالله انصاری په کور کښې يو طفل دنيا ته راځی چه په دغه وخت کښې هېڅوك ورځنی نه دی خبر چه دا څوك دی او څه کوی؟ مګر وروسته ئې ټول پېژنی چه د پښتون په علمی، ادبی او سياسی حيات کښې ډېره اغېزه او لوی تاثير لری چه څوك ورته پير روښان او څوك پير تاريك وائی، په پيری کښې خوئې هېڅوك شك نلری مګر رڼا او تياره ئې د بحث لاندی ده، او دا هم څه ګرانه خبره نه ده، هر سړی دوستانو ته يو راز او دښمنانو ته بل راز ايسی د څوارلسمی شپې سپوږمی که د يوه کاروان او قافلی دپاره رڼا لری دغلو دپاره په حقيقت کښې همدغه شپه تياره ده دا بحث زمونږ په بحث او بيان کښې څه اصلی برخه نلری ځکه ورځنی په څنګ تېرېږو او وايو چه روښان هر څه چه و او هر څه ئې چه خلق بولی د پښتو په علمی او ادبی خدمت او د پښتو په عرفانی او ملی خدمت کښېستره برخه لری او د ده په نمسيانو او پيروانو کښې لکه ميرزا خان انصاری، دولت لوانی ديوان لرونکی پاخه شاعران پېژنو چه د پښتو د شعر او شاعری ډيوه ئی بله کړی او زمونږ هغه مړه اورونه ئی بېرته تازه او روښانه کړيدی- مونږ دلته د همدغو دوو شاعرانو په شعر او شاعری خبری کوو او دغه شاعری د پښتو د شعر يوه نوې دوره بولو ځکه چه دغه شعر د رنګ او بڼی په لحاظ له ماضی او مستقبل نه ځان بېلوی او بل راز ايسی.

د مخه مو وويل چه تر روښانيانو پخوا د پښتو شعر د مضمون او معنی په لحاظ دری عنصره درلوده چه په حماسی عشقی او دينی اشعارو ورځنی تعبير کيږی. مګر هغه حماسيات د خټکو د دوری له حماسياتو څخه فرق او مخصوص رنګ لری ځکه چه د خټکو د وخت حماسيات په ملی احساس بنا دی او هلته دينی رنګ غالب ښکاره کيږی- د روښانيانو په عصر او زمانه کښې د پښتو شعر وار د واره تصوفی بڼه پيدا کړه او سرحد ئی له فلسفی سره ډېر نزدی شو، کومه عام فهمی او ساده ګی چه د پښتو شعر لرله هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رموزی او پېچیده مضامینو بدله شوه او باریکو افکارو پکښې ځای ونیو- د دی دوری نوموړی شاعران او اامان میرزا خان انصاری او وروسته تر ده دولت لوانی بلل کېږی، دوی دواړه مخلص او ارزانی هم خپل ملګری بنئ او په شعر کښې ئې نبه برخه ورکوی چه ټول د میا روښان شاګردان او پیروان بلل کېږی او د پښتو په شعر کښې ئې علمی کیف او تدقیقی شعور پیدا کړېدی. پدی دوره کښې که څه هم د موضوع په لحاظ شعر خپل مخ بلې خواته ګرزولی او خپله قبله ئې بدله کړېده مګر شاعرانه مزاج پکښې نبه روزل شوی او شاعریت یو علمی او عرفانی حیثیت موندلی دی، پدې وخت کښې د پښتو شعر د معنوی تحول په لحاظ له پخوانۍ دوری ښېخی ځان بېلوی او نوی دوره حسابېږی، د دی دوری په اشعارو کښې سړی ته یو بل عالم او نوی دنیا ځلېږی چه هر څوك ورځنی تعبیر نشی کولی دلته عشق او جمال هم بل کیف او بل ډول پیدا کړېدی او دنیا ته هم له بلی خوا کتل شوېدی، شاعر له محسوساتو هغه خوا نور څه ګوری او داسی خبری کوی چه هر څوك ئې معنی نشی کولی، په دغه وخت کښې نه پوهېږو چه د ما وراء المادی فلسفه د شعر محفل ته راغلی ده او که شاعر د خپل خیال په رڼا کښې فلسفی دنیا لیدلی ده چه د حسن او جمال اصلی مرکز ته اشارتونه کوی او د ګلزار په لیدو د بهار ثنا وائی.

د دې دورې لمړی پهلوان میرزا خان انصاری دی چه دلته ئې په شعر او شاعری باندی خبری کوو:

## میرزا خان انصاري:

میرزا انصاری د یوولسمی پېړۍ شاعر چه په (۱۰۴۰ هـ) کښې وفات شویدی اصلی نوم ئې فتح خان دی او د خپلی استوګنی ځای خیبر بنئ دی د پیر روښان له ټینګو مریدانو او پیروانو څخه ګڼل کېږی او خپله ټوله رڼا د روښان د جلوې اثر بولی او وائي:

ای میرزا روښان په هر لوری جلوه کا
د تبـریـز افتـاب را وخوت له بنیره

یعنې میرزا هم د پښتنو مولانای روم دی چه د ده شمس تبریز هم پښتون دی او په میا روښان شهرت لری څنګه چه رومی د خپل تبریزی پیر د برکت په رڼا کښې هر څه ګوري او ځان د هغه پیرو معرفی کوی دغه شان انصاری هم وائی:

د میرزا کلام روښان دی- پیرروښان له برکته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا متصوف او عارف شاعر چه پخپلو عارفانه اشعارو کښې سرې ته عطار او رومی او سنائی یا دا راز نور د معنی شاعران یادوی د شعر په سکندری آئینه یا جهان نما جام کښې خلقو ته یو بل عالم ښئ او سرې له عرفانی اسرارو سره اشنا کوی د همدی لامله د ده یو رموزی رنګ او آهنګ لری چه هر څوك پرې پوره نشی پوهېدلی- دی په حقیقت کښې د عرفانی افکارو او نظریاتو په لحاظ عیناً (روښان) دی چه وروسته شاعر شوی دی او یوازې ظاهری ښه بدله کړېده لکه چه پخپله وائی:

د میرزا په خوله وئېږم
یو روښان بی رنګه زه یم

میرزا که څه هم د دې ښکاره عالم زیبائی او ښایست پوره لیدلی دی مګر معنوی جمال ته ئی هم په ځیر ځیر کتلی او هغه عالم ورته لا ښایسته ښکاره شویدی همدغه سبب دی چه عرفانی او علمی جمال ته ئی ځان رسولی او په دغه روښانه ډیوه ئې نور هر څه بدل کړیدی لکه چه له دې لاندې بیتو څخه ئې دا حقیقت ښه څرګندېږی:

زه دې تـل وینم زما ساقی دلسوزه — چه د شپې دې رڼا زیاته ده له روزه
د صـورت عـالم کـه هـر څـو ښایسته وی — د معنی زیبائی زیاته ده هنوزه
عارفـان دې پخپـل علـم ښایسته کـړه — او د دم نته د هـر زنده په پوزه
تـه بـه بـار د امانـت زغمـلای نشی — د صلاح په لار څـړه څه نـو آموزه
لـوی کامـل د دوارو کونـو پهلـوان دی — په مدد ئی قافله تر ځایه بوزه
کـه صـراط پـرکم دلیلـو تـوره شپه ده — د مرشد نغو ته ډیوه ګڼه افروزه
ښه پتنګ چه ډیوه ولیده روښانه — په لیدو ئې پته مینه کړه عیانه
بینائی په روښنائی باندی شیدا شوه — د خپل ځان خبرئی بیا مونده له ځانه
په سوومرګ ئې د وصال دپاره وغوښت — په ژوندون شوه جدائی پر باندی ګرانه
په خاطر ئی تل تر تله نوبهار شه — د ګلزارانـدوه ئـی نشته لـه خزانه
هر زمان ئی د معنی په سترګو ګوری — په هر څه کښې هر نشان دی بی نشانه

میرزا د هست و نیست، وجود او عدم په ژوره معنی کښې هم غوټې وهلی او ډېر عمیق پکښې ننوتلی دی چه د همدغی ژوری کتنی په اثر کښې د وحدة الوجود په فلسفه قایل شوی او د تناسخ رنګ هم د ده په افکارو کښې ځای ځای څرګندېږی د نمونې په ډول د ده د دیوان دا لاندې بیتونه وګورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

زه به خه وایم چه خه یم
نیست و هست واړه په ده یم

هر چه نیست شی له هستۍ نه
د هستۍ معنی ئی زه یم

د وصال په هوا ځمه
د دې لامکان مرغه یم

گه ذره د لمر په مخکښې
گهی غوټه پر اوبه یم

یو څلور عنصر می واغوست
د آسمان پر مخ اوده یم

له وحدته په کثرت شوم
هغه نشته چه زه نه یم

زه شنوا په کل غوږونو
دانائی د هر یوه یم

توانائی مې په هر چا کښې
بینائی د هر لیمه یم

ارادت مې دی له واړه
بیا راضی په دا خپل کړه یم

له بدانو می بدی ده
له نیکانو سره ښه یم

د نیکبخت په برخه شهد
د کمبخت په ځان لشه یم

له هر چا یم په هر څه کښې
خزان نلرم تازه یم

د میرزا په خوله وئېږم
یو روښان بی مثله زه یم

(۲)

دا کلام د حقیقت په ژبه وایم
لکه ذات په هر صفات کښې خیرستایم

زه کښې د نباتاتو واړه ساتم
هم ژغروی د زنده سرو واړه یم

یکه تنها لکه الف یم بی نقطه
په یوه وجود محیط په کل اشیایم

په یقین یقین نزدی په گمان لری
په دیدن له دواړو کونو ماورایم

د نیکانو سره ښه بدیم له بدو
و هر چاوته د خپل عمل سزا یم

و عارف ته څره مخ یم په هر لوری
د دوبین پر مخ گمان زه ئی تر شایم

زما ذات په دواړو کونو نه ځائیږی
په قفس کښې وئېدلی د میرزا یم

د دې دوه شعرونو اشاراتو او سترگکو نو څخه به دا معلومه شوی وی چه د میرزا په اشعارو کښې د تصوف، عرفان او فلسفی ډېرې رڼا وې گډې شویدی او راز راز جلوې پکښې لېدل کیږی دا د میرزا ډېر عرفانی او شاعرانه اقتدار دی چه دغه راز لوړ او پیچلی مضمونو نه په دغه ډول په شعر کښې ادا کولی شی او سره له دې ټولو اشکالاتو چه د مضمون او مفهوم له کبله د ده په مخکښې شته شاعرانه آهنگ هم نه پرېږدی او خپل کلام ته وچ فلسفی رنگ نه ورکوی- که تاسی د میرزا اشعارو ته ښه ځیر شی ډېر ځله داسی شعرونه پیښیږی چه سړی په معنی ښه نه پوهیږی مگر په خوندئې پوهیږی- د ده

اشعار هم لکه د موسیقی نغمې یا لکه د بلبلو سوې سندرې سړی ته راز راز تخیلات او خوندور خاطرات پیدا کوی مګر په کلماتو او الفاظو ئی هر څوك نشی پوهېدلی د نمونې دپاره ئې دا څو نور شعرونه هم ولولئ:

(۱)

چه د یار په نامه مینه دم په دم کړم
دغه یاد به ئې د خوږ خاطر مرهم کړم

د جهان و هوسونو ته مې شا شوه
مشغولا به هر زمان د یار په غم کړم

په سپین مخ به سپینی اوښی زغلومه
پر دا یخ به د حباب صورت رقم کړم

دا حباب چه د دریاب په مینځ کښې مات شو
رنګ و نوم ئی له دریابه سره سم کړم

عام و خاص په هسې حال را خبر نه دی
چه په کومه تخته کښل په کوم رقم کړم

د کثرت په عددونو قطرات دی
چه فانی خوی ئې فانی شی نوم ئی یم کړم

په یکتا نظر به واړه عالم وینې
کل اشیا به ورته جام لکه د جم کړم

په وروستی ورځی د قام پوښتنه نشته
اخرین به تر قدیمه مقدم کړم

(۲)

که یو ځل د زړه له حاله ووئېږم
په رښتیا به په عالم کښې نه ځائیږم

حقیقی ژوندون زما د یار لیده دی
یو زمان ئی بی دیدنه نه پائیږم

د زړه حال مې خپل اشنا وته ځرګند دی
او په خلق ملامت یم نه قبلیږم

اشنائی عجب بهار په مخه راغله
جدائی لکه خزان ځنی ترهیږم

دې لاله د زړګی داغ پر پانو راوړ
زه اوریځ د نوبهار باندی وریږم

(۳)

زه ځرګند د محبت په ښه بنیادیم
له نیستیه هم په دا هستی ابادیم

په ازل مې د اقرار په ژبه و وې
تر ابده وفادار پخپل میعاد یم

امانت چه اسمان زمکی ورلی نشو
اوس ئې زه په دا عاجز صورت عماد یم

په اختیار مې هسی ظلم په ځان وکړ
له دې قصده د جهول په نامه یادیم

که د جهل بار مې لری شی له سره
پی ګمانه د صفی ادم اولاد یم

په اختیار مې له کل نهی لاس وکښلی
بی اختیار دواړو امرو انقیاد یم

په ظاهر صورت دیار له یاری ګوښې
په باطن له یاره یو په اعتقاد یم

کل عالم مې په نظر کښې واړه وینم
او هر چیری د اشنا په دیدن ښادیم

(۴)

د بلبل چه اشنائی شوه له سمنه
د دی ګل په مینه راغی تر چمنه

دا تمام صورت د زړه په رضا درومی
او د زړه سفر د سترګو له روزنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هر څو په حجابونو کښې دی نغښتی — د دیدن په مینه واوت له بدنه
اختیارئې د پتنګ تر فهمه نښه شه — چه پر بله لښه پرېووت له چلنه
دا شتا محبت زور وربانديې وکړ — دغه اور پری شایسته شو تر ګلشنه
په باور کښې له جمله اختیارواوت — له مرده وُسره پروت دی بی کفنه
نښه صورت ئی د یوسف بوی ئی د منښکو — او د عشق لوګی ئی ځی له پیرهنه

(۵)

زه چه ډېره ډېره مینه په ګلزار کړم — په هر څه کښې ننداره د دی خپل یار کړم
که طالب په اندیښنو کښې تفکر دی — زه به ئی د محبت په غږ بیدار کړم
یو زمان به فراغت وربانډی نه وی — که زه ځان پخپل دستور ورته سینګار کړم
په هر لور به لاعلاج را پسی ګرزی — چه د خوږ زړ ګوتی مینه ئی مهار کړم
که مجاز د حقیقت له مخه واخلم — دا اورپښتی به تر بله ډیوه ځار کړم

(۶)

څوك ئی څه پیژنی کوم دی — ذات ئې ذات او نوم ئی نوم دی
د مېوی دی هم له لونه — پوخ ئی پوخ دی اوم ئې اوم دی
له ذری دی هم له لمره — بیا له ورمی له نجوم دی
له سردی څخه خزان شو — له ګرمی څخه سموم دی
په نیستی کښې ئی هستی ده — په هستی کښې ئې معدوم دی
مدرس پری نه پوهیږی — دا د سپین علم رقوم دی
په جاهلو کښې اجهل شو — چه له دی علم محروم دی
چه پخپله فضولی که — زړه ئی تور شو رنګ ئې شوم دی
امانت ئی پر ځان واخست — دی جاهل په ځان ظلوم دی
د خپل ځان تر سیوری کښېناست — د ګمان په ساړه موم دی
چه له پټه شرك خلاص شی — ګناه نلری معصوم دی
عام و خاص ئی خادمان دی — دی د کل عالم مخدوم دی
روښنائی د کل عالم شو — په هر څه کښې دی مکتوم دی
حیاتی دی د حیات — دانائی د هر معلوم دی
اراده ئی ده له واړو — دی حاکم د هر محکوم دی
ګویائی له ګویاو، — شنوائی د هر مفهوم دی
چه د تن له خوی و مری — دی په خاص رحم مرحوم دی
رنګ په رنګ لښکر ئی جوړ کړ — اوس و خاوری تی هجوم دی
چه د فقر په اورو سو — دغه سوخت په مرز بوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــــی بــــاقی صـــــفت وګـــــوره | پــــر فـــانی بانــــدی مقســـــوم دی
:---|:---

د (مـرزا) جامـه ئـی رنـګ کـړه
یـو عجـب بـی مثلـه خـوم دی

په رښتیا چه د میرزا جامه په یوه عجیب خم کښې رنګ شوېده او څه چه دی وائی مدرس وربانديږ نشی پوهېدلی ځکه چه دی د سپین علم له رقومه غرېږی او نور له دغه علمه محروم دی، په عامو او خاصو کښې هېڅوك نه پوهېږی چه دی په کومه تخته کښل او په کوم رقم لیك کوی، خلقت ته په یوه عجیب نظر ګوری او وجود د ګمان په ساړه موم بولی، له ژوندو څخه په بی کفنه مړو او بی اختیاری تعبیر کوی، او وائی چه عالم د مینی په جاذبه بی اختیاره یوه سره اورته ځان غورځوی او د ځان ژغورلو هیڅ واك نلری.

وروسته له میرزا انصاری څخه (دولت نوحانی) هم په شعر او شاعری کښې په ده پسی وری تول کړی او د ده شاګردی ئی کړیده لکه چه پخپله وائي:

میرزا ګنج راته خپل کوروشو دغنی شوم | بیهـوده منـت بـه ولـې د بـل چـا کـړم
:---|:---
محقـــق وحـــدتی کـــان د تصــــوف و | پـه رمـوز ئـې پـه همـه علـم دانـا کـړم

دولت د پلار له خوا حسن خیل لوانی دی او مور ئې ورډګه وه، د خپل پلار نوم دادا وښئ او ځان هم له ظاهری علمه نا اشنا او د الهامی شعر خاوند معرفی کوی لکه چه پدی دوه بیتو کښې وائي:

چـه الهـام رابانـدی وشـو ګوینـده شـوم | یـو بیـت هـم جـوړاوه نشـو بـی الهـام مـا
:---|:---
ظاهری علـم مـی هـېڅ ډېر نـه دی کـړی | د معنـــی پـــه قـــوت ووایـــه کـــلام مـــا

دولت لکه چه پخپله اظهار کوی او له اشعارو نه ئی هم څرګندیږی د افکارو او معنی په لحاظ د میرزا خان انصاری یو غښتلی او پیاوړی شاګرد او پیرو دی چه د پیر روښان د مریدی دعوه هم کوی مګر شعر ئې د افادې او عام فهمی له کبله لکه د میرزا شعر هومره ګران او پېچلی نه دی او د شاعری خواته هم زیات را لنډ شویدی خو سره له دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرزا، ارزانی، مخلص خپل مساوی یا له ځانه پورته ګڼي او نور شاعرانو ته پخپل وخت کښې په کمه سترګه ګوری لکه چه پدی بیت کښې وائي:

بی میرزا بی ارزانی بی مخلص یاره
بل شاعر برابر نه دی پښتون ســتایو

دولت هم لکه میرزا خان انصاری د شعر یو پوره دیوان لری مګر د ده په دیوان کښې د لفظی او معنوی تقسیماتو په لحاظ هر راز شعرونه وینو او هر څه پکښې پیدا کولی شو- دولت وروسته د میرزا تر وفاته (۱۸) کاله خو په یقینی ډول ژوندی دی مګر وروسته تر دې نور نه معلومیږی چه څومره موده په ژوندی و، او په څه وخت کښې وفات شویدی مګر دا معلومه ده چه دی تر (۱۰۵۸) پوری د خپل یوه شعر په استناد یقیناً ژوندی و، او تر ده د مخه میرزا خان انصاری په (۱۰۴۰) کښې وفات شوی، او د دوی دواړو پیر او مرشد میا روښان په (۹۹۴) کښې له دنیا نه تللی دی، د دی تاریخونو له قراره معلومیږی چه دولت به د میرزا په واسطه ځانته د میا روښان مرید وائی ځکه چه دغومره عمر چه دولت پکښې د میا روښان په وخت کښې د مرید توب وړ وبلل شی او بیا تر (۱۰۵۸) پوری ژوندی پاته شی له عادی عمرونو څخه لږ څه متجاوز معلومیږی:

دولت پخپله شاعری کښې څومره چه له تصوف او فلسفیانه افکارو څخه متاثر معلومیږی هماغومره له عشق او مینی څخه هم متاثر دی او غزلی آهنګ ئې په اشعارو کښې زیات څرګند دی او لهجه ئې هم لکه دمیرزا لهجه دومره مبهمه او مجمله نه ده، د مثال په ډول ئې دا څو شعرونه وګورئ!

لمړۍ نمونه

| | |
|---|---|
| هـر زمـان چـه اشـنا نـه وینم بیمـار شـم | پـه جهـان کښـې بینـوا زار و نـزار شـم |
| د پریشـان خـاطر ارام مـراد مـې یـار دی | کـه بـی یـاره بـل هـوس لـرم زه خـوار شـم |
| ګهـی مسـت پـه میخانـه کښـې افتـاده یـم | ګـه صـوفی پـه نمـاز ودرم هوښـیار شـم |
| د اشـنا د درګـاه خـاوری بـه پـری نـردم | د تهمـت پـه سـنګ کـه زر ځلـه سنګسـار شـم |
| چـه نظـر مـې د دلبـر پـه جمـال وشـی | هغـه دم لـه خپـل وجـوده پـه فـرار شـم |
| د وحـدة پـه مقـام ځـان یـواز وینـم | چـه نظـر مـې پـه کثـرت وشـی بسـیار شـم |
| لـون لـون بـازی کـړم لـه خپلـه مخـه | ځنـی ځـای ګـل لطیـف چیری تیز خـار شـم |

دوهمه نمونه

| | |
|---|---|
| د هـــر چـــا مینـــه وطـــن دی | حـــب وبشـــلی تـــن پـــه تـــن دی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د عشق په تیغ شهید شی — خونبهائي پاك دیدن دی
د عاشق په دا عالم کښې — لوی هنر د سردادن دی
چه یار مخ ورځنی پټ کا — هغه دم ئې ځنکندن دی
دلبری کوی شرینه — تهمت ولی په کوهکن دی
رسیده هغه ته وائی — چه ئی پېژندلی من وی
د توحید خورشید نه وینی — خود بین شب و روز لیچن دی
هر مؤمن یو تن یاد شوی — په خطا که په ختن دی

## دریمه نمونه

په اخلاص طلبکاریو یو د جلیل دی — چه فرزند قربان په دالار کړ خلیل دی
ژر اسان به ومقام ته ورسیږی — چه ئی بار د ګناه سپك طاعت ثقیل دی
بی هادی پدی خونخواره لاره مه ځه — رهنمای د دی رښتینی لار دلیل دی
معرفت لره ئی هر سړی پیدا کړه — د دنیا طالب شو ډېر د حق قلیل دی
د کلام په معنی هر څوك نه پوهیږی — د زبان لوستن اسان ګران ئی تاویل دی
لوی لښکر ئې د نمرود د جش مات کړ — د مولاسپاهی هلك بق ابا بیل دی
هر عاشق چه دلبر مخ ورته ښکاره کا — که له سر او ماله تیر نشی بخیل دی

## څلورمه نمونه

په ظاهر باطن چه ګوری سبحان یو دی — صورتونه ډېر لیده شی جانان یو دی
د کثرت په حسابو نو غلط مشه — مومنان هر څو انبوه دی ایمان یو دی
په صدف کښې در خالص په مار کښې زهر — بارنده په هر ځای ابرنیسان یو دی
رنګ رنګ ګل ځنی پیدا شی په پټی کښې — چه ګیاه پری زرغونیږی باران یو دی
که لښکر حشم ئې ډېر لیده شی څه شو — چه په حکم ئې عمل شی سلطان یو دی
د معشوق عاشق جامه واغوندی راشی — عشق باقی شاهد مشهود بی ګمان یو دی
پری مؤمن کافر ماهی چندخه زیست کا — پاك دریاب بېحده لوی بی پایان یو دی
د مجاز په څو څادرو ئې مخ پټ که — د دولت د زړه انیس پټ عیان یو دی

## پنځمه نمونه

زه اول چه له وحدته په کثرت شوم — د ناسوت عالم مې وکوة په حیرة شوم
هیڅ له ځانه خبر نه وم چه زه څه یم — د کثرة په ډېر رنګو کښې غلت شوم
لاس او پښې مې غورځول په تاریکۍ کښې — په غفلت له خپل وجوده په غیرة شوم
بی بدنه مې بازی کړه په ډېر کاله — پاك مولا اراده وکړه په صورت شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناګــاه نمــر د معرفــت را بانــدی وخــوت          ســر تــر پايــه ســره يــو ښــکلی وحــدت شــوم

پادشــاهی مــي د دنيــا پــه نظــر هــيڅ ده
مســتغنی د درويشــانو پــه صــحبت شــوم

له دې څو نمونو به معلوم شوی وی چه دولت څنګه شاعر و او د شعر په شپېلۍ کښې ئې څه ويل؟ د ده په عارفانه سندرو کښې هماغه د ميرزا عارفانه حيرت، صوفيانه وحدت، يو بل ډول مينه او بل راز عشق اورو، مګر د ميخانې مستی، د تهمت په کاڼو سنګسارېدل، د شيرينی دلبری هم يادوی او ږ څه د صورت ښايست ته مايل او قريب معلومېږی لکه چه د دی لاندينی شعر له اشارت او اقتضا څخه ئې هم څه نه څه دغه مطلب څرګندېږی:
شعر دا دی:

څــــه نيکبخـــــت هغـــــه آدم دی          چـــــه تـــــا ســـــره همـــــدم دی
هــــر چــــه تــــه ئــــی همنشــــين ئــــی          بــــی تــــا نــــور چــــه غــــواړی ګــــرم دی
د بـــــاغ ســـــروه دی خجـــــل کـــــړه          لـــــه الـــــف دی قامـــــت ســـــم دی
دواړه کونـــــــه پکښـــــــي ويـــــــنم          مـــــخ دی عـــــين جـــــام جـــــم دی
چـــــه دی نـــــه ويـــــنم کـــــه عيـــــدوی          هغـــــــه ورځ زمـــــــا مـــــــاتم دی
ښـــــه ديـــــدن دی ربښـــــتيا وايـــــم          د زخمـــــــی زړونـــــــو ملهـــــم دی
چـــــه مـــــی زړه لـــــه غمـــــه خـــــلاص دی          هغـــــه هســـــی ســـــاعت کـــــم دی
جانبـــــــازان پکښـــــــي ګـــــــډېږی          عشـــــق خـــــونريز بـــــې حـــــده يـــــم دی
نـــــور عـــــالم پـــــه ښـــــادی ويـــــاړی          د فقيـــــر بخـــــره تـــــل غـــــم دی
پـــــه باطـــــل بـــــد نظـــــر نـــــه کـــــا          چـــــه د حـــــق پـــــه لـــــوری خـــــم دی
پـــــه هـــــر څـــــه چـــــه څـــــوک مـــــين وی          هـــــــم هغـــــــه د ده صـــــــنم دی

په هر صورت د دغه يوولسم قرن په شعراو د ميرزا يا دولت په شاعری کښې سره له هغو روښانه افکارو او عرفانی تجلياتو د جمال او عشق ستاينه او اغيزه هم وينو او پوهېږو چه دوی که هر څه وائی بيا هم شعر وائی او عشق د جمال ستائی، دوی هم بينائی په زيبائی باندی شيدا بولي او د لاله د زړګی په دا غونو باندی لکه د پسرلي وريځی اوښکی تويوی، که څه هم په نظر کښې ئې ټول عالم پروت دی او هر څه وينی مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښادي ئې د اشنا په ديدن ده او په هر څه کښې د خپل يار ننداره کوي د همدی لامله په ګلزار هم ډېره مينه کوي او د سترګو له روزنه د زړه شفر بولی، د يار ديدن خپل حقيقی ژوندون ګڼی او بی دیداره يو زمان هم نه پائېږی- کله چه د جمال په ننداره شی له خپل وجوده هم فرار کوی، مينه لکه وطن داسی بولی او محبت د انسان يو عمومی قسمت شميری، عشق باقی ګڼی او شاهد و مشهود هم يو بولی، د خپلی محبوبی مخ ته جام جم وائی او دواړه کونه پکښې ګوری دا خبری که هره معنی ولری او د دوی په نظر کښې هر څه چه وی بيا هم د ښکليتوب او عشق له محيط نه اوزی او هماغه شی معلومېږی چه ټول شاعران ئې د شعر روح او جوهر يا هیولی بولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ختېکو دوره

## خوشحال خان

خوشحال ختټك چه هم پخپله د پښتو يو لوی شاعر او د پښتنو لوی سرې يادېږی او هم د پښتو د ډېرو شاعرانو پلار او نيکه دی د پښتو د شعر د يوی نوی دوری شروع کوونکی هم دی چه د پښتو په شعر کښې ئی ښکاره تاثير کړی او د پښتو د شاعرۍ هنګامه ئې زياته توده کړی او ډېر شاګردان او پيروان ئې هم پيدا کړېدی – کوم شاعران چه د ده خپل زامن او نمسی دی پنځلس يا شپاړس تنو ته رسېږی چه په زامنو کښې ئی لکه عبدالقادر خان، اشرف خان، صدر خان او په نمسيانو کښې ئې لکه عليخان او کاظم خان شيدا د ديوان خاوندان او غوره شاعران تېر شويدی.

د پښتو د شعر افتتاح چه د روښان پيروانو په يوه خاص عرفانی ډول کړی وه خوشحال پکښې د کم و کيف په لحاظ بسط و انبساط پيدا کړ، هغه غوټۍ چه په هغه وخت کښې ئې خپلې پانې نه وی پرانيستی پدی وخت کښې وغوړېدې او د پښتو د بڼ خاموشی ئې د بلبلو په چغهار ماته کړه د ژوندانه نغمې له هری خوا پورته شوې، څه چه د شعر دپاره لازم او ضرورو، هغه ټول پيدا شوه او هر راز غزلونه وويل شوه، د مينی او عشق سندرې په ډېری بی پروائی ميدان ته را ووتلې او د پښتنو ځلمو په اتڼ کښې د شعر اواز سره د تورو برېښنا هم وبرېښېده، د ننګ او غيرت خبری په شعر کښې را ووتلی او بی ننګو ته هم ډېری تانی ورکړی شوی.

د پښتو په شعر کښې د پښتو نولی روح له همدغه وخت حلول وکړ او په ډېر قوت پکښې حماسی رنګ ښکاره شو. چه د ملکيار له حماسی سندرو څخه فرق لری او په ملی احساساتو مبنی معلومېږی.

دا دوره د يوولسم قرن له نيمائی نه شروع کېږی او په دغه وخت کښې د ختېکوادبی کاروان د خوشحال په مشرتوب او سالاری د خيبر او تيرا له غرونه هغه خوا را پيدا کېږی چه له مغلو او مغلوالی سره په شعر او توره دښمنی کوی او د پښتنو احساسات د پردو په مقابل کښې را ويښوی يا په بل عبارت هغه کارونه چه فردوسی يوازی په شعر کښې کړيدی دی ئی په شعر او توره کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ستر قايد او د پښتنو ملی مشر ته يوازې شاعر نشو ويلی ځکه چه د تاريخ په افق کښې ئې د اسمانی هلال غوندې سپينه توره هم ځلېږی – يوازی توريالی او ننګيالی هم ورته نه ويل کېږی ځکه چه خواږه او خوندور اشعار هم لری.

هو! خوشحال د پښتنو هغه بلبل دی چه په دا ئودی نغمو کښې ئې مسيحائی اثر پروت دی او د بلبلو په ژبه خپل کام ته د پښتونولۍ او ننګ و غيرت سندری وائي.

خوشحال يوازې په پښتنو کښې نه بلکه په دنيا کښې هم ښائی داسی نظير ډېر کم ولری چه څوك ئې په توره او قلم کښې ښه قضاوت ونکړی شی چه کوم صفت پکښې غالب دی او په کومه خواکښې ډېر غښتلی او پهلوان ښلل کېږی.

مونږ ده ته انصافاً ويلی شو:

برق د سپينې تورې د ادب ښکلی رڼا سره
تا يوه فانوس کښې جمع کړی په رښتيا سره

پخپله دغه نوموړی توريالی شاعر هم خپل ځان همدغسی معرفی کوی او وائي:

زه هغه سړی يم چه قلم واخلم په لاس
ناظر مې عطار دوی چه به څه کښې په قرطاس
نايب دی د تقدير زما تدبير په مصلحت کښې
صايب دی زما فکر د هرامر په اساس
د تورو په ميدان کښې چه سودا وی د سرونو
هغه زمان مې ګوره تل به سور وی زما اس

دا د توری او ادب پهلوان يا په بل عبارت د قول او عمل خاوند چه د جنګ او جګړو په ميدان کښې مهيبه بڼه لری، د ښکليتوب و جمال د ننداری په وخت کښې د پتنګ بيتابی او د بلبل ناقراری لری – کله لکه يو ننګيالی پښتون د جنګ او جګړو په ډکر کښې وائي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زمانی خوشحال ختك يم

په بل ځای کښې د عشق او مينی له اثر لاندې راځی او پدې ډول له نام و ننګه خپله بی پروائی ښکاره کوی:

د ناموس خبرې مه کوه خوشحال ته
عاشقان له نام و ننګه بی پروا دی

هو! د خوشحال زړه لکه يو ګلاب له ډېری نازکۍ سره تېره اغزی هم لری او په شنو پاڼو کښې سور او رنګين معلومېږی همدغه سبب دی چه په يوه مصرع کښې خپله توره تېره کوی او په بله کښې ولول زلفې پدې ډول يادوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

توره چه تېرېږي خوګذار لره کنه
زلفې چه ولول شي خو خپل يار لره کنه

خوشحال د پښتو او د پښتنو هغه شاعر دی چه ورورسته تر يوه ادبی خزانه چه د پښتو د شعر د ضعف او مړاوی توب دوره ورته ويلې شو، دی لمړی سړی دی چه د شعر هنګامه ئې توده کړی او د يوه ادبی مجدد حيثيت ئی موندلی دی لکه چه دا مطلب دی پخپله هم پدې لاندې بيتو کښې بيانوی او د ځان په ښودنه کښې وايي:

چه د شعر شاعر يه مذکور وشو / څه خو غوږ باسه زما په حسب حال
قصيدې لرم غراله هره بابه / په حکمت په نصيحت کښې مالا مال
په تعريف د دلبرانو غزلونه / په صفت د سترګو وروځو زلفو خال
طبيعت مې عطائی نه د تحصيل دی / که خبريم د املا په استعمال
په فارسی ژبه که نور تر ما بهتر دی / په پښتو ژبه مې مه غواړه مثال
بندو بست د پښتو شعر ما پيدا کړ / ګنه شعر د پښتو و، غير سيال
نه ئی وزن نه تقطيع نه ئی عروض و / دوه مصری ئې د خفيف بحر دوه طال
د غزل نه ئې مقطع نه ئې مطلع وه / نه صفت نه ئې تشبيه نه ئې مثال
مګر زه ئی چه ګويا په شاعری کړم / پښتانه ئې پوهول ايزد تعال
په دا بند و بست به نور تر ما بهتر شی / پس له ما چه کا د شعر قيل و قال
ګلستان زما د نظم شګفته شو / پری وهی شيدا بلبله پر و بال
ګلدستی ئې لور په لور په ملك خپری شوې / تر کابله تر کشميره تر بنګال
هر مضمون ته چه د زړه توجه وکړم / طبيعت ئې راکوی په استعجال
درست ديوان مې لکه باغ د علم ګنج دی / پکښې هر رنګه ګلونه هر نهال
د ديوان که مې بيت بيت سره حساب کړی / تر خلويښت زره په تېر شی په سړ کال
په غزل په رباعی مې زړه مين دی / چه مداح يم د دلبرو د جمال
په محشر به مينه وړمه د سنګدلو / که پيدا درنبړی تله د اعمال
زه مداح د هېچا نه يم بې د ښکلو / د بل چا په صفت نلرم يو قال
په ابا او په اجداد خان و سردار يم / کارنامې لرم د جنګ او د جدال
پلار نيکه مې شهيدان دی ګورته تللی / پښتا پښت مې هنر دا دی آل په آل
که د جنګ د پرهارونو درته وايم / چه له دردو مې په تن و لکه خال
يو پرهار به مې لاروغ په وجود نه و / بل پرهار به مې په تن شو يا په ډال
چه قضا د سړی نه وی سړی نه مری / که ئې درست وجود په غشو شی غربال
دا همه زما د توری صدقه ده / پښتانه چه پرګنی خوری سيورغال

خدايه هومره مهلت ورکړه په دنيا کښې
چه کاره کارونه سم کاندې (خوشحال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څنګه چه خوشحال خان پخپله وائی د پښتو د عروضی شعر په لاره کښې ده ډېر کار کړی او پخپل وخت کښې ئې د پښتو په شعر کښې ساری نه درلود، مګر د پښتو د شعر آينده ورته ښه ښکارېده او له ځانه بهترو شاعرانو ته منتظرو. بی له ښکلوئې د بل چا مداحی نه کوله او د سنګدلو معشوقو مينه ئې محشر ته هم د خپلی تلی د درنښت دپاره وړېده – په ديوان کښې ئې هر راز ګلونه او نهالونه شته او د شعر ګلدستی ئې تر کابل او کشميره رسېدلی دی. د نظم ګلستان ئې هماغه وخت غوړېدلی و او شيدا بلبلی پرې تېرېدلی – طبيعت ئې د مضامينو په ورکړه کښې په ډېره بيړه ورسره مرسته کوله او د ديوان بيتونه ئې تر څلوېښت زرو زيات و، مګر د جنګ پرهارونه ئې هم په تن لړنه و، او ښت تر پښته ئې دغه د سربازۍ هنر درلود – نو هر کله چه خوشحال سره له شعره د توري او ننګ و غيرت خاوند هم و، او سر و کارئی له جنګ او جګړو سره و، طبعاً د ده په شعر کښې هم د ننګ و غيرت خبرې خورا ډېرې دی او د پښتنو د احساساتو تحريک پکښې زښت ډېر ليدل کيږی بلکه همدغه شی د ده د شاعرۍ اصلی او اساسی برخه ګڼل کيږی.

که مونږ د ده ټول هغه اشعار را ټول کړو چه د پښتنوالی او ننګ و غيرت تبليغ پکښې دی يا د ده فخر او حماسه بلل کيږی نو يو لوی کتاب ورځنی جوړېږی او پدې فصل کښې نشی ځائېدلی، ځکه په يوڅو مثالو او نمونو اکتفا کوو.

يو ځای پخپله يوه قصيده کښې خوشحال خان د خپل ځان او خپلو ملګرو توره او توريالیتوب پدې ډول بيانوی:

پښتنو ځلميو بيا لاسونه سره کړه — لکه باز منګولی سرې کا پخپل ښکار
سپينی توري ئی ګلګونې کړی په وينو — په اهار کښې شګفته شو لاله زار
د خيبر دره ئې سره کړله په وينو — په کړپه ئی هم روان کړ دندوکار
ترکړ په تر باجوړه سمې غرونه — په لرزه په زلزله شوه په بار بار
په هغه لوری چه کېږی پنځم کال دی — هره ورځ د سپينو تورو خرپهار
درست پښتون تر قندهاره تر اټکه — سره يو د ننګ په کار پټ و اشکار
ګوره څو جنګونه وشول په هر لوری — خو د ځينو پښتنو نشته څه عار
اول جنګ د لوری شا د تهترو و — چه څلوېښت زره مغل شوه تار په تار
خويندی لوڼه ئی په بند د پښتنو شوې — اس اوښان هاتيان الجه قطار قطار
دوهم جنګ مير حسينی په دوآبه کښې — چه ئی وتکېده سر لکه د مار
بيا له پسه د نوښهر د کوټ جنګ و — چه مې وکېښ تر مغلو خپل خمار

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زما په یاد دی لوی جنګونه دا دی  د هلکو په هر لوری نشته شمار
همیشه فتح و نصرت دی لا تر اوسه  پس له دې ده بیا تکیه په کردګار
اورنګ زیب راته یو کال وشوچه پروت دی  په صورت خوار و حیران په زړه افګار
خزانې د هندوستان دی را خپرې شوې  سره مهران دی ننوزی په کهسار
دا د هېچا په اتلس فکره نه و،  چه به دا کارونه شی پیدا دیار
بله هېڅ لیدله نشی پیدا مینځ کښې  یا مغل د منځه ورك یا پښتون خوار
پیدا هسی وخت چه وخت د نام و ننګ دی  دا بی ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نا پوه دی  بی له توری خلاصی نشته په بل کار
افریدی مهمند شنواری ګوره څه کا  د مغلو لښکر پروت پر ننګرهار
زه تنها پکښې په غم د نام و ننګ یم  یوسف زیه فراغت په کښت و کار
مرګ زما په پوهه ښه دی تر ژوندونه  د عزت سره چه نه وی زیست روزګار

همیشه به په جهان کښې ژوندون نه وی
د خوشحال ختټك به پاته شی یادګار

که مونږ د خوشحال په دیوان کښې غور وکړو او ټول اشعار ئې وګورو داسې راته ایسی چه دغه توریالی شاعر د ننګ و غیرت او پښتونولۍ په فکر کښې دومره ډوب دی چه په عاشقانه غزلو، د ځوی په مرثیه، د ګلو او ګلزار په ستاینه او خپله هره نغمه کښې دغه اصلی مضمون ځایوی او هېڅکله د تورې او ننګ خبره له خولی نه غورځوی، وګورئ! یو ځای د خپل ګران ځوی نظام نومی د مرګ ژړا پدی ډول کوی:

څه دا غونه ږدې په زړه باندې فلکه  چه نظام دی له ما بېل کړ خوا ئی ډکه
په لحد کښې هغه مخ خورې په چنجیو  چه د هېچا پرې پېزو نه وه ځوانکه
کشکی ځوان د پښتانه په ننګ کښې مړاوی  نه چه ګوره لره روان شو له تلتکه
چه د کام په ننګ کښې ومړ هغه ځویه  په عالم کښې د خپل پلار غاړه کا لکه

په بال ځای کښې له خپلی معشوقی او لیلی سره داسې خبری کوی چه د سر ښندلو او خونخوار لارو، د خون او قصاص کلمات ورځنی اوربدل کیږی او سړی ښه نه پوهیږی چه دی اصلاً خپله مینه او عشق و محبت ښکاره کوی که د خپل شجاعت او زړورتوب سندری وائی لکه پدې لاندې غزل کښې:

که زه نه وای عشق به تا لره بلل څوك  په پالنګ به دې دا هسې درختل څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړه عشق دی چه ئی سر راته ګیاه کړ　　ګڼه زه په ځان مین د سرښندل څوك
بدرګه که محبت را سره نه وای　　یك تنها به په خونخوارو لارو تلل څوك
ته می وژنه د قصاص اندېښنه مکړه　　د خپل خون په توربه ونیسم یو بل څوك
تا پخپله سپینه خوله خوشحال ته ورکړه　　ګڼه دی دا هسی شونډې ښکلول څوك

که چېرې کومه نوی تشبیه روا وی او د چا له تقلید لاندی رانشی ویلی شم چه خوشحال خټك د لوړو غرو باز دی چه د بلبل عشق پکښې حلول کړی او هماغه نغمه خدای ورکړېده.

یا په بل عبارت هغه بلبل دی چه د ښکار تېری منګولی هم لری. خوشحال که څه هم ټول عمر د جنګ او جګړو په سره اور کړېدلی دی بیا ئی هم د شاعری آب و تاب نه دی بایللی او نه ئې خپل لطیف ذوق ورك کړېدی لکه چه دا مفهوم دی پخپله هم پدی بیت کښې په شاعرانه ډول داسی ادا کوی:

که هر څو ئې په سره اور کښې لولپه کړی　　د یاقوت د اوبو ډار د ګداز نشته

مګر دومره شویدی چه د ده په عشقی سندرو کښې حماسی ټکی او شجیعانه روح هم پیدا شوی او یو پښتنی رنګ ئی ورکړیدی د مثال په ډول ئې دا لاندی غزله وګورئ:

که نیولی زرکه باز پرېږدی له چنګه　　زه به هم له لاسه پرېږدم شوخ و شنګه
ورپه ورکلی په کلی پسی ګرزه　　درویزه که د دیدن مومی ملنګه
ګل که هرڅو پیدا باغ کښې ښایسته دی　　که ئی وینې بیا اغزی لری له څنګه
څودې توان رسی په لوی دریاب کښې ګرزه　　په بېله کښې دې زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککری وربانډې کښېږدی　　ترڅراغ چه کېنې اوښی ګرزی پتنګه
هغه یار که په پالنګ راسره نشته　　دا هم شکر چه ئې بوی ځی له پالنګه
چه ئی زړه دمعشوقو په مینه مست شی　　د هغو سړیو څه له نام و ننګه
د غمزی په تیغ ئې خوښ شه ئی خوشحاله　　مړنی په روغ صورت نه ځی له جنګه

پدې غزله کښې اغاز او شروع پدی ډول شوېده چه دغه پښتون او ښکاری عاشق خپل ځان لکه یو باز داسی ګڼی او خپله شوخ وشنګه معشوقه له هغې زرکی سره تشبیه کوی چه د باز په منګولو کښېوتلی وی- په بل بیت کښې که څه هم د دیدن په درویزې پسی ځان ملنګ کوی او توره یا خانی هغه پلو ږدی مګر ببرته ورته ځان نهنګ معلومېږی او یو لوی دریاب ئې په نظر کښې ګرزی. وروسته تر دی چه بیا د حسن او جمال ډیوی ته ګوری نو ککری ایښودل او د غمزی په تیغ ځان زخمی کول ورته ښه ښکاره کېږی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل مړنتوب په تقاضا له دغه جنګه روغ صورت تلل ورته ښه نه ښکاره کېږي. همدغه شان په يوه بله غزله کښې وائي:

| | |
|---|---|
| په څه دود ئې ځای نيولی ستا تر څنګ دی | د رقيب خبره مه منه بدرنګ دی |
| زه چه ډېر ډېر ستا له ډېره جوره ژاړم | تردوو چشمو مې چشمه بحر د ګنګ دی |
| ښاپېريه دی په هورته هورته ګرزی | نن پدا لوری د ستا د با هوشرنګ دی |
| لاس ئی مه پرېږده له لاسه خولی ئی واخله | پرېوتلی په یاغی راجا قلنګ دی |
| په زړه مينه محبت په خوله کنځل کا | چه عجب زيبا د دوه مينو جنګ دی |

وګورئ! پدې غزله کښې لمړی ځل ځان له ډېره جوره دومره ژړاند ښئ چه د ګنګ بحر ورته هېڅ دی مګر په آخره کښې د خپل هغه اصلی خوی او طبيعت په اثر کښې له ياغی راجا نه قلنګونه اخلی او هغه جنګ چه د خولی اخستلو په وخت کښی ئې له خپلی مينی څخه وينی زيبا بولی او بی له جنګه خپله غزله نشی ختمولی.
دغه شان د ده په اکثرو غزلو کښې سره له عاشقانه نيازه د زور او قوت توری او ټوپك ننګ و غيرت، شجاعت او سربازی خبری هم اورېدل کېږی مګر د غزلو آب و تاب ئې په ځای وی او نه ورځنی بېخونده کېږی، نو ويلی شو چه دا د توری او رزم شاعر په غزلو او بزمی سندروکښې هم د استادی حق لری او د ستايلو وړ دی ځکه چه دی د مينې او عشق له پانګې چه د شعر حقيقي سرمايه ده هماغسی برخه لری لکه چه د پښتونولی او ننګ و غيرت په دنيا کښې ئې لری او څنګه چه د پښتونولی له عالمه خبر دی هماغه شان له عشق او مينی، می او ساقی، سوز و ساز او عاشقانه دردونو سره هم آشنا دی د همدې لامله وائی:

| | |
|---|---|
| چه څه درد د عشق لری تری به ځاړېږم | که مومن دی که کافر دی که جهود |
| چا به بی د عشق له کاره بل کار نکړ | د خوشحال د خولې ويل که چا منلی |

هو! دا توريالی عاشق مونږ ته پخپل عجيب و غريب ژوندون کښې هر هر څه راښئ او په حيرت کښې مو اچوی چه دغه راز عاشق او په جمال مين سړی څنګه دومره نورو چاروته وزګارېږی او د زمانې ننګيالی ورځنی جوړېږی يا په بل عبارت څنګه د دغومره سخت او کلك زړه خاوند څخه دغسې شاعر جوړېدی شی. همدغه يو سړی دی چه کله سپاهی، کله شاعر، کله مبلغ او کله صوفی کېږی هم. په ځينو ځايو کښې وائي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| پــه جهــان د ننګيــالی دی دا دوه کــاره | يـا بـه وخـوری ککـری يـا بـه کـامران شـی |
| تــر مطلوبــه پــوري شــرط د رســېدو دی | کــه تمامــه لار الــوده شــی پــه وينــو |
| کـه پـه تـوره ئـې جـواب ورکـړی مـردی ده | کـه وجـود دی ځـوك ازار کانـدی پـه چـوب |
| کـه آسـمان د ې د مـزری پـه خولـه کښـې ورکـړی | د مـزری پـه خولـه کښـې مـه پرېـږده همـت |

او خپل ځان هم پدې ډول مونږ ته راښئ:

| | |
|---|---|
| هــر ملــخ د ســربازی لــه هنــر ځــه زده | چـه پـدا هنـر کښـې سرښـندی پتنـګ دی |
| لا تــر اوســه ئــې مــاغزه پــه قــرار نــه دی | چـا چـه مـا سـره وهلـی سـر پـه سـنګ دی |
| لا پـه خـوب کښـې پـه لـرزه پرېـوزی لـه کټـه | چـه د چـا تـر غـوږو زمـا د تـورې شـرنګ دی |
| کــه پــدا دوره مــی ګــوری هغــه زه يــم | چـه مې داغ پـه خـاطر ايښـی د اورنـګ دی |
| درســت جهــان مــې ومغــل وتــه خيبــر کــړ | ځـای پـه ځـای ئـې پښـتانه وتـه قلنـګ دی |
| ځينــې ځــه لــوئی دعــوی لــرم پــه زړه کښــې | ولـی ځـه کـړم چـه پښـتون واړه بـی ننـګ دی |

مګر سر له دی ټولو خبرو کله چه د مينې عالم ته راځي نو بيا وائي:

| | |
|---|---|
| د خـانی د تـورې ځـای نشـته پـه عشـق کښـې | معشــوقې وتــه مريــی اوســه خوشــحاله |
| کـه تـر نـوم او تـر ننـګ تيـر شـوم پـروا نشـته | عاشـق هـر کلـه قـدم پـر ننـګ و نـام ږدی |
| د عاشــق لــه نــام و ننګــه ســره ځــه دی | ځـه مـی غـم کـه اشـنا مـومم پـه پيغـور کښـې |

اوس به مو پېژندلی وی چه زمونږ دغه نوموړی شاعر د عشق په کوځو کښې بل ځوك دی او بل سړی ورځنی جوړېږی ځوك چه په رښتيا شاعر وی او شاعرانه مزاج لری هغه په شعر کښې همدغومره رنګونه لری او په وينا کښې ئې هر هر څه پيدا کېږی، کله لکه يو هوښيار سپين ږيری خلقو ته نصيحتونه کوی او کله لکه مجنون د لېونتوب صحرا ته اوزی، يوه ورځ د دنيا په لوړو ژورو، تورتم او رڼا، لمر او سپوږمی، باد و باران کښې فکرونه کوی او د يوه صوفی يا فلسفی ګمان پری کېږی مګر بله ورځ خان او ملك شی چه د جنګ و جګړو او ننګ و غيرت خبرې کوی.
که دغسی سړی مو کله نه وی ليدلی راشئ خوشحال خان ختك پخپل شعر او ديوان کښې وګورئ او ورته ښه ځير شئ، د ده په وينا کښې سړی ته هر هر څه معلومېږی او سړی پری هر ګمان کولی شی، ځوك به ئې د ځينو خبرو په استدلال د صوفيانو په ډله کښې شمېری او ځينې به ورته فلسفی وائی ځوك به ئې يو څه بولی او ځوك بل څه مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

که سړی ورته شاعر ووائي او يو رښتياني شاعرئي وبولی دا نوم د ده په ټولو ويناؤ او ټولو اشعاو ښه صادقيږی او هيڅ اعتراض نشي وارديدلی ځکه چه شاعر همدغه معنی لری چه د هر چا له حال او زړه نه خبر شوی وی او په دغو ټولو خبرو پوهيږی يعنی کله د ښادمنو په خندا او کله د غمجنو په ژړا قسم خوری په يوه بيت کښې د اسمان نندارہ کوی او په بل کښې زمکی ته را ښکته کيږی، کله غم او کله غمخور شی، په يوه مصرع کښې ئې آه او په بله کښې خوشحالی وی.

يو ساعت د دنيا بی وفائی بيانوی او بل ساعت د اميدواری سندری وائي. که چيرې د خوشحال خان ديوان ولټوو، دغه راز ټولی خبری پکښې پيدا کولی شو او راته معلوميږی چه د شاعر په وينا کښې هر رنګ خبری پيدا کيږی، د ده د جنګ او جګړو خبری او د مينی او محبت سندرې خو مو د نمونو په ډول واوريدلی، اوس ئې څه عرفانی سندری هم واورئ چه د فلسفي او تصوف رنګ و خوند پکښې لږ لږ ليده شی.

## لمړنۍ نمونه

درياب څه د جالي دپاره نه ځی که څوك وائی
پخپله رضا درومی جاله هم ځان سره بيائی

په غرونو واوری اوری بارانونه په ملکونو
له هيچا خبرنه دی چه په مونږه هم څوك پائی

په دولس برجه ګرزی نمر پوره په دولس مياشتی
په دا خبردارنه دی چه صيفی دی که شتائی

په درست جهانکښې ګرزی باد حيران په څلور کنجه
په هر لوری چه ګرزی نا خبر چه څه پيمائی

ميوې غلې ګلونه ځنې رنګ رنګ نعمتونه
له مځکی پيدا کيږی مځکه پروته ګل ولائی

څلور واړه عنصره چاکران دی ای خوشحاله
چاکر هغه خدمت کا چه صاحب باندی فرمائی

## دوهمه نمونه

خلق ناديده دی په خبرو پسی ځغلی
ځار تر عارفانو چه په حال دی پوهيدلی

دواو يا مذهبه پکښې هومره قيل و قال
واړه سرهوا پخپل مطلب پسې دی تللی

ډير دی کتابونه مشتمل په ډيرش حرفونه
ګل واړه که ګوری له الفه دی زوولی

سل هيی سل سيبه چه تی مات په يوه ځای کړی
سل به بلل نشی سره يو دی ماليدلی

واړه نور د لمر دی هم د ننه هم د باندې
هر چيرته دا نوردی په هر ښهر په هر کلی

زه خوشحال ختك يم درندانو په مذهب
نور ويل می نزده مختصر دی ما ليکلی

## دريمه نمونه

وزيری له نوحه د طوفان په موج فناشی
زوی د اذر ومومی له ناره نه نجاة

کار د بل حکيم دی چه څه کاندی هغه کيږی
واړه سر درګم دي دا ابا دا امهاة

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل د ساعت د طبیعت دی که د نور څه — نیك زیږی له بدو له بد ذاتونه نیك ذات
هومره علم زده کړی چه پرښتوته سبق ورکړی — بیا هم خبر نه وی د جهان په ترهات
رددی که مقبول دی که معقول که نا معقول دی — ګوره نه داره کړه تر دادم مه وهه زیاة
سر په سجده کښیږدی وائی نمونځ کوم خوشحاله — زړه ته نظر نکړی پکښې څو لات و مناة

## څلورمه نمونه

دا چه وائی چه دا بد کړی یا دا ښه کړی — که رښتیا وایم زه نه یم واړه ته کړی
څه چه اوس و واړه خلقو ته رسیږی — چه دې کړی په ازل دی هغه کړه کړی
په یوه مځکه یوه باغوان کرلی — عباسی ګلونه زیړو سپین ورسره کړی
د سحر ګټنه ډیره ده تر هر څه — ځینې ځینې ورته ویښ ځینې اوده کړی

الوده لړلی درغی درګاه ته
هیڅ می نزده چه بد حال د خوشحال څه کړی

خوشحال که څه هم په شعر او ادب کښې د هر راز مضامینو خاوند دی او په دیوان کښې ئې هر راز موضوعات پیدا کیږی چه ځینې کسان به پکښې تصوفی مسایل پیدا کوی او ځینې به پکښې علمی شواهد ومومی، څوك به ئې یو اخلاقی معلم او مربی بولی او بعضی به نور نور نومونه پری ږدی مګر وروسته تر یوه عمومی نظره هر چاته معلومیږی چه دی اصلاً د پښتو یو رزمی شاعردی او په اشعارو کښې ئې د نارینتوب او ننګ و غیرت روح ډیر ځلښت لری. پدی کښې هیڅ شك نشته چه خوشحال یو پیاوړی شاعر او په ټوله معنی د پښتنو شاعر دی ځکه چه دی خپل شعر او شاعرانه طبیعت له پښتنو نه نه دی بیل کړی او کوم بل عالم ته ئې نه دی بیولی، ښائی چه مونږ په پښتو کښې ځینې ډیر ښه شاعران پیدا کړو چه د محض شاعریت په لحاظ به ډیر لوړ مقام لری مګر په شعر کښې به ئې د پښتونولۍ مضاهر نه وی او د کلام له روح او خصوصیت څخه به ئې دا نه معلومیږی چه دا پښتون شاعر دی او د پښتنولۍ له افکارو سره د شعر او شاعری دنیا ته راغلی دی مګر د خوشحال شاعری داسی نه ده او د ده پښتنواله د ده په شعر کښې لکه لمر ښکاره دی، د همدی لامله د پښتو لوړه ادبی جایزه د ده په نامه ورکول کیږی او دا امتیاز په ټولو پښتنو شاعرانو کښې یوازې د همده په برخه شویدی ځکه چه د ده اشعار لفظاً او معناً، فکراً او روحاً د پښتو اشعار بلل کیږی او د پښتنو روحیات او پښتنی تخیل پکښې له ورا ځلیږی- که فرضاً کوم مقتدر شاعر د ده دیوان په بله ژبه واړوی او له پښتو قالب نه ئې وباسی بیا ئې هم خلق پیژنی چه د یوه پښتون خبری دی او په پښتو اړه لری د ده په اشعارو کښې علاوه له پښتنی روح او فکر څخه ډیری نوری خبری هم شته چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو حال و احوال او خوی و خصلت څرګندوی، ځینو پښتنو ته بد وائی او د ځینو ستاینه کوی، د ځینو قومونو یو راز عادات او د ځینو بل راز خویونه ښئ ځ چه پدې باب کښې کله کله ښېرې او قیافې هم بیانوې او خبره ئې هجوی ته رسېږی ځکه چه دا زورور شاعر پخپل تنقید کښې هم پوره زړورتوب او صریحه لهجه لری چه ځینو خلقو ته پېغورونه او تانی ورکوی او ځینو بی ننګو ته په ښکاره کنځلی کوی چه دلته ئې مثالونه او نمونی ښودل ښه نه ایسی او ضرورت ورته نشته.

خوشحال خان که څه هم پخپلو اشعارو کښې یو بی قیده او بی پروا سړی معلومېږی او داسی ایسی چه ده به د ښکلو په مینه او حسن پرستۍ کښې نور هر څه هېر کړی وی مګر سره له دی یوه خدائی مینه ئی هم په زړه کښې پرته ده او دغه محبت ئې هیڅ کله نه دی هېر کړی، یو ځای خپله دغه مینه پدې ډول ښکاره کوی:

خدایـه کـه زه تـا تـه نـزدی کېـږم پـه افـلاس — زرمې کند په غاړه کړه یو مات کجکول په لاس
ته که پیدا خوښ ئې چه خاوند د ملك و مال وم — مال و ملك مې هومره کړی چه تېروی تر قیاس
توان د طاعت راکړه چه اخلاص ورسره مل وی — نه هغه طاعت چه شی په رسم و په لباس
یا بارې کریمه! د خوشحال ختك دا خواست دی — تل د ده په زړه کښې لری ټینګ د دین اساس

خوشحال لکه څنګه چه د پښتنی ننګ د په ځای کولو ارزو لری د خدای د بندګی او اطاعت ارزو هم ورسره ده او په بندی خانه کښې لا دواړه نیتونه پدی ډول ښکاره کوی.

پــس لــه بنـده دی دا عــزم — د خوشـحال د خـاطر جـزم
یـا نیـولی مـخ مکـې تـه — یـا مغلـو سـره رزم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالقادر خان ختټك

وروسته تر خوشحالخانه د ده زامنو او لمسيو هم د پښتو شعر په ښه شان پاللى او د دولسم قرن تر آخره پورى د خټكو د سرشار طبيعت موجونه او ځپې نه دى ناستى د خوشحال هر زوى او لمسى د شعر جنډه جګه كړى او مونږ ته ئې په شعر كښې ادبى شاهكارونه پرې ايښى دى چه دلته د اختصار له كبله يوازى د عبدالقادر خان په شعر او شاعرۍ لږه رڼا لوېږى.

عبدالقادر خان د خوشحال خان زوى چه تولد ئې د (۱۰۶۲) په شاوخوا كښې او عمرئې تخميناً د شپېتو كالو په حدودو كښې معلومېږى د پښتو په شعر كښې يو خوږ ديوان او په پښتو كښې نور ښه ښه تاليفات او آثار هم لرى، په شعر كښې ئې سادګى او روانى څرګنده ده او د بداعت جنبه ئې هم قوى ده، د ده د شعر مخه د مينى او محبت لور ته زياته معلومېږى او هغومره چه خوشحال خان پخپل شعر او شاعرۍ كښې حماسى آهنګ درلود، دى ئې نلرى، په اشعارو كښې ئې څه ډېره زياته مبالغه او شاعرانه اغراق هم نه ليدل كېږى، د عشق او مينى اظهار هم په يوه معتدل ډول كوى او پدى باب كښې د خاموشۍ طرفدار دى – دنيا او عالم ورته د جمال مظهر ښكاره كېږى او لكه يو صوفى په هر څه كښې د خپل دلبر مخ او جلوه وينى، له همدغى لارى دى هم د وحدت الوجود فلسفى ته نزدى كېږى او د عشق عظمت د جمال او جلال اثارو ته په يوه ډېر وسيع نظر ګورى. دا مضون ښائى چه ډېرو شاعرانو ادا كړى وى او په مختلفو پيرايو كښې له نظره تېر شوى وى مګر عبدالقادر خان ئې پداسى ډول بيانوى چه سړى ته بيخى نوى او ناڅكلى مضمون ايسى، پدى لاندى بيتونو كښې ورته ځير شئ:

دلبر مخ راته ښئ په هر آئين كښې — كه په تور كښې جلوه ګرشى كه په سپين كښې
ګه په زلفو كښې ځاى وكا زړه را كاږى — ګه په ستر ګو په رخسار او په جبين كښې
كله كله په ترسا كښې مخ څرګند كا — د صنعان په دود ئې وران كاندى په دين كښې
په څراغ كښې تجلا وكاپتنګ ته — بلبلانوته ښكاره شى په نسرين كښې
نور و نارئې د جمال جلال اثر دى — قهر مهر ئې په تريخ او په شيرين كښې
كه اثرئې د لبانو پكښې نه واى — نه به و، هومره خواږه په انګبين كښې
لويه خدايه عشق يو څه رنګه لوى شى دى — چه ئې ځاى نشى په چرخ او په زمين كښې
په هر څه كښې ګوره يار عبدالقادره — كه دى نشته شك ګمان پخپل يقين كښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې شعره دومره معلومېږی چه د ده په نظر کښې جمال او ښکليتوب، عشق او مينه دغه شی نه دی چه عام خلق ورته ګوری او تعبيرونه ورځنی کوی بلکه د عرفان او تصوف له لوری ئې ورته کتلی او په شعر کښې ئې عارفانه کيف پيدا شويدی.

په يوه بل ځای کښې هم په يوه سندره کښې لمړی ځل خپل عشق سړی ته داسی ښئ چه کومه ښکلی او دلبره معشوقه په مخ ورغلی ده او ده زړه پری بايللی مګر په اخره کښې معلومېږی چه دی په يوه مجهوله ليلی مين دی چه يوی بربښنا غوندی ئې ترسترګو شوی او بيا ورکه شوېده چه دی ورځنی هېڅ خبر نه دی او نه پوهېږی چه ځمکی ته ولاړه او که آسمان ته وختله؟ څه شوه او چيرته ولاړه؟ سندره دا ده:

په لاره تلمه په مخه راغله يوه دلبره پری رخساره
د نمر په شانه لا تری روښانه په ښکلی مخ وه هغه ګاره

بی ميومسته خوله نيست وهسته ډکه له نازه خالی له نيازه
سر تر قدمه ثابته روغه له هره عيبه پاکه ويزاره

مخ ئې څرګندو نظر پرې بندو، د مخ شغلی ئې د مخ حجاب وې
په خيال خيال تلله نظر ئې نکړ، هرګز و چا ته له کبر و عاره

له ما غايبه لکه بربښنا شوه په مځکه لاړه که په سما شوه
هېڅ نه پوهېږم چه چيرته دا شوه راته ووايه! اي خبرداره

هوس ئې ويوو غم ئې راپرېښود داغ ئې پانوی رابانده کښېښود
مقصود ئې دا دی عبدالقادره اوس پسې ګرزه سينه افګاره

د عبدالقادر خان په عاشقانه غزلو او سندرو کښې سړی د شهوت پرستۍ څه ډېری مظاهرې نه وينی او نه له خپلی معشوقی نه هر هر ځای په غټه خوله د بوس و کنار سوالونه کوی د ده له اشعارو نه سړی استنباط کولی شی چه دی محبت په تور او سپين پوری مربوط نه ګڼی او نه هغه څوک صاحب جمال بولی چه کړه وړه ئې ښه وی بلکه عشق يوه ازلی برخه او حسن هم يو اثر بولی چه له تور او سپين، کړو وړو څخه ما سوادی – پخپل يوه شعر کښې چه دی د وصال د شپی تصور او آرزو کوی داسی ايسی چه دی له خپلی معشوقی نه ديوی ربښتيانۍ مينی طمع لری او بی له دلدارۍ نه نور هېڅ نه غواړی يعنی همدا ارماند لری چه زه په ځير ځير ستا مخ ته وګورم او پخپلو اوښکو او ژړا کښې درته د خپلی مينی اظهار وکړم ته را پاڅېږې زما اوښکی پاکې کړې، ډاډ راکړی، او دلاسا می کړی، په آخر کښې ته هم راسره وژاړی او دواړه د دی دپاره چه يو د بل بيلتون ونه وينو خپل مرګ له بل نه د مخه وغواړو او هر يو بل ته د ډېر عمر دعا وکو.

شعر دا دی:

زه دې درسته شپه ځير ځير و مخ ته ګورم
ته ناظرو خپلو ښو ته له حيا شې

چه خوب درشی سر زما په زنګون کېږدې
د غنچی غوندې اوده په غېږ زما شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز دې مـخ تـه کاتـه کـړم پـه ورت ورت ژاړم | چـه اخـر بـه يـوه ورځ لـه مـا جـدا شـې
زمـا اوښـکې پـه رخسـار د تـاپر بـو وزی | وينن لـه خوبـه لکـه ګـل پـه شبنم بيا شـې
پـه رويمـال مـې اوښـکې وچـې کـړی ډاډ راکـړی | زه فريـاد کـړم تـه زمـا پـه دلاسـا شـې
تينګـــوې ژړا زمـــا د زړه دپـــاره | چـه غريـو زور دربانـدې وکـړی پـه ژړا شـی
زه تـر تـا لمـړی مـرګ غـواړم تـه ترمانـه | زه و تـا تـه تـه و مـا تـه پـه دعـا شـی

پدې بيتو کښې علاوه پدې چه يوه مجرده او پاکه مينه پکښې جلوه کوی او سړی پوهوی چه د يوه شاعر زړه څه غواړی؟ او څه ارزو لری؟ ډېر نازك کيفيتونه او شاعرانه نکات هم پکښې شته چه د تصوير او تعبير په لحاظ يو خوږ او ساده شعر ګڼل کيږی – د يوه عاشق ځير ځير کتل اورمرو د دی باعث کيږی چه معشوقه له ډيری حيا خپلو پښو او د زمکې خواته وګوری او بيا خپل سر د خوب په وخت کښې د خپل مين په زنګانه کيږدی چه هغه ورځنی داسی تعبير وکړی چه لکه غنچه زما په غيږ کښې اوده شوه، پدی وخت کښې طبعاً دی ديوی ورځی د جدائی په غم ژاړی او اوښکی ئې د هغی په مخ توئيږی هغه راويښيږی مګر شاعر ئی داسی بولی لکه ګل چه په شبنم راولېږی او غوړيږی په دغه حال کښې چه معشوقه خپل عاشق د خپل هجر په غم کښې ژړاند وينی زړه ئی سوزی او دغه قيمتی اوښکی پخپل رويمال وچوی، ده ته ډاډ او تسلی ورکوی مګر ژړائی نه دريږی او هماغه شان ئې مړې مړې اوښکی پر مخ راځی په اخر کښې معشوقه هم که هر څو خپله ژړا ټينګوی بی اختياره په ژړا کيږی او د خپل مين د بلی ورځی بېلتون ورته دومره ګران ښکاره کيږی چه د خپل مرګ ارزو تر هغه پخوا کوی او دواړه يو بل ته يوراز دعاګانې کوی چه په حقيقت کښې هر يو د بل د دعا نه قبلېده غواړی.

دا خوږ ژبی او مقتدر شاعر به مو د دی څو شعرونو په رڼا کښې څه نه څه پېژندلی وی او د شعر رنګ و کيف به ئې هم لږو ډېر معلوم شوی وی او س ئې يو څو نور شعرونه هم د نمونو په ډول وګورئ ځکه چه د يوه شاعر شاعری څنګه چه له خپلو اشعارو معلوميږی هغومره تبصره کونکو په وينا کښې نه معلوميږی او کېدی شی چه ليدونکی ئې په اشعارو کښې بل شان وپېژنی.

لمړی نمونه

حقيقـت د عشـق پـه خولـه ويلـی نشـی | دغـه اور بـی دلـه نـور سـهلی نشـی
درسـته شـپه نـاری وهـم د يـار لـه دردِه | همسـايه مـی پـه شـپه خـوب کـولی نشـی
د زړه مسـت لـره د زلفـو ځنځيـر بويـه | پـه اوسـپن ځنځيـر دا مست ترلـی نشـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـدا بـاغ کښـې ډېـر ګلونـه شـګفته شـوه　　پکښـې يـو د يـار پـه رنـګ ليـدلی نشـی
مـا د يـار د مـخ پـه بـاغ کښـې دی ليـدلی　　چـاوی دا چـه تـور نـرګس مونـدلی نشـی
پـه هـر دم عبـدالقادر هسـی پيـالی چښـی　　چـه يـو ګـوت ئـی کاينـات زغملـی نشـی

## دوهمه نمونه

محبـت پـه تـور پـه سـپين راغلـی نـه دی　　پـه اصـيل او پـه کمـين راغلـی نـه دی
عشـق عطـا ده ازلـی چـه پـه چـا وشـی　　پـه ارشـاد او پـه تلقـين راغلـی نـه دی
بيهـوده پـه عشـق کښـې خواسـت کـوی د صـبر　　د دی خواسـت هـر ګـز آمـين راغلـی نـه دی
پـه راتلـه ئـې ښايسـته د څمکـی مـخ شـه　　پـه دا شـان ځـوك پـه زمـين راغلـی نـه دی

پـه دکـان د عطـار هـومره خلـق پنـډوی
خـو پـه زلفـو عنبـرين راغلـی نـه دی

## دريمه نمونه

مخ دی لکه نمر دی تر نسبت ئی نمر مثال دی　　ځـوك بـه وائـی هسـی چـه نمر ستا د مـخ مثال دی
سـخت دی پـه سـړی بانـدی نيژدی ېلتـون تر لـری　　يـار چـه ليـده نشـی تـر دکـن لـری دېـوا ل دی
وائـی چـه وبـا ل دی چـه نظـر کـا وښـه مـخ تـه　　مـا پـه دواړو سـترګو قبـول کـړی دا وبـال دی
حسن يـو اثـر دی چـه پـه مـخ کښـې د چـا وشـی　　نـه چـه کـړه وړه ښـه لـری هغـه صاحب جمـال دی
څـه برکـت نـاك دی د عشـق خـم ورتـه حيـران يـم　　ځـوخلق پـری مسـت شـوه دی لا هسـې مالا مـال دی
هـر چـه سـوختګان دی پـه خـاطر بـه ئـی لګيـږی　　اور مـی د ټهـر چـه سـر وهلـی تـر مقـال دی
زړه لـری بـډای عبـدالقادر تـر بادشـاهانو　　څـه شـو کـه پـه کـور کښـې دنيـا نلـری کنګـال دی

## څلورمه نمونه

زړه مـدام راتـه ويـل کانـدی چـه ژاړه　　پـه ژړا ژړا بېـل شـوی مـين غـواړه
پـه طلـب ئـې د دنيـا ودانـی پرېـږده　　لېونيـو غونـدی ګـرزه پـه ويجـاړه
مسـلی دبـی ننګـی ورپسـی لنـګ کـړه　　د نـاموس پـروا هـېڅ مکـړه وئـی نغـاړه
د مکـی څنځير دې نـور نيسـی پـه لاس کښـې　　مـانيولی دی د يـار زلفينـی دواړه
پـه خـواری مونـده شـی کـام لـه ډېر زړونـو　　پـه محنـت سـره سـره زرخېـږی لـه کـاړه
تـل ديـار پـه مينـه مسـت عبـدالقادر دی　　کـه نـور مسـت وی لـه شـرابه يـا لتـاړه

## پنځمه نمونه

د مېړونـو هغـه شـته چـه د تـا نشـته　　مـه وايـه چـه زمـا نشـته د چـا نشـته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر ګو ربه څه باور وربانـدی کانـدی | کـه ړانـده نـاری وهـی چـه رڼـا نشـته
د سبا پـه حـال غـوټی د نوبهار زده | د خـزان وهلـی وائـی سـبا نشـته
ستا پـه بـوی چه همګی ړانـده بینا شـول | سـتا لـه بویـه بـی یعقوبـه اشـنا نشـته
وائـی خـار و خـس جـار وکـړه چـه زه درشـم | خـار و خـس خـو بـه هـم زه یـم بـی مـا نشـته
هـر سـحر سترګی د ګـل پـه اوښـو ډکـی | پـدا بـاغ کښـې بـی ژړلـو خنـدا نشـته

شپږمه نمونه

دریغه نـور غمونـه لـري شـواي لـه دلـه | پکښـې غـم د خپـل اشـنا وی تـل تـر تلـه
شبنم وصل د ګـل بیا مونـده خمـوش شـو | تـری محرومـه شـوه چـه شـور کانـدی بلبلـه
نـه چه ژبه دی قلم شوه په مجلس کښـې | شـمع تـا چـه د خپـل سـوز قصـه ویلـه
عاشـق هـیڅ د عشـق لـه سـوزه خبـر نـه و | دا لمبـه پـری معشـوقی ولګـولـه
د فـانوس پـرده کښـې څـراغ کلـه پټیږی | کـه ئـې مـخ پـه پلوپـټ و مالیدلـه
پـه مـا تـم د پروانـه چـه ځـان ئـې وسـو | شـمع او پـر تنـدی بـل کـړ ګرزیدلـه
درسته شپه دي په ماتم عبدالقادر کـړ | نـه بـی غمـه پـه پالنـګ بانـدی څملـه

عبدالقادر خان پخپل شعر کښې تصوفی مضامین هم راوړی او داسی معلومیږی چه پدی خوا کښې هم ښه عمیق معلومات لری یا په بل عبارت د عارفانه سندرو او صوفیانه مزاج خاوند هم دی، دنیا ته هم په کم نظر ګوری او د زاهد په مقابل کښې د رندانو ملګری دی لکه چه وائي:

د زاهد شرب جدا د رند جدا دی | له ماهی به کله کار د سمندر شی

پدی بیت کښې چه دی کوم مثالونه د زاهد اورند دپاره راوړی معلومیږی چه دی دی دواړو ته په څه نظر ګوری او کوم لورته میل لری – د ده د تصوفی افکارو او صوفیت رنګ له دی شعره هم معلومیږی.

چـه وجـود د ذری شـته هـومره ذره ده | خـو چـه محـوه خپـل وجـود کانـدی افتـاب شـی
د هستی نـوم هغـه وخـت وربانـدی ښـائی | امیختـه چـه لـه محـیط سـره سـیلاب شـی
د عنصـر لـه چـار دیوالـه چـه راووزی | اروبـده لیـده ئـی واړه بـی حجـاب شـی
و هـر لـوری تـه چـه مـخ کـا نمونځ ئـې کیږی | چـه قبلـه ئـې دیـار مـخ وروځـی محـراب شـی
پـه ځنبـل د سـترګو ځـی تـر شـرق و غربـه | تـر نظـر د عارفـانو تلـه شـتاب شـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مهمندو دوره

## رحمان بابا او حميد

د ختکو دوره لا هماغسې په قوت کښې ده او د خوشحال شاعرى په هماغه پوخوالى د ده په زامنو او نمسيانو کښې ځان ښکاره کوى چه ناڅاپه د مهمندو په کورنۍ کښې د شعر او ادب دوه پاخه استاذان او امامان پيدا کيږى چه يو عبدالرحمن بابا او بل ماشوخيل حميد دى، د دوى شعر او شاعرى له پخوا وخته بل راز ايسى او هر يو د پښتو شعر ته نوى رنګ ورکوى، دا رنګونه د پښتو روستيو شاعرانو ته ډير ښه ښکاره کيږى او کوښښ کوى چه خپل شعر پرى رنګين او ښايسته کړى، يعنى څوك د يوه او څوك دبل شاګردى کوى – دا دوه نوموړى او پاخه شاعران په ټولو پښتنو کښې يو عام شهرت پيدا کوى، او لرې نژدې ټول پښتانه ورته په درنه سترګه ګورى.

داسې پښتون به نه وى چه دغه د شعر او ادب مشران به نه پيژنى او نه به ئې ستائى – په ډيرو ادبى محافلو کښې ګورو چه د دوى په شعر او شاعرۍ خبرى کيږى او هر څوك ورسره مخصوصه دلچسپي لرى ځکه چه دا دوه منلى استاذان لکه دوه غټ او روښانه ستورى وړاندې وروسته دنيا ته راغلى او هر يوه له ځانه سره نوى رڼا راوړې ده.

رحمان بابا د پټې خزانې په استناد په ۱۰۴۲ کښې يعنى تر خوشحال خان ختکه شل کاله وروسته زوکړى او تر ۱۱۱۸ پورى ئې ژوند يقينى دى – د حميد د زوکړې نېټه د پښتانه شعراؤ په وينا په ۱۱۰۰ کښې معلوميږى چه تر ۳۷ کلنۍ پورى ئې ژوند په يقين سره معلوم دى نو دوى دواړه د ختکو د شاعرۍ په عين شور و زور کښې پيدا شويدى او د دوى په مقابل کښې ختکو پياوړى شاعران درلودل، خوشحال خو خپله تر ۱۰۸۰ پورې ژوندى ښکاره کيږى او سړى ويلى شى چه د رحمان بابا د شاعرۍ ابتدا او د ده انتها به سره يو ځاى شوى وى، او که فرضاً د رحمان بابا شاعرى تر خوشحالخان وروسته شروع شوى وى نو په ختکو کښې خو لکه عبدالقادر خان او اشرف خان هجرى او داسې نور ښه ښه شاعران موجود و، او د خوشحال خان د کورنى روستى شاعر عليخان ختك چه تر ۱۱۱۸ پورى ئى د ژوند پته لګيږى د يوې ښې قريحې او قوى شاعرۍ خاوند دى او سړى ويلى شى چه د دغسى پياوړو او پخو شاعرانو په وخت کښې دغسى امتياز او شهرت پيدا کول لکه رحمان بابا او حميد چه ئې لرى څه آسانه کار نه دى – په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ډېر قوت په کار دی چه يو شاعر خپل ځان او خپل شعر عام او مشهور و مقبول کړی.

او روستنی شاعران لکه پير محمد کاکړ چه د خپل وخت ممتاز او پوخ شاعر دی د رحمان بابا شاعرۍ ته پداسې نظر وگوري چه د خوشحال تشبيه ورسره وکړي او و وائي:

هېڅ تر شعر د رحمان به ډېر کم نه وی ومنصف ته د ختِك خوشحالخان شعر

دا معلومه ده چه هر څوك چه يو شی له بل سره مشابه کوی نو هغه بل ئی په نظر کښې زيات ښکاری او ښه ورته ايسی- هر کله چه دلته د خټکو او مهمندو د شاعرۍ مقايسه او موازنه مطلب نه دی نو له دی خبرې تيرېږو او د مهمندو د دغو دوو مشهورو شاعرانو د شعر او شاعرۍ رنگ په لاندينی ډول لږ او ډېر ښيو:

د دوی د شاعرانه فيضان او سپېڅلی نور څخه دېر تياره کورونه رڼا شوي او ډېرو ځايو ته ئې سپينې پلوشې رسېدلي دي.

د دوی ادبی مکتبونه تر اوسه پورې داسې جاری دی چه د تعطيل ورځې او جمعه يا پنجشنبه پکښې هېڅکله نه وی. د دوی د شاعرۍ دوه لوی بحرونه که څه هم څنګ په څنګ او يو ځای بهېږی مگر بيا هم يو غيبی برزخ د دواړو تر مينځ شته چه يو له بله ئې په هر څه کښې بېلوی او هر څوك ئې فرق کولی شي.

د دوی د ادبی ګلزارونو رنګ و بوی له وراَمعلوم دی او د سريندو اوازونه ئې هم په ښه شان پېژندل کېږی خو دا پېژندنه د ټولو په نظر کښې يو راز نه ده او هر څوك ئې يو شان نه وينی، دا يو خوب دی چه هر سړی ئې بېل بېل تعبير کوی او ډېرې خواوې لری، سړی چه د ننګرهار او سپين غره ادبی فضا او افق ته ګوری لکه قوس و قزح څو ډوله رنګونه ئې تر سترګو کېږی چه رحمان او حميد پکښې ځان ښکاره کوی مګر دا رنګونه سره له دې چه ښکاره امتياز لری بيا هم يو له بله سره ګډ شوی او تداخل پکښې راغلی دی. دی رنګونو بريد اوسيمه معلومول يا د دې جغرافيې ليکل څه اسانه کار نه دی.

زه به کوښښ وکړم چه د دوی د شعر او ادب نوعيت څه نه څه وښيم مګر زما د اټکل ټال به هم لکه د بوډۍ ټال داسی وی چه يوه هوائی ننداره به بلل کېږی ځکه چه دلته ډېر داسی شيان مخی ته راځی چه زه ئې خوند څکم مګر تفصيل ئې نشم کولی.

سړی په ډېرو خوړو او خوندورو شيانو ژبه ټکوی او خواږه يا ښه ورته وائی مګر هر څوك پوهېږی چه ټول خواږه او خوندور شيان يو راز نه دی.

ډېرو شيانو ته سړی سپين يا تور وائی مګر څنګه چه سپين او تور يو له بله فرق لری همدغه راز هر يو پخپل کور کښې هم درجې او مراتب لری چه تفاوت ئې ثابت او محقق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی نو زما تبصره به هر ګوره د يوې نقشې مثال لری چه لوی لوی غرونه او ډك ډك سيندونه به پکښې لکه خطوط داسې ښکاری او يو اجمالی لوری لودن به سړی ته ښئ مګر لوړې ژورې به ئې څوك نه وينی او نه به پکښې د هيوادونو بهار او خزان معلومېږی خو دا به ټول زما نقصان نه وی د موضوع تقاضا به هم پکښې دخل لری.

سړی چه يوی عمومی هنګامې ته غوږ ونيسی يا د دوی دواړو ديوانونو ته له وراګوری داسې معلومېږی لکه چه رحمان بابا يو اخلاقی او لارښوونکی شاعر وی چه خلقو ته د شعر په شپېلۍ او د عشق په نغمه کښې د ژوندانه سمه لار ښئ او د بلبلو په ژبه حکيمانه خبری کوی مګر حميد د ښکلو او نازولو شنو خالو، تورو سترګو، خط و کاکل ته هر ساعت سترګکونه وهی او لکه پتنګ په سوزېدونکی شمع ځان جليا کوی. رحمان بابا زيات ميل عشق پرستۍ ته لری او حميد د حسن پرستۍ بيرغ هسك کړېدی – دی وائی:

د حميد زندګاني د يار په مخ ده    ناقصان به ئې ژوندی بولی په سا

مګر رحمان بابا عشق او مينه هغه څه بولی چه بايد خپل ژوند هم ورځنې ځار کړی. ځينی کسان د رحمان بابا او حميد ادبی مکتبونه پدی راز بېلوی چه حميد د نازکخيالی استاد ګڼی او رحمان ته د ساده او خوږی انشا حق ورکوی، يا هغه د جمال اودی د معنی منادی ګڼی، زه دا منم چه د رحمان بابا د عشق قبله له مادی حسن څخه پورته ده او يوازې ښايست يا تش ښکليتوب د ده مخه نه ده بنده کړی بلکه دی له دی ښايسته او رنګينو پردو هغه خوا هم ځينې تجليات ګوری او د مينی په صافه هنداره کښې ماورا له حسنه نور شيان هم وينی – د ده عشق او محبت د حسن او سينګار مولود نه دی بلکه د ده په نزد حسن د عشق په اعتبار نامه چلېږی او په همدغه سکه قدر پيدا کوی.

لکه چه پدې بيتونو کښې دا مطلب په ښه شان څرګندوی:

نار د عشق پرورش مې له عشقه    هسې نه چه د خوبانو په سينګار شی
هيڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی    د عاشق خاطر پخپله مينه ښاد دی
حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دی    معشوقه که وی جوړې که ښاپېرۍ
عشق دی دا چه معشوقه شوو عاشق ته    ښه رخسار د مهرويانو په اسلوب

مګر د دې خبرې معنی دا نه ده چه د رحمان بابا شعر کښې غزلی آهنګ او شعری جاذبه له چا نه کمه ده يا دا چه ده د حسن او ښايست ننداره نده کړی او د نازکيخالۍ برخه ئې لږه ده. همدارنګه حميد هم يوازی د تش خيال خاوند نه دی بلکه د ننګ و نام

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره طرفدار او د تن اسانۍ دښمن هم دی – د درس او مکتب دروازی ته ئې هم هلکان را بللی او د یتیمانو اوښکی ئې هم پخپلو لستوڼو پاکی کړیدی، د عشق او مینی دپاره ئی هر راز ذلت ته سر نېولی مګر د طمع ځنځیر ئی په غاړه نه دی پری اېښی(۱)[1] د چا مغلواله ئې کله نه ده تېره کړی مګر هېڅ کله ئې له خدایه داسی دروندوالی هم نه دی غوښتی چه په چا باندی بار شی(۲)[2] زه اوس دلته په دی مقاله کښې د دی دواړو نومورو شاعرانو په شعر باندی هغه شان تبصره نشم کولی چه د موضوع حق پوره ادا شی او ټول خصوصیات ئې وښودل شی مګر څه نه څه به ځینو ټکو ته اشاره وکړم چه د دوی د کلام د افادې ډول او هغه کیف چه د دوی په شعر کښې لیدل کېږی تر یوه حده وښودل شی.

لکه چه رحمان بابا پخپله شاعرۍ کښې له عشق او مینی ډېر متاثر دی او هر هر ځای دغه مضمون په راز راز پیرایو کښې ادا کوی، حمید هم د محبت سوز وګداز ناقراره کړی او په متعددو ځایو کښې له عشق نه فریادونه کوی، یعنی یو د عشق ستاینه کوی او اعلی مرتبه ئې بولی او بل ئې اسمانی تندر او توره بلا ګڼی یا ورځنی په سرو لمبو او غم باندی تعبیرونه کوی چه دغه دی دلته ئې نمونی ښیو.

رحمان بابا او عشق:

| | |
|---|---|
| دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی | د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا |
| تر عشق غوره بل څه کار په جهان نشته | تر همه کارونو غوره کار دی دا |
| که اعلی مرتبه غواړې عاشقی ده | نور همه واړه ادنی دی ادنی مشی |
| څو د عشق په خمخانه ئې داخل نکړم | پخته نه دی دغه عقل خام زما |
| عاشقان په عشق کښې واړه سلطانان دی | پدې شهر کښې نیستګار او ناتوان نشته |
| عشق یو داد دی په عشق باندی له خدایه | هسی نه چه یائی پیری یا ئی پلوری |
| عشق عاشق لره یو هسی پیر استاد دی | چه به نه وی بل دا هسی پیر استاد |
| د رحمان په عاشقۍ کښې سترګی وشوې | څوك چه وائې عاشق ړوند دی هغه خوار شه |
| عشق د نفس له خاصیته منزه دی | کار د سترګو به څوك څه رنګ په دهان کا |
| و آسمان ته لاس د عقل نه رسیږی | دا خو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی |
| بی د عشقه که مې عیب که مې هنر دی | ما غوځ کړیدی له ځانه بل پیوند |
| مرتبه که د عشق شی ورته څرګنده | ملایك به واړه وائې چه بشر وای |

حمید او عشق:

[1] نور قیدونه واړه سهل دی حمیده          خو په غاړه دې د طمع ځنځیر مشه

[2] د خسرۍ په څېر سپك ښه یم بی قدره          خدای مې مکړه هسی دروند چه په چا بار شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه نازل شو د عشق تندر له اسمانه　　ما حمید د غم لایق ورته لاس ونیو
ما هم زده چه عاشقی توره بلا ده　　باری تېرله دی تدبیره کړم تقدیر
چه د عشق په غم اباد یم ډېره شوی　　نور مې هېڅ کله ښادی د وجود نشته
په ځوانۍ د عشق غمونو حمید زوړ کړ　　بی مدې ئې ږیره سپینه شوه ملاغبرګه
کامیابی په عشق کښې نشته زړه چول دی　　هر نفس په تشه تشه تمنا
رستمان د صبر زهد ستا په عشق کښې　　نخول شی در په در لکه بیزو
عاشقی به ئې آخر تر ښې سپك کړی　　که وی دروند تر کوه قافه تول د چا
د عشق بار چه اسمان ځمکی ساهه نشو　　تا په کوم قوت ساهه کوتاه اندیشه
لکه لوبی هلکان په لیونو کا　　عشق می هسی مسخره کړ عقل و هوش
هر ساعت لکه خلیل په عاشقی کښې　　تماشه کړم د ګلزار په سرو لمبو کښې
هسې زه د ځان په غوښو عشق اخته کړم　　لکه نا خبری له ځانه د پمن لاس
عشق د بوری د بدنامی کار راوکړ　　لاس په خوله ایښی ژړا کړم شب و روز
په راستۍ می د خپل عشق هسی باور دی　　چه همدم به یم له ښکلو پس له مرګه
څه فساد وستا په خاورو کښې حمیده　　چه د مینی په کیمیا هم سره زر نشوه
څه کیمیا د عاشقۍ په لاس درکړی　　چه دی وینم په خواری کښې مغرور هسې
یا د ښکلیو د پاولیو شرنګهار دی　　یا د عشق د لېونیو د ځنځیر
هنګامه د مینی ګرمه ده ترحسنه　　د مجنون د درګدا شه لیلی مشه
د حمید زندګانی د یار په مخ ده　　ناقصان به ئې ژوندی بولی په ساه

د دی څو بیتو څخه ښائي چه د رحمان بابا او حمید د عشق رنګ او ډول څه نه څه څرګند شوی وی او دا معلومه شوی وی چه دواړه د شعر په محفل کښې د عشق سرینده غږوی مګر هغه پکښې د خوشحالی اودی پکښې د غم سندرې وائي – دی د عشق او مینی مرور اشنا او هغه پخلا معلومېږی یعنی د هغه د خوشبینی جنبه قوی ده او د ده د شکایت هنګامه ډېره زوروره ده.

دا فیصله د یوه عمومی نظر نتیجه ده که څوك د دوی دواړو یو یو بیت له نظر لاندی ونیسی ښائي چه د رحمان بابا په اشعارو کښې هم د شکایت یو نیم بیت پیدا کړی لکه:

اشنائی توره بلا ده اشنا مشی　　جدائی به دی فنا کړی فنا مشی

او د حمید په دیوان کښې هم ځینی بیتونه ومومی چه د عشق ستاینه او کیمیا توب ورځنی څرګند شی مګر په عمومی صورت همدغه راز ایسی لکه چه اشاره ورته وشوه.

څه شی چه د حمید په شاعرۍ کښې ډېر زیات ترسترګو کېږی هغه د خط کلمه ده چه اصلاً د فارسی ادب مهم عنصر دی او هلته په راز راز پیرایو کښې ادا شوېده مګر حمید

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د پښتو ادب خصوصیت ته نه دی کتلی او دا پردی مضمون ئې پخپلو اشعارو کښې دومره اړولی را اړولی دی چه د ده د شاعریت مهم غړی ورته ویلی شو او دلته ئی ځینې نمونې ښیو:

منت بار دې یم د ږیری د آغاز
چه ئې کم کړ ستا حسن کبر و ناز

په نو خطو پسې تللی زړه موند نشی
هغه ورك شو چه په شپه داور په سوی لاړ

چه مې ولیده په مخ د دل ارام خط
بیا مونده له ازادی نه ما غلام خط

د اشنا د مخ د خط هیبت می وخوړ
چه مې ولید په شرابو کښې د جام خط

د بهار او ریځی نه وی بی بارانه
په رښتیا کا د بوسی زیری پیغام خط

د مقصود د رمې ونه لیده تیاره شوه
صبحدم د یار د مخ کړ راته شام خط

د خط خیال مې له سره تلونی نه دی
که سایه پری د هما شی برابره

چه مشغول دا ستا د مخ په خال وخط شوم
مشغولا را څخه پاته د کتاب شوه

ځکه زه کوم اسره د یارو خط ته
روانیږی مشکل متن په حاشو

هومره ښه دې خال و خط راسره وکړه
چه راوې ایستم له اوره په اغزو

زر په زر به ئې سیاهی د خط پښیمان کا
دا د مخ په روښنائی باندی مغرور

خدایه خط د یار له مخه لرې لری
په اسلام باندی برمشه لاس د کفر

هغه مخ چه مې کعبه وه د دوه سترګو
مسلط که باندی خط مو اس د کفر

لا که مخ له خال و خط آب و تاب ډیر
ولی تاب وی دا وریځی د افتاب ډیر

د تور خط لیکه ئې ګډه په سپین مخ شوه
تور او سپین زما د سترګو شو پدا ګډ

دارموز کا د یار خط په ماته ژبه
چه خوږه کړه نن ساعت هر چا ته ژبه

د اشنا له خال و خطه معلومیږی
چه حمید به مسافر د هندوستان شی

لګی لا د خط په وخت د یار عتاب سخت
وی د شپې باد و باران سیل وسیلاب سخت

د نو خطو درشتی زما اشتی ده
په اغزن بوټی ارام کا عندلیب زما

څه به خوب کوم د یار د خط له غمه
چه اغزی مې په لیمو کښې غړوی

هسی شپه د یار د خط را باندی راغله
چه هرګز به تر قیامته سحر نشی

خال و خط ئې هسې چارې په مخ وکړی
لکه ګل شی پښو لاندی دهاتیانو

سپیلنی غوندی په اور د نو خط حسن
سر تر پایه سره لمبه شم شنه لوخړه

دائې خط نشو نما کاندی له مخه
که نری نری لوګی ځی له چراغه

خط په مخ د صنم راغی که میاشت ګیر شوه په هاله کښې
وائې غلبن په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې

له دغو څو بیتو څخه دومره پته لګیږي چه حمید د فارسی شاعری له تاثیر لاندې ډیر زیات راغلی دی او دپښتو د شاعری خصوصیت ئې لږ څه بایللی دی د همدې لامله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې ځایونه ئې تخیل هم فارسی رنګ لری او ځینې فارسی مصطلحات ئې هم په کلام کښې لیدل کېږی چه یو څو نمونې ئې دا دي:

که حمید د زنخدان له غمه ژاړی — په کوهی کښې اویزان دی نه دی ګرم
که مې تا د مرګ سلا نه ده ورکړی — زنخدان دی راته کینی ګور په څه
چه ئې ستا د تنګی خولی تصور واخست — په دی فکر کښې غنچه شوه په زړه تنګه
دا زما په سرو قد د قد له شرمه — فلك ودرېده سرکوزی خمیده
چه خندا دی کیند کوهیۍ په زنخدان کښې — ما هاله پکښې لیده خپل پرېواته
وایم پرېوتم وسل ګزو کوهی ته — چه په یاد راته د ښکلو زنخدان شی
چه دا ستا چاه زنخ ته نه رسېږی — د کم عمر رسن څه کوم بی تا

دلته باید څوك دا ګمان ونکړي چه زه د ده هر بیت چه نازك خیالی پکښې وی د فارسی ادب اغیزه بولم یا دا وایم چه په پښتو اشعارو کښې بیخی تخیل نشته او نازکخیالی پکښې نه ځائېږی – زه به تاسی ته د پښتو په عام ادب او لنډیو کښې هم نازکخیالی وښیم چه څوك ورته د فارسی اغیزه ونشی ویلی او د پښتو خپل مال ئې وبولي لکه:

په ګودر سور سالو ښکاره شو — ما وی دې تورو اوبو اور واخست مینه

حمید هم ځینې بیتونه لری چه هغه د ده خپل تخیل دی او پر دی رنګ نلری لکه دا بیتونه:

لکه سر د پسه په اورغاښونه سپین کا — هسی ما لره له غمه خندا راغله
د اشنا د منګوری زلفو په خیال کښې — موی په موی رابانــدی زهر د منګورځی

زما مقصد له فارسی تخیل څخه هغه تخیل دی چه په فارسی ادب کښې ئې د ضرب المثل حیث پیدا کړی دی او د فارسی د ټولو شاعرانو مشترك مال ګرزېدلی دی لکه د حمید پدی بیت کښې ئې چه ګورو:

د هوسیۍ په ښکر برات زما د مطلب شو — هوسیۍ زه نشم نیوی د پښو په دو

دلته که څه هم د فارسی دا مخصوص مضمون (برات عاشقان بر شاخ آهو) ډېر ښه ادا شویدی ځکه چه پدی ځای کښې دا مضمون یو مخصوص لطف هم لری چه (برات نامی د حمید محبوب او معشوق هم و، او په همدغه سبب پکښې یوه ښه تلمیح هم شته مګر بیا هم د یوه پښتانه شاعر د ستاینې موجب نشی کیدی او د حمید دپاره ئې عیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولو که څه هم د نورو دپاره حسن دی. حمید په همدغه سبب چه فارسي ادب لږ څه د ده د خولې خوند بل راز کړی دی ځینې داسې بیتونه ئې خولې ته ورغلي دی چه هغه د پښتو د عمومي صفت منافي بلل کیږی او د نورو پښتنو شاعرانو په کلام کښې دومره ډېر نه لیدل کیږی لکه دا څو بیتونه:

بیهوده مې ځان شمېره د یار له پیسو
چه لایق په دغه شمار کښې نه وه نشو
دا خطاب د پادشاهۍ د سلطانۍ دی
چه یار وبولی حمید د اسپی په اسم
د حمید په خبر به ځان د ښکلو پسې کړی
که څوك بیا مومی د عشق کمینه فیض
په سرو کښې به ځان هومره حساب نکړم
څو حساب نشم د یار د دربه سپیو کښې
ستا د در د سپیو قدر مې بیا نه موند
که هر څو مې درته ځان کړ کمینه
چه سپی توب د عاشقۍ راځخه نه ځی
ځکه شم باله شاړه په تو په چخه
دا سپی توب دی زما خوښ ترسریتوبه
که په مینه کښې هر څوسری سپی کېږی

برسېره پدی چه فارسي ذوق د ده په دیوان کښې دغه راز د عزت النفس منافي بیتونه پیدا کړی دی ځینې داسې بیتونه ئې هم د ده له قریحې زیږولی دی چه لکه د فارسي ځینې تخیلي بیتونه له واقعیت او حقیقت څخه ډېر لری وی چه دغه راز بیتونه د پښتو په ادب کښې بل راز ایسی او د پښتو په ذوق هم چندان ښه نه لګی وګورئ حمید په یوه ځای کښې وائي:

زلزله د یار د خط د راتلو ګوره
نروی مې په تندی آسمان د مشکو
چه اوریځ د یار د خط په خاطر راشی
اوروی مې ترلیمو باران د مشکو

دا بیتونه علاوه پر دی چه د وقوعیت په لحاظ پری اعتراض کیدی شي د شعری تناسب په اعتبار هم د انتقاد وړ دی ځکه چه د مشکو اسمان د خط زلزله او بیا هغه مفهوم چه دی ئې له دی دوو مصروعو څخه اخلي څو رازه نواقص لری، همدارنګه د اوښکو باران ته د مشکو باران ویل هم یوه نوی خبره ده ...
په یوه بل ځای کښې وائي:

خال و خط ئې هسی چاری په مخ وکړی
لکه ګل شي پښو لاندې د هاتیانو

دلته که خط د هاتی مثال پیدا کړی شي او مخ لکه ګل د دغه تور هاتی له پښو لاندی وګڼو نو د یوې بعیدی تشبیه په سبب څه اړخ ورسره لګوی مګر خال ته هېڅکله دا نشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلی ځکه چه هغه لا د مخ ښایست او ښه ښکاره کیدو سبب ګرزی نو خال پدی بیت کښې خوشی په خوشی د خط په ډب کښې ولاړ دغه راز شیان نور هم له فارسی نه پښتو ته راغلی دی چه د حمید په اشعارو کښې له رحمان بابا او نورو شاعرانو څخه زیات تر ستر ګو کېږی.

رحمان بابا هم یو نیم ځای خط یاد کړیدی او د فارسی ادب اغیزه ئې په کلام کښې په هغه اندازه چه ګډون او اجتماع تقاضا کوی لیدل کېږی مګر د حمید پکښې کوډی ولاړی دی او د ده د نازکخیالۍ بوده یا تنسته ئې بللی شو.

د حمید ډېر بیتونه مو د خط په باب کښې واورېدل اوس د رحمان بابا یو بیت هم واورئ:

په رخسار چه دي د خط غبار څرګند شو　　　سربلنده شوه فرقه د خاکسارانو

که مو په یاد وی حمید هم دغسی یو بیت لری چه د مضمون په لحاظ همدغه بیت ته ډېر نږدی دی خو شاعریت ئې کمزوری دی ځکه چه هغه ښکاره او په ډانګ پیلی خپل معشوق ته وائي:

منت بار دې یم د ږیری د آغاز　　　چه ئې کم کړ ستا د حسن کبر و ناز

مګر رحمان بابا په هغه ژبه چه د شعر او ادب تقاضا ده همدغه مطلب ادا کوی او یوازی د حسن او ناز کمېدل لا څه چه د محبوب خاکسارۍ ته هم یو شاعرانه اشارت کوی او په مقابل کښې ئې خپله سربلندی ښئ مګر خپل مناسبت ورسره په ښه شان ساتی او په عین حال کښې د خط تشبیه له غبار سره او بیا د خاکسارۍ مفهوم پکښې پیدا کول پوره شعری کیف لري.

په یوه بل ځای کښې هم د رحمان بابا خط و خال ته پدی راز ګوری:

ستا د مخ په ورق باندی خط و خال دی　　　د مصحف په صحیفو باندی اعراب

پدی بیت کښې د خط و خال تشبیه د مصحف له اعرابونو سره شوېده او پخپله مخ لکه د مصحف پاڼه ګڼل شوېده مګر حمید پخپل یوه بیت کښې ورته د کتاب د حاشو نسبت کوی او وائي:

ځکه زه کوم اسره د یار و خط ته　　　روانیږی مشکل متن په حاشو

پدی کښې هیڅ شك نشته چه حمید هم پدې ځای کښې د رحمان بابا مطلب ادا کړیدی خو هغه کیف او لطف چه د مصحف او اعراب په کلمه کښې مومو په متن او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاشیو کښې ئې نه وینو ځکه چه د مخ تشبیه له مصحف سره نسبت متن ته زیات مناسبت لرې او یوه ښه تخیل هم سږی ته پیدا کوی همدارنګه کله کله رحمان بابا چاه زنخدان هم یاد کړیدی لکه:

خوند د لبو او د چاه زنخدان ئې — راشه ګوره زمزم دا دی کوثر دا دی

مګر حمید ورځنی سل ګزه کوهی جوړ کړی او خپل قبر ئې هم پکښې لیدلی دی.
سږی چه د رحمان بابا او حمید شاعرۍ ته ښه ځیر شی داسی معلومیږی چه حمید کله کله په پخپلو مضامینو او سخرو غوټو کښې هم شعر او شاعری لټوی مګر رحمان بابا یوازی په ساده بیان کښې شعری سحر پیدا کړیدی او هېڅکله داسی نه کوی چه د خط له وریځی څخه د مشکو بارانونه و اوروی یا د خط د زلزلی په اثر کښې د مشکو اسمان و نړوی – له خط نه هاتیان هم کله نه جوړوی او د هوسی په ښکر براتونه هم نه لیکی مګر حمید اسمان ته د شعر ځینه ایښی ده(۱)[3] او همدومره پاته دی چه د غم له زنګانه سر راپورته کړی او پورته ورخېژی خو زما په ګمان چه همدغسی مغموم ورختلی دی او د فلك په مانی کښې ئې هم د غم اورونه بل کړیدی لکه چه پخپله وائې:

چه بلېږی پکښې اور زما د آه — څه به نه وی د فلك مانۍ سیاه

د همدی لامله خپل اشنا ته هم له پاسه دا راز پیغام استوي:

سر ټروني نوې میاشت تر سر جار باسی — د هر ښکلی درد په سر دی ستا له درده

هغه وخت چه د خپل صنم په مخ د خط لیکه شاوخوا ګوری نو هم سمدلاسه وائې:

خط په مخ د صنم راغی که میاشت ګیر شوه په هاله کښې — دائې غابن په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې

د اسمان شفق هم د خپل زخمی زړګی د سمال بولی چه په همدغه اسمانی سیر کښې ورڅخه لوېدلی او هلته پاته شویدی لکه چه پخپله وائې:

ناخبره خلق ئې ولی شفق بولی — دا زما د زړه له زخم د سمال پرېووت

نو څنګه چه په فارسی کښې بیدل پخپله شاعرۍ کښې په یو سخته لاره روان دی چه غرونه او پېچو مې پکښې زښت ډېر دي حمید هم کله کله په لوړو مضمونو پسی د اسمان په څنډوګرزی او له عامې سطحې ډېر ډېر پورته کېږی مګر رحمان بابا پخپله مسله ناست

---

(۱)و اسمان ته به د شعر ځینی کښیږدی
که حمید د غم له سره زنګون وکیښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د اسمان راڼه ستوری ئې په لمن کښې لکه مرغلري را توئېږی: دی ورځنی د لويو او وړو دپاره ښايسته اميلونه جوړوی او د خپلو نمسيانو په غاړه کښې ئې اچوی.

نو د حميد د شاعرۍ زور او قوت اغلباً په تکلفی او پېچيده مضامينو کښې ګورو او زياته پهلوانی ئی هم په همدغه تشبيهاتو او استعاراتو کښې وينو مګر د رحمان بابا په شعر کښې يو بل راز کيف ممو چه هغه د ده په ساده انشا کښې د شعر پرښتو اغږلی دی او په هېڅ راز تکلف نه دی بنا – د همدی لامله کله سړی د ده په ځينی اشعارو کښې يو ډول خوند او خوږوالی څکی چه هلته د تشبيه يا استعاری غازه هېڅ نه ليدل کېږی او څه تخيل هم پکښې نه وی لکه پدی بيتو کښې:

که يو ځله مې دی زلف په لاس کښېوزی
يو ويښته به دی په درست جهان ورنکړم

څو دی ونه وينم سترګی که خدای کاندی
عزرائيل لره به هومره ځان ورنکړم

په رحمان باندی د لبو مې حرام دی
څو د خپلو وينو جام تاوان ورنکړم

د رحمان بابا په ديوان کښې دغه راز ډېر بيتونه موندلی شو چه لکه اصلي مرغلي له ځانه يوه اصلی رڼا لری او د خپل ساده جوهر په لحاظ هر چا ته ښکلی او ښايسته ښکاری وګورئ! دا بيت:

څه اثر به ئې د عقل وی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېنی ښاپيری

خومره ساده کيف لری چه هېڅکله ئې سړی په يوه تکلفی او پېچيده مضمون کښې نه مومی.

څوك چه د رحمان بابا په ديوان کښې مطالعه لری هغه به دا ومنی چه د ده ساده انشا يو دا راز خوند او کيف لری چه هغه هېڅکله په مصنوعی اشعارو او شعری صنايو کښې نشو موندلی دا اقتدار خدای يوازی رحمان بابا ته ورکړی دی چه ډېر پېچيده او ګران مضمونونه دومره ساده او اسانه کړی چه خاص و عام هر څوك پری وپوهېږی او خوند ورځنی واخلی – دی ډېر ځله په يوه غزل کښې د عشق مرموز کيفيتونه، د ژوندانه پټه فلسفه او شاعرانه نازك خيالات داسې يو ځای کوی چه يو ډېر ساده او روان خوندور شعر ورځنی جوړيږی.

د نمونی په ډول ئی دا څو بيتونه وګورئ:

که په ګنج د شهاهۍ فخر شهريار کا
عاشقان ئې د دلبرو په رخسار کا

خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی
هغه حظ چه په دنيا کښې دنيا دا کار

پتنګانو لره خدای ورکړ په اور کښې
هغه عيش چه ئې بلبلی په ګلزار کا

يار د ناز له خوبه پاځی پسی ګرزی
چه فلك د عاشقانو بخت بيدار کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمه شپه ئې یار تر سره پوری کښېني | لکه شمع چه څوك بله په مزار کا
د مستۍ د هوښیاری یون ښه څرګندوی | په هر چا کښې چه څه وی هسې رفتار کا
د بلبلو نغمه زاغ کولی نشي | هر سرود اواز په طور د خپل تار کا

د حمید د شاعرۍ رنګ به هم د ده له اشعارو څخه څه نه څه معلوم شوی وی چه دا د عشق او مینې په لمبو سوی او ستی شاعر یی له سوز او ګدازه نور څه نه خوښوی او بل راز ژوندون هېڅکله له خدایه نه غواړی د همدی لامله د خپل دیوان شروع په دی ډول کوی:

الهی د محبت سوز و ګداز را | په دا اور کښې د سهی سمندر ساز را
تن پرور بلبل دی عیش کاندی پر ګلو | پروانه لره په اور زما ګداز را

څنګه چه دی د خپل دیوان په آغاز کښې خپله خط مشی ښیئ او له لویه خدایه د یوه سوزان عشق آرزو کوی تر آخره پوری د ده په زړه کښې دا لمبه نه سړېږی او هر هر ځای همداغه سوال کوی:

چه دی نوم په غوږو واروم سره لمبه شم | هومره سوز را کښې پیدا کړی زما ربه

د همدې لامله په هر ځای کښې چه د مینې او عشق خبره یادېږی د ده په مخکښې سری لمبې جلوه کوی او د سوز ګداز منظری ئې سترګوته درېږی او په ډول ډول پیرایو کښې وائی:

له حجابه ئې جلوه هسې جمال کا | لکه سره لمبه چه خېژی له تنوره
زه د شمع په څېر اور په تندی بل کړم | ته د صبح په څېر خاندی له غروره
هر ساعت لکه خلیل په عاشقی کښې | تماشه کړم د ګلزار په سرو لمبو کښې
لکه موم سوز و ګداز مومی له اوره | هسې زه مومم له تا سوز و ګداز
شومی سوز لکه د شمع دل افروز | په ژړا مې څکه نه ځی د زړه سوز
هسې یم په درد و غم کښې د دلبر خوښ | لکه اوسی په سره اور کښې سمندر خوښ
همه عمر ولاړ ښه یم په سره اور کښې | نه بی یاره د شاهۍ په شر و شور کښې
سری لمبې ستی سهی په صورت باندی | سهېدی نشی بی یاره په پېغور کښې
چه څراغ د یار د مخ راته بل نه وی | زه په ګور کښې ګڼم خپل سر په دا کور کښې
د حمید د زړه رڼا په ښکلی مخ ده | په دا کور کښې نشته بله بله شمع

نو دغه سپېڅلی اور چه هر وخت د ده د زړه په کوه طور کښې بلېږی او د ده مخه رڼا کوی د هر راز ستایلو او نمانځلو حق لری ځکه چه همدغه اور د شعر او انسانی مینی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساه ده چه د انسان د زړه په فانوس کښې رڼا کوی او بشر ته د سعادت لورى او لاره ښئ– د ده له همدى اوړ څخه د شعر او شاعرۍ ډېرې ډېوې هرېخواته بلې شويدى او ډېرو خونو ته ئې رڼا رسېدلې ده.

دغه سوز و ګداز چه حميد ئې له خدايه غواړى او لکه پتنګ ورپسى شمع او ډېوې لټوى د انسان ازلى برخه ده او د انسانيت په دنيا کښې ډېر لوړ قيمت لرى.

دا جذبه بايد شاعران وروزى او دا هنګامه همدغسى ګرمه وساتى لکه چه حميد ساتلې ده ځکه چه شعر د همدغه احساس د ويښولو او پالنې دپاره دنيا ته راغلى دى او د زړونو اصلاح هم په همدغه دوا باندى کېږى – يو رښتيانى او فطرى شاعر بايد په دنيا کښې بې له مينى او حسن څخه بل حقيقت ته قايل نشى او نور څه ونه پېژنى لکه چه حميد وائى:

يا د ښکلو دپاوليو شرنګهار دى   يا د عشق د لېونيو د ځنځير

مګر پدى دواړو کښې هم د عشق او مينې حق مقدم ګڼي او په حسن باندې ډېره ترجيح ورکوى لکه چه په يوه بل ځاى کښې وائې:

هنګامه د مينى ګرمه ده تر حسنه   د مجنون د درګدا شه ليلى مشه

نو ويلى شو چه حميد د شعر او شاعرۍ په مقام کښې د يوه پاخه استاذ ځاى لرى ځکه چه ده د شعر اصلى او اساسى راز ډېر ښه پېژندلى دى او حق لرى چه د يوه نوى مکتب او سبك استاذ ورته ووايو.

وروسته تر دى لږى ډېرى معرفى اوس د دى دواړو منلو او مشهورو شاعرانو د شعر نمونې وګورئ:

<u>رحمان بابا</u>:

## لمړى نمونه

| | |
|---|---|
| بيـا دى نـوى شـراب څکلـى دى پـوهېږم | پـه رخسـار دې ګـل کرلـى دى پـوهېږم |
| کـه هـزار ځلـه لاس سـره کـړى پـه نکريـزو | تـا زمـا پـه وينـو وللـى دى پـوهېږم |
| معرکـه زمـا د مـرګ نـه ده نـو څـه ده | رقيبـان چـه دى بللـى دى پـوهېږم |
| څـه حاجـت دى چـه دى خـط پـه ملا لـولم | چـه زمـا پـه بـاب دى ښـکلى دى پـوهېږم |
| رقيبـان چـه دا تېـرى پـه رحمـان کانـدى | تـا پخـوا پـورى نيـولى دى پـوهېږم |

## دوهمه نمونه

| | |
|---|---|
| زه دا هسـې لېـونى او مجنـون چـا کـړم؟ | لـه رواج او لـه رسـومه بيـرون چـا کـړم؟ |
| نـه پـوهېږم چـه دا هسـې چـارى څـوك کـا؟ | ليـونى د خپـل نګـاه پـه افسـون چـا کـړم؟ |
| کـومې سـترګى کـوم بانـه کومـه غمـزه ده؟ | ډوب شـهيد غونـدى پـه خـاك او پـه خـون چـا کـړم؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

توان توفيق چه د فتنو را څخه نه ؤ — په فتنې د تورو سترګو مفتون چا کړم؟
رحمان هيڅ له خپله ځانه خبر نه يم — چه دا هسې رنګ زبون او محزون چا کړم

## دريمه نمونه

ستا د عشق حرفونو تور نه دی ګلګون دی — هم په دا چه نوشته په جګر خون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له ميو — چه ئې خاوری د فرهاد او د مجنون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لاله نه دی — چه په سره کفن له خاورو را بيرون دی
چه بهائې د ځلميو څخه نشته — جونه نه دی جوړ ګنجونه د قارون دی
بادشاهان به په يودم کښې ګدايان کا — ما ليدلی فسادونه د ګردون دی
د رحمان د زړه خوناب مګر قبول شه — چه مخونه د دلبرو پری ګلګون دی

## څلورمه نمونه

ستا د مينې ګوهر نشته په هر آب کښې — مګر بيا موند شی د اوښو په درياب کښې
که ته وينې زما پټې څکی دلبرې — رنګ د لبو دی ګواه دی پدا باب کښې
په هر ځای چه ستا د لبو نوم آغاز شی — د لاله ؤ باران اوری په حباب کښې
زه حيران دا ستا د وروځو د تور خال يم — کافر څه رنګه سجده کاندی محراب کښې
ګل له ډېری باريکۍ په شبنم خور شی — نازك زړونه بدوی په صاف جواب کښې
د بهار په ګلو اوری بارانونه — د څڅويکی طاقت نشته په حباب کښې

## پنځمه نمونه

زه د يار په دردو غم کښې شادمان يم — لکه ګل د پريشانۍ په وخت خندان يم
يو وينسته مې د صورت بې عشقه نه دی — څوکيدار پخپل نفس د خپل کاروان يم
د کاملې عقيدې له برکته — د دوهۍ په غاړه ناست شاه جهان يم
روښنائی مې په طلب کښې شوه حاصله — شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان يم
دلبرانو ته خاك تر تلې لاندې — د دې نور جهان په سر لکه اسمان يم
چه د يار په ديدن سر او مال شندمه — خلقو واوری زه هغه عبدالرحمن يم

## شپږمه نمونه

که مې څوك په فقيری شميری فقير يم — که مې څوك په اميری شميری امير يم
د دلبرو صدقی لره ئې غوارم — هسې نه چه په دنيا پسې زهير يم
هم پند اخلم هم پند وايمه هر چا ته — زه د ځينو يم مريد د ځينو پير يم
په هجران کښې د وصال خيال را سره وی — په زندان کښې له يوسف سره اسير يم
په خندا کښې مې ژړا ده لکه شمع — له عالم پټ پنهان د ځان په وير يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي تر دا په هور ته بله نشته | چه بندي د يار د زلفو په ځنځير يم
همیشه په غوړ ناری د هجران اورم | رحمٰن ځکه د خپل یار مخ ته په ځیر یم

<u>حمید ماشو خیل:</u>

## لمړی نمونه

له حیا دی آئینه په مخ کښې آب شوه | په فراق دی ګونه زیړه د افتاب شوه
ورځ په ورځ ئې روښنائی د مخ زیاتیږی | نوی میاشت چه دی روانه په رکاب شوه
چه ئې ګل دا ستا د مخ په ګریوان کښېښود | شګوفه د زړه په وینو کښې غرقاب شوه
بیا به ولګوی اور د چا په خونه | چه له قهره ئې سمن بشره ګلاب شوه
چه مشغول دا ستا د مخ په خال وخط شوم | څه عجب که د هغو سینه کباب شوه
ته چه توره تېروی د مخ پوهېږم | مقرره شهید ګی زما په باب شوه
ستا د غم له ډېرو اوښکو چه تل ژاړم | د حمید خونه په مخکښې د سیلاب شوه

## دوهمه نمونه

ارزومند د یاد درد و دوا مشه | بیګانه د خپلو مینځ لره رامشه
هنګامه د مینې ګرمه ده تر حسنه | د مجنون د درګدا شه لیلی مشه
که باڼو دی د نګار ټول تېره غشی | یو زما د زړه له نښی خطا مشه
که بلا په عشق کښې ډېری دی ناصحه | دا بلا واړه په ما شه په تا مشه
بی له غمه د عشق هر غم ضرر کاندی | څوك له خوا د آهو چشمو جدا مشه
هېڅ دی دم وربانـدی نه لګی ناصحه | دا حمید بلا وهلی ملا مشه

## دریمه نمونه

که په مینه کښې مې سر د دلارام ولاړ | د لکونو په سودا مې یو جدام ولاړ
چه مې ولید کفرستان د تورو زلفو | عقل و هوش مې له خاطره د اسلام ولاړ
څله نه ژاړم غنچې غوندی سرې سترګی | چه له غېږی مې وصال د ګل اندام ولاړ
چه مې نه مونده وصال د دلبرانو | وجنت وته مې فکر له ناکام ولاړ
چه مې زړه د ترکو وصل په سر غواړی | په سپوږمۍ پسې هلك سرته د بام ولاړ

## څلورمه نمونه

چه دی نکړم په نېکیو ننګ و نام لوړ | په دوه چومه دی د ختېو مشه بام لوړ
زیات و کم تر خپله قدره قدم ږده | د مرغه په اندازه غوړوه دام لوړ
د مجلس د اهل دلو لوئی مکړه | د قران په نزدیك نشی اخست ګام لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استغنا له خلقو نښه د کمال ده — د صاحب په خنګ کښې نه دری غلام لور
چه په پوزه ئې پېزوان نه وی د طمع — د هغو خلقو ګردن بويه مدام لور

## پنځمه نمونه

ځو به خوری پردی مالونه په ستم — يوه ورځ به دی په نس کښې شی اړم
د مظلوم د مال روټی خپله بوټی خوری — مشه هېڅ په دا خوراك خوښ و خرم
زمانی دی ډېر مزری هسی خوار کړی — چه وهلی اوس پيشو ته نشی دم
چېری نشی دهاتی تر پښو لاندې — په عاجز مچ و مېږی مه ږده قدم
د يوه تن اندامونه دی ښکه — لوی هلك بنی ادم په صورت سم
ته هم هېڅ له پرښتی زوکړی نه ئې — چه چارپای بولی دا نور بنی آدم
آدم زاد دی د يوی ونی ښاخونه — چېرته ته ښاخ د زعفران شوی نور شرشم
آئينه د زنګون ونيسی و مخ ته — پکښې وګوره احوال د جام جم
د انصاف وروښنائی وته را ووزه — پرېږده زيست د خود بينی په تور تم
که امسائی د موسی بولی وګوری — ښائی نن ساعت حميده ستا قلم

## شپږمه نمونه

ربه زړه د رقيب نرم په احسان کړی — دا هندو را باندې ځه خو مسلمان کړی
زما صبر تېره توره کړی په عشق کښې — رقيبان وربانديې غوڅ پخپل ګمان کړی
چه خاطر د آهو چشم پری وحشت خوری — هغه واړه ودانی زما دامان کړی
اور زما د دين دنيا په کور کړه پوری — خومی عذر په عزت د عشق مهمان کړی
چه روښان د يار د مخ په ډيوه نه وی — وران زما د زندګی خان ومان کړی
يا زمان د يار د وصل کړی رانوی — يامی عمر په هجران کښې يو زمان کړی

ګوره نن په ځير ځير مخ د يار حميده
چه سبا ورپسی لاس مړی ارمان کړی

## اومه نمونه

تول دي مشه په زرګونو زر و سيم — چه ته يو کو کوری خوری پکښې يا نيم
تش په توره لکه مار په پردو زرو — پيچ و تاب خوری بر ناحقه شوم لئيم
د هغه لستونی لاس يد بيضا وي — چه پري وچې کاندی اوښې د يتيم
دوست په دوست د دي دنيا که هسې چارې — چه يې نکه هيڅ غليم په بل غليم
تر نا داره دارنده سړی حريص دی — اور د خس په قدر زور که له قديم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــر گدايـــه ســـر درد د پادشـــاه ډيـــر دی | هغـــه غـــم كـــه د ګلـــيم دا د اقلـــيم
نفـس پـه بـدو درتـه پنـد كـه زه پـه نيكـو | د قــارون پــه نغوتــه ځــې كــه د كلــيم؟
ورانـدې ستا رضا نيكـي كړ كـه بـدي كـړی | دغــــه لار ده د جنــــت دا د جحــــيم

چـه غنچـه يـې د حميـد د خـاطر وا كـړه
پـرې لـه كـوم لـوری را والـوت دا نسـيم

وروسته تر دې چه د دې دوه نومورو شاعرانو د شعر او شاعری رنګ او ډول څه نه څه در معلوم شو اوس د دوی د شخصيت صبغه لږ څه څرګندوو.

<u>رحمان بابا څوك و؟:</u>

وائی چه د خيبر او تيرا له غرونو هغه خوا د پيښور په بادر كلي كښې يو پښتون فقير اوسېده چه خبرې ئې شعر او شعر ئې حكمت و. دا فقير د مهمندو د كورنۍ لوی افتخار د عبدالستار ځوی عبدالرحمن ؤ چه ټولو پښتنو په بابا توب ومانه او كوم نوم چه احمد شاه بابا په سلطنت كښې پيدا كړ ده په فقيرۍ او ملنګی كښې بيامونډ.

رحمان بابا هغه څوك ؤ چه د غفلت له خوبه د بلبلو په اذان را ويښ شو او د زړه مراقبه ئې د ګلو له غنچو او غوټيو زده كړه . دی هغه عارف قلندر و، چه د ريا خرقه ئې هېڅكله نه وه اغوستی او له كوړ پټكی لاندی به سم ګرزېده(۱)[4] په زړه كښې ئې د پاك خدای د مقدس عشق لمبی بلی وی او له ژبی ئې سوزان شعرونه راوتل.

هغه خوندونه چه دنيا داران ئې د ټولې دنيا په نازو نعمت كښې نه مومی ده پخپله بی ريا خرقه كښې وموندل(۲)[5] كوم افتخار چه شاهان ئې په شاهي ګنجونو كوی ده د لبرو په رخسار كاوه.

(۳)[6] د دوهی په غاړه ناست و مګر د خپلی كاملې عقيدی له بركته شاه جهان او د پښتو ژبې عالمګير وو.(۴)[7] د زمانې اورنګ ئې خپل غلام باله(۵)[8] او دغسی ډېر د جاه و جلال خاوندان ئې له منصور غوندی نداف څخه قربانول(۶)[9]. پادشاهانو د دنيا قصرونه آبادول او ده د عشق عمارتونو بنياد ايښوده.

---

[۱]: دريـــا خرقـــه خـــدای نكـــړه وريـــه غـــاړه | رحـــان كـــوړ پټكـــی تړلـــی قلنـــدر دی

[۲]: خرقـــه پوشـــو پـــه خرقـــه كښـــې دی مونـــدلی | هغـــه حـــظ چـــه پـــه دنيـــا كښـــې دنيـــا دار كـــا

[۳]: كـــه پـــه ګـــنج د شـــاهی فخـــر شـــهريار كـــا | عاشـــقان ئـــې د دلبـــرو پـــه رخســـار كـــا

[۴]: د كـــــامل عقيـــــدی لــــــه بركتـــــــه | د دوهــــی پـــه غـــاړه ناســـت شـــاه جهـــان يـــم

[۵]: چـه لـه خنګـه مـی دلبـر پـه لاس كښـې جـام دی | نـــن اورنـــګ د زمـــانې زمـــا غـــلام دی

[۶]: اورنـــګ زيـــب او شـــاه جـــان غونـــدې اشـــراف | صـــدقه شـــه تـــر منصـــور غونـــدی نـــداف

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نور جهان په سر لکه آسمان پورته و، مګر خپل ځان ئې د دلبرانو د پښو خاورې ګڼله(۷)[10].
دنیائې د دوی د صدقې دپاره غوښته(۸)[11] او سرو مال دواړه ئې د یار په دیدن قربانول.
د صورت یو ویښته ئې بې عشقه نه ؤ ځکه ئې خپل ځان د عشق کاروان بللې او عشق ئې د جهان او ټولو مخلوقاتو پلار ګڼلی دی.

د ده عشق د نفس له خاصیته منزه ؤ او شراب ئې هم انګورې نه و.

بې له عشقه ئې نور ټول پیوندونه له ځانه غوڅ کړی و او بې له مینې ئې بل عیب و هنر نه پېژانده ځکه ئې ویلی چه زه نه خلیل یم نه داؤدزی او نه مهمند، ما یوازې عاشق او مین وګڼې.

رحمان بابا بې د مینې او عشق له صادقانو بل چاته سلام هم نه کاوه او یوازې په همدغه ډله ئې سلامونه ویلی لکه چه وائې:

چه مجنون غوندی په مینه کښې صادق وی — رحمـــان وائـــې پـــه هغـــو بانـــدی ســـلام

❀ ❀ ❀

دی هر وخت د عشق په اور کړېده او په عاشقانو کښې ئې ځان اول سړی ګڼله مګر خپله معشوقه ئې نه پېژانده او په ځان نه پوهېده چه په چائې زړه بایللی دی.
ځکه وائې:

زه دا هســی دیوانــه او مجنــون چــا کــړم؟ — لــه رواج او لــه رســومه بیــرون چــا کــړم؟
نــه پــوهېږم چــه دا هســی چــاری څــوك کــا؟ — لېــونی د خپــل نګــاه پــه افســوس چــا کــړم؟
کــومې ســترګې کــوم باڼــه کومــه غمــزه ده؟ — ډوب شهید غوندی په خاك او په خون چا کړم؟
رحمــان هــېڅ لــه خپلــه ځانــه خبــر نــه دی؟ — چه دا هسی رنګ زبون او محزون چا کړم؟

❀ ❀ ❀

---

۷: دلبرانـــو وتـــه خـــاك تـــر تلـــی لانـــدی — د دی نـــور جهـــان پـــه ســـر لکـــه آســـمان یـــم
❀ ❀ ❀

۸: د دلبـــرو صـــدقې لـــره ئـــې غـــواړم — هســـی نـــه چـــه دنیـــا ګـــی پســـی زهیـــر یـــم
❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی همدغی مجهولې لیلی زیارت په زیارت ګرزاوه چه کله ئې بتخانی او کله ئې حرم ته بیوه مګر پدې پوهیده چه زه پخپل مراد پسې ګرزم او د بتخانی یا حرم زایر نه یم لکه چه وائی:

هر زیارت لره چه ځم مراد مې ته ئې　　　زه زایر د بتخانی او حرم نه یم

❀ ❀ ❀

د ده دغه معشوقه چه نه ئې مونږ پېژنو او نه دی سره له دغې مجهولتیا بیا هم دومره معلومه ده چه د دنیا ناوی نه ده او بل څوك ده لکه چه دی پخپله وائی:

د دنیا ناوې په مهر کښې دین غواړی　　　ای رحمانه ځان ساته له دی نکاحه

❀ ❀ ❀

دغه عارف او قلندر شاعر که څه هم دنیا ته بد نه دی ویلی او د دنیا ښه و بد ئې د سړی په مدعا پوری موقوف ګڼلی بلکه د یو ځل په ځای ئې ورته دوه ځله ښه ویلی او د عقبی توښه ئې بللی ده مګر د ځان دپاره ئې نه ده خوښه کړی او د دنیا مینه ئې بت پرستی او د زړه بیماری ګڼله له دی لاندی بیتو دا دواړه مدعا ښی څرګندیږی:

(۱) د دنیا ښه والی:

ښه ده ښه ده دا دنیا　　　چه توښه ده د عقبا
په دنیا کښې بدی نشته　　　که بدی نه وی له تا
دنیا بحر دی بهیږی　　　آئینې غوندی صفا
خپل خپل مخ پکښې لیده شی　　　که څوك زشت وی که زیبا
وفا دار لره وفا شوه　　　جفا دار لره جفا
له یوه مخه ئې درد وی　　　او له بل مخه دوا
کار همه واړه موقوف دی　　　د سړی په مدعا

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) د دنیا بدی:

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا — بیوقوف دی وقوف دار د دې د نیا
روښنائی ده په هغو زړو نو حرامه — چه پرې ناست وی ګرد غبار د دی دنیا
همیشه به بیوقوف او بی شعور وی — چه مخمور وی په خمار د دی دنیا
د شرابو به لاهومره مستی نه وی — لکه مست وی خمر خوار د دی دنیا
هر بیمار لره دارو په جهان شته دی — دارو نلری بیمار د دی دنیا
څه و بت وته سجده څه و دنیا ته — بت پرست دی پرستار د دی دنیا
په مسلمو کښې خاصه مسلم هغه دی — چه ئې وشلاوه زنار د دی دنیا

❀ ❀ ❀

د رحمان بابا فقیری او له فقیری سره د ده قناعت او استغناً وقار او متانت اخلاقی استقامت او لوړ شخصیت، د خلقو په نظر کښې د ده وضعیت، له دی څو بیتو تر یوه حده معلومولی شو.
بیتونه دا دی:

څوك دی را کاندی قسم په کردګار — که درم لرم په کور کښې یا دینار
زه دینا ر او درهم نلرم په کور کښې — ولی نور عالم می بولی دنیا دار
دا په دا چه نه له ځایه چیرته خوزم — نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار
آب و خور لکه آسیا په ځای را رسی — پخپل کور کښې می سکون دی هم رفتار
لکه ونه مستقیم پخپل مقام یم — که خزان راباندی راشی که بهار

❀ ❀ ❀

حمید څوك و؟

هغه سمندر چه په سره اور کښې پیدا شوی او لوی شویدی او بې له بلو لمبو، سرو انګارو نو ئی نور څه په دنیا کښې نه دې لیدلی عبدالحمید نومیږی.
د ده خټه په اصل کښې د پتنګانو له ایرو(۱)[12] یا د سوزېدونکو شمعو له مومه(۲)[13] جوړه شوی وه ځکه ئی په جهان کښې سوزو ساز، کړېدل او ستی کېدل په برخه وه او همدغه

۱: لاهـاله حمـید کسکر پـه محـبت و — پربنتو چه ساز اوه په ترتیب و رو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی ئې له خدایه په سوالونو غوښته. دا مین عاشق که څه هم له وړکیتوبه له بتانو سره آشنا دی مګر لکه خلیل په سرو لمبو کښې د ګلزار تماشا کوی(۳)[14] او ټول شاعرانه مضامین د عشق او مینې په آتشکده کښې پیدا کوی.

هغه حسن او جمال چه د انسان په نظر کښې ئې دا دنیا ښایسته کړی او په زړونو کښې ئې د عشق او محبت حرارت اېښی دی چا ته په یوه شی او چا ته په بل شی کښې ځان ښئی او لکه چه عبدالقادر خان ختك وائی:

په څراغ کښې تجلی وکا پتنګ ته    بلبلانو ته ښکاره شی په نسرین کښې

❀ ❀ ❀

حمید ته یی هم په اور او لمبو کښې تجلی کړېده ځکه وائی:

له حجابه ئې جلوه هسې جمال کا    لکه سره لمبه چه خېژی له تنوره

❀ ❀ ❀

نو د چا په نظر کښې چه جمال دغسې جلوه کړی وی هغه باید همدغسې ووائی.

الهی د محبت سوز و ګداز را    په دا اور کښې د سهی سمندر ساز را
تن پرور بلبل دی عیش کاندی پر ګلو    پروا نه لره په اور زما ګداز را

د حمید فکری او ذهني حال، اخلاقی او معنوی مقام، شخصیت او معنویت سجیه او کرکتړ پدی لاندی اشعارو کښې چه په مختلفو موضوعاتو کښې دی وګوری!

<u>(۱) نفس و هوا:</u>

نفس هوا دی خدای و تا اسیر درکړی    ته د خپلو اسیرانو اسیر مشه

❀ ❀ ❀

په هوا پسې د نفس سر هوا مه ځه    نه دی وری سو د هېچا له دی طرفه

❀ ❀ ❀

---

۲: لکه موم سوز و ګداز مومی له اوره    هسی زه مومم له تا سوز و ګداز
۳: هر ساعت لکه خلیل په عاشقی کښې    تماشا کړم د ګلزار په سرو لمبو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــږ لــږ نبــه هــم مناســب لــه نفســه نــه دی     غلـه مېـرمن کانـدی ځـان مـوږ پـه خکـه خکـه

❀ ❀ ❀

لــه فلکــه ســوال د نفــس دپــاره مکــږه     درکـوی کـه پـه کجکـول کښـېږ هـم اوږمکـه

❀ ❀ ❀

پــرورش د نفــس پــه کــار نــه دی حمیــده!     لــه دښــمن ســره ښــوك نــه كــا تــو لا

❀ ❀ ❀

(قناعت او استغنا):

قناعــت هســی دولــت و حمیــد ورکــړ     چــه بادشــاه کښــی تــر ځانــه بېنــوا

❀ ❀ ❀

اضـطراب د حـرص مـی کـړی لـه زړکـی لـری     قناعــت قــوی لنګــر د دې جهــاز را

❀ ❀ ❀

اســـتغنا لـــه خلقـــو نبـــه د کمـــال ده     د صـاحب پـه ښـک کښـې نـه دری غـلام لـوږ

❀ ❀ ❀

چــه پــه پــوزه ئــې د طمـع ځنځیـر نـه وی     د هغــو خلقــو کــردن بویــه مــدام لــوږ

❀ ❀ ❀

ســرزما هرګــز ســرکوزی نــه منــی د تــاج     ګنهــه تــاج زمــا و ســر تــه دی محتــاج

❀ ❀ ❀

تخــت و تــاج چــه ګــدایان شــړی لــه دره     بادشـــاهانو ســـره اوســـی لا عـــلاج

❀ ❀ ❀

هــم و خیــل او بیګانــه تــه حمیــد شــا کــړه     چــه ئــې وپیژانــد مســبب الاســباب

❀ ❀ ❀

ځــه کیمیــا ده عاشــقی پــه لاس درکــړی     چــه دی وینـم پـه خـواری کښـې مغـرور هسـی

❀ ❀ ❀

درویــزه لــه درویــزه ګــره ناکســی ده     د فلــك كچكــول تــه مــه نیســه كچكــول

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

### (۳) کمینی:

د کمال کعبه به هاله شی درپیښه		که دی لار د کمینۍ نکړه غلطه

❀ ❀ ❀

چه کمال په کبر غواړی احمقان دی		په پلیتو اوبو نه کېږی اودس

❀ ❀ ❀

### (۴) د عشق راستی او پاکه مینه:

په راستی مې د خپل عشق هسی باور دی		چه همدم به یم له ښکلو پس له مرګه

❀ ❀ ❀

چه ونوروته باخښه بوس وکنار شی		خدای به ماته تش کاته کاندی معاف

❀ ❀ ❀

ښکلی مخ وته کاته کار د حمید دی		د نامردو سترګی بریښی له تور بریښه
له شوخی دا ستا د سترګو ای حمیده!		ښکلی باك نه کا له پاکه محبته

❀ ❀ ❀

### (۵) د دنیا ترکول او تروه ترخه قبلول:

د دنیا له هوسو نو څرنګ نهېل شوې		اي حمیده د خپل یار په غم مشغوله

❀ ❀ ❀

له ترووترخوتریوتریخ مشه حمیده!		په دا زهرو اموخته لره مزاج

❀ ❀ ❀

په نګار د مکار د هر غلط مشه		په بدرنګی ناوی پورې زر او پول

❀ ❀ ❀

چه له اهله د دنیا محبت نکړی		همدغه د امن لوری دی بیشکه

❀ ❀ ❀

مناسب نه دی ورتله د لویو خلقو		د هلکو تماشا ده دا دنیا

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو بیتو کښې د حمید معنوی څهره او تصویر مونږ ته داسې معلومېږي چه په ده کښې لوړ همتی او بلند نظری د نفس او هوا له سیمی اوچتوالی، له تخت و تاجه بی نیازی، پاکی او صفائی بې کبری او کمینی په زیاته اندازه شته او د ښه عالی شخصیت خاوند دی چه له فلکه هم در ویزه ورته بده ښکاری او لکه چه وائی:

کــــه د خضــــر پاســـلونی ورســـــره وی      واقعی زهرو ذقوم شی که حیوان خوری

❀ ❀ ❀

د احسان او منت بارولو په مقابل کښې آب حیوان هم ذقوم ګڼی او د خضر پاسلونه هم نه قبلوی:

د دغسی لوی شخصیت خاوند که دنیا د هلکو تماشا ګڼی او خپل ورتله مناسب نه بولی هم ورسره ښائی. که دی خپل جنون رهبری بولی او د افلاطون عقل ګمراهي ګڼي لکه چه وائی:

که مـی نـه وای لیونتـوب رهبری شـوی      افلاطــون غونـدې بــه مـړو مــه ګمــراه

❀ ❀ ❀

هېڅوك پری اعتراض نشی کولی ځکه چه د لویو خلقو دعوی هم لوئی وی او چاته عجیبی غریبی نه معلومېږی، د همدی لامله پښتانه وائی:

غټې خولې غټې خبرې. نو باید حمید او رحمان بابا لکه څنګه چه دي هغسې وپېږنو او د دوی لوړو مقامونو ته په تعظیم او احترام وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پسله ۱۱۰۰ هـ. څخه ځینې نوموړي شاعران

## (۱) یونس، موسی خېل(۱) 15

د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك لیکي چه زما تربور رحمت هوتك په (۱۱۳۰ هـ) کښې پېښور ته تللی و، او په خیبر کښې ئې محمد یونس ځان د پښتو شیوا بیان شاعر ولید. دی په دغه کال یو دېرش کلن ځوان و. د ده پلار نور محمد خان له موسی خېلو څخه د کسی د باړو سره راغلی و او په خیبر کښې اوسېده. یونس په پېښور کښې کتابونه ولوستل او د رحمان بابا شاګرد شو، د شعر دیوان ئې جوړ کړ او په خیبر کښې ئې ښه شهرت وموند. یونس مهمان دوست او کریم سړی و، چه مسافر به ئې په دېره کښې اوسېده. او که څوك عالم او شاعر به ده کره پیښ شو ډېر قد به ئې کېده. په پښتانه شعراٴ کښې هم د یونس په باب کښې لیکل شویدی چه یونس د خوشحال خان خټك معاصر او د رحمان بابا د مکتب یو تکړه شاګرد دی.

دا خبره چوره رښتیا ده چه یونس په شعر کښې د رحمان بابا د سبك پیرو دی او ډېر ځله ئې د هغه د اشعارو اقتفا کړېده. د هغه شعر ئې هم داسې ستایلی دی لکه چه یو شاګرد د خپل استاذ تعریف او توصیف کوی مګر له خوشحال خان سره ئې معاصری پدی ډول ده چه خوشحال خان د پښتانه شعراٴ په قول په (۱۰۲۲هـ) کښې پیدا شوی او په (۱۱۰۰ هـ) کښې د (۷۸) کالو په عمر وفات شویدی.

یونس د پټې خزانې د لیك په قرار د (۱۰۹۹ هـ) زوکړیدی نو د هغه روستی کال او څو ورځې دپاسه د یونس له لمړی کال او څو ورځو سره شریکېږی یعنی دا معاصری په شعرو شاعری کښې نه ده او د رحمان بابا د مکتب شاګرد په شعر کښې د خوشحال خان معاصر نشی کېدای.

یونس خو مو دومره وپېژانده چه د نور محمد خان ځوی او په قام موسی خېل ؤ، چه په خیبر کښې اوسېده او په شعر و شاعری کښې په رحمان بابا پسی روان و مګر دا پېژند نه د یوه شاعر دپاره کافی نه ده او څوك چه له شعر و شاعر سره علاقه لری هغه ارو مرو د شاعر

---

۱:موسی خیل د کاکړو یوه پښه ده. (حبیبی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افکارو او خیالاتو پسی سترګی ګرزوی او خبری ئې لټوی. نو راشئ چه یونس پخپلو اشعارو کښې وګورو چه څوك او څه راز سړی و؟ په دنیا کښې ئې څه خوښ ؤ؟ او عالم ته ئی په څه نظر کتل؟ په لاندی بیتونو کښې ئی فکر او نظر معلومیږی.

<u>د خوشحالۍ سرمایه:</u>

په دنیا کښې چه څه ده بیچاره ګی ده — خاکساری او حیرانی آوارګی ده
د عالم په اختلاط کښې فایده نشته — سرمایه د خوشحالی کنارګی ده

❀ ❀ ❀

<u>له عالم او زمانې نه شکایت:</u>

د هر چا تر خپل مطلب پوری یاری ده — تر مطلب په هورته تشه بیکاری ده
د خلاص د اشنائی دیګدان سوړ شوی — د لباس آشنائی ګرم بازاري ده
د راحت په ورځ تقصیر د خپلوی نه وی — د ضرور په ورځ له یاره بیزاری ده

❀ ❀ ❀

په دا وخت د بل هنر پوښتنه مکړه — لوی هنر له هنرونو نوزرداری ده
لکه ټک زهر په شهدو کښې پنهان کا — هسی شان د اوس عالم غمخوارګی ده
نن دی حال لکه غنچه په پردو پټ دی — په سبا لکه د ګل اشکارګی ده

یونس په خپل وخت کښې له خلقو نه ځینی معایب لیدلی او دنیا ورته ټکه برګه، لباسی او مطلب آشنا معلومه شویده، د عالم دو رنګی او تذویرونو په ده داسی اثر کړی ؤ چه ځینی زاهدان ئی هم په برګ لباس کښې نه خوښیده او ویل ئې:

ښه لباس کښې څه د خدای بندګی نشی؟ — چه جامه دی د تذویرو آغوسته برګه

❀ ❀ ❀

په لباس په ټکی خلق ملمع شوه — و عالم ته زر ښکاریږی میان مس دی
د دورنګ فلک له پیچه پنا غواړه! — چه د ورځې شین طوطی د شپې طاؤس دی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنـدګی چـه پـه ریـا کانـدی – یونسـه! د هغــه ړیــره خپښــته ده نــائی غــواړی

❀ ❀ ❀

د همدې لامله چه ده د فلك دو رنګی، د عالم ټګی، د عابد ریا کاری لیدلی ده وائی:

ځان ګوشه د دې عالم له شورو شر کړه پخپل زړه کښې نندارهٔ د بحر و بر کړه
هـېڅ اثـر د پیوسـتون تـری لیـده نشـی په تحقیق و خپل پردی و ته نظر کړه
د ړنـدو کڼـو پـه شـهر چـه ورګـډ شـی ته هم ځان د دوی په سیمه کورو کر کړه

❀ ❀ ❀

دا ګوښه ګیر شاعر چه د خوشحالۍ سرمایه کنارګی ګڼی بیا هم د ښکلو همسایه توب ته خلق را بولی او زاهدان هم له خلوته ورته راباسی:

کلـه کلـه بـه ئـی جلـوه د دیـدن مـومې راشــه ځــان د دلبرانــو همســایه کــړه!

❀ ❀ ❀

ځـوبـه د خلـوت پـه تیـاره ناسـت اوسـی زاهـد! سـتړګی خـدای درکـړی ښایسـته وربانـدی ګـوره!

❀ ❀ ❀

یونس په هغه کور چه هلته به کینه او بدنیتی وه اورلګاوه(۱)[16] او انسان ئی د انسان له دښمنۍ، بدخویۍ ظلم او جفا څخه ښې لاری، ښه رفتار او ښه کردار ته پدی ډول را باله:

مینــه دار پــه دښــمنی د آدم مشــه! چـه شـیوه پـه بـدخوئی کـا لـړم مشـه!
په ظالم بانـدی لعت د خدای ورېږی روا دار د جفــا جــور و ســتم مشــه!
د عمـل چـراغ لـه کـوره درسـره وړه! پـه لمړی ماښـام د ګـور پـه تـورتم مشـه!
سـتاری لـه هنرونـو لـوی هنـر دی عیــب جویــه د عــرب د عجــم مشــه!
د قـارون لـه حالـه زده کـړه کـه دانـائې دل بســته لــه ســیم و زر و درم مشــه!
یك زبان په وعده راست اوسه یونسه! دو زبــان لکــه مختــوری قلــم مشــه!

---

۱: چه درست ډك وی له کینې له بدنیتی نه په هغه کور دی غله ولګی اور لاهــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

يونس پخپل يوه شعر كښې زر ډېر پوره ستائى او ټول صفتونه ئې بيانوى چه همدغه شى په ښادى او ماتم دواړو كښې په كارېږى او د عالم خوراك و پوښاك و زينت ګرزى همداغه شى دى چه په توره شپه كښې چراغ كېږى او ډېر ضعيف بازو له فولادو نه هم قوى كوى مګر سره لدى ټولې ستاينى كله چه د علم و ادب په مقابل كښې زر او پيسى يادوى نو وائى:

د هغـه پـه لاس چـه علـم و ادب كښـېوزى — نـور دى غـم پـه زړه كښې نـه كا كيميا ګردى
ميراثـــه د مـــور و پـــلار پنځـــه پيســـى وى — وايـــه علـــم چـــه ميـــراث د پيغمبـــر دى

❀ ❀ ❀

يونس پدى پوهېدلى ؤ چه:

هغه عيش چه ئى صابر ګدا حاصل كا — هـېڅ اميـر مونـدلى نـه دى لـه شـوكته

❀ ❀ ❀

ځكه ئى ويل:

قناعــت بــه دى هلــه ګــورم يونســه — كه ته پوزه د منت په جامه سوڼ كړې

❀ ❀ ❀

هو! له يونس سره د جامې غم نه وه ځكه ئى د منت په جامه پوزه پاكوله او ويل ئى:

ژوندى سر له به سل د ستاره يافت شى — راشه غم د دستار پرېږده غم د سر كړه!

❀ ❀ ❀

زمونږ دغه د دنيا له غمو بېغم شاعر چه په سر كښې ئى د پټكى سودا هم نشته د عشق له غم سره ډېر زيات اشنا دى او سل هوسه له دغه غمه قربانوى بلكه هوسونه لا څه چه د جنت له نسيمه هم د عشق سوى بهتر ګڼى، او له بېدرد عالمه ډېر ډېر شكايتونه كوى:

عاشقان ئې په دعا له خدايه غواړي — تر نسيم د جنت ښه دی د عشق سوی

❀ ❀ ❀

په بازار د عشق کښې درد وغم متاع ده — تن پرور د دې متاع خريدار نه دی
چه په درد د عاشقۍ ځوك درمن نه وي — و يونس ته د سړيو په شمار نه دی

❀ ❀ ❀

بېدردان به په درد کله کړی يونسه — مړې ايرې که هر څو پو کړی اور به نشي

❀ ❀ ❀

د بېدردو هېڅ له عشقه بهره نشته — موزيکی ته د پېزوان خبری مکړه

❀ ❀ ❀

چه نه درد د عشق لری نه شناخت نه مهر — په هغه باندی نامه د پسر مه واى

❀ ❀ ❀

هر چه بی له عشقه ومری و پرئې مکړی — د شرابو نبيښه ماته شوه ارزانه

❀ ❀ ❀

سله هوسه صدقه د عشق تر غم شه — د يونس د خولې وينا په دا تمامه

❀ ❀ ❀

علاوه په دغسی متفرقو بيتو په غونډو غونډو اشعارو او غزلو کښې هم عشق او د عشق کيفيتونه ډېر ښه بيانوی او هغه ټول تغيرات چه عشق ئی په چا کښې پيدا کوی يو يو پدې ډول ښئی:

چه په زړه باندی استوار د عشق قدم شی — سر رشته د صبر ورانه هغه دم شی
عقل هم د خپلی ناستی ځای غلط کا — په ارام باندی همه جهان تورتم شی
بېغمی و بل وطن ته توښه واخلی — قراری هغلته چېری وی چه غم شی
غرور کانه شی د عالم له تهمتونو — سترګی درسته شپه ژړا کوی په نم شی
شرم هسی په ګوښه کښې غلی کښېني — لکه ښه سړی په بدو باندی ګرم شی
ګردن هم له بلندیه توبه ګار شی — که الف وی خو د دال په طورخم شی
د دنيا غمونه پاته شی نيمګړی — د اشنای غم ئی له عمره سره سم شی

❀ ❀ ❀

يعنی دا غم په ټولو غمونو زورور کېږی او هوسونه له زړه باسی ځکه چه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه يـوه خـاطر د دوه مينـو ځـای نشـی      چـه د غـم کـړه پـری راشـی هـوس لـړی

❀ ❀ ❀

نشـی پـه يـوه خـاطر د دوه مينـو اسـتوګنه      يـا بـه غـم د ځـان وی يـا بـه مينـه د جانـان وی

❀ ❀ ❀

څوك چه د مينی له درد او عالم سره آشنا وی هغه پوهيږی چه يونس څه وائی او د عشق له کيفياتو څه ښه تعبيرونه کوی، دی وائی(۱)[17] هغه مستی چه د يار په ليدو کښې ده په می يا په کوکنارو کښې نشته د ميو مستان يو وخت بيداريږی مګر د مينی مست بيداری نلری او تل تر تله مدهوش وی:

د اشـنا ويـل بـه هلـه لـذت درکـا      که درست تن دی په خواهش کښې ورته ګوش شی
بـی زحمتـه راحـت کلـه چـا مونـدلې      د خمـار تشـويش قبـول کـا چـه مينـوش شـی
کـه يـو ځـل ئـی مستانه شراب تـر خولـه شـی      محتسـب بـه جـاروکش د ميفـروش شـی
کـه پـه دوش ئـی سـجاده د عبـادت وی      لـه مستيه بـه ئـی مسـت سـبو پـه دوش شـی
د دنيـا غمونـو زړه د يـونس تـور کـړ      ساقی جام د ميـو ورکـړه چـه مـدهوش شـی

❀ ❀ ❀

يونس وائی چه وينا او ويل د عشق په خبرو لذت پيدا کوی او همداغه شی د شعر مالګه ده:

نـور ويـل د عشـق خبـری پـر لـذت کـا      لکه مالګه چه لذت کا په خواړه کښې

❀ ❀ ❀

که چيری نحويان نحوه د خبرو او کلام مالګه ګڼلې شی شاعران هم حق لری چه د عشق خبری د شعر او وينا مالګه وبولی او بې له دی شی نه شعر ته بی نمکه ووائی. يونس په همدغه مالګه خپل ساده شعر ډير لذيذ کړی او ډيری ساده خبرې ئی هم د دی دپاره چه ملاحت لری سړی ته خوند ورکړی.

وګوری! يوځای خپل رقيب د يار په څنګ کښې وينی او ورته وائی:

تـه چـه د دلبـر لـه څنګـه څنګـه شـی رقيبـه!      ځان پسی په ډير، هجر کښې چا دی نری کړی؟

❀ ❀ ❀

---

۱: لکه څوك د يـار په تش لـيده مسـتيږی      مستيږده هومره په می په کوکنار نه دی
مست د ميو بـه بيدار په يوه وخت شی      مست د مينی بـه هيڅيږی بيدار نـه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بل ځای خپل یار پوښتی او په ډېره ساده ژبه ورنه تپوس کوی:**

**کــه رښــتیا د یــوه زړه وی بــل تــه لاره　　　یــاره! تــه زمــا پــه یــادئی زه ســتا یــادیم**

❀ ❀ ❀

**دا خبری کومه تشبیه یا استعاره نلری مګر عجیبه نندارہ لری او هر چا ته ښائی چه ډېری ښی ښکاره شی ځکه چه عاشقانه جګړه، عاشقانه استعلام او عاشقانه استدلال پکښې دی.**

**د یونس تشبیهات هم ډېر خواږه او ساده وی د همدی لامله ئی استعاره او تشبیهاتو په کلام کښې څه اشکال نه دی پېښ کړی او په خبرو ئې هر څوك پوهېدای شی.**

**یوځای د خپلې توبې بی ثباتی بیانوی نو وائی:**

**د یــونس توبــه پــه مثــل د روژی شــوه　　　چــه همېــش د ورځــی وی پــه بېګــا ماتــه**

❀ ❀ ❀

**دلته د توبې تشبیه له روژی سره شوېده او له ډېری سادګۍ او عام فهمۍ نه پکښې کار اخستل شوی په یوه بل ځای کښې چه د ظالم له لاسه د مظلوم په مخ اوښکی وینی نو وائی:**

**له لوګی بې اوښکو نور څه حاصلېږی؟　　　هــی توبــه شــه د ظــالم لــه نزدیکتــه**

❀ ❀ ❀

**پدې ځای کښې د ظالم تشبیه په اوښکو تویولو کښې له لوګی سره شوېده او ډېر ساده شعر ورځنی جوړ شویدی دا تشبیه هم لکه هغه بله تشبیه چه په یوه بیت کښې د بیدردو تشبیه له ایرو سره کوی[(۱)][18] د هر کور د نغری او چرګۍ خبری دی چه پوهېدل ئې څه ډیر فکر و دقت نه غواړی.**

**یونس د دې لامله چه له خپلو پردو نا اشنا او بېګانه و[(۱)][19] پس له مړینی ئې هم له چا نه د ځان ویر نه غوښته او ځان ئې بیخی آزاد ګانه ځکه ئی ویل:**

---

۱: بی دردان بــه پــه درد کله کـړی یونـسه!　　　مړی ایری که هر څو پو کړی اور به نشی

❀ ❀ ❀

۱: بی له یاره کـه مـی خــپل که بېګانه دی　　　نه غرض په چــا لــرم نــه ئی آشــنایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

میخـانې تـه کـه روان لـه خانقـاه شـم — ما یـونس بـه منع څـوك کانـدی آزادیـم

❀ ❀ ❀

خپــــل صـــــورت پخپلــــه وژاړه یونســـــه — پس له مرګـه دی نـور هېڅـوك د ویر نشته

❀ ❀ ❀

څنګه چه یونس د خپلو او پردو له آشنائی لاس اخستی و، او بی له یاره ئې څوك نه پېژاندل هغسی ئې ورسره د دنیا اندېښنی هم له زړه اېستلی وی او بی د یار له دیدنه ئې بل شی ته میل و رغبت نه درلود.

زړه پــه اندېښـنه د دنیــا زوړ نکــړی یونســه — می د محبت څکه چه دی چست و چاغ لری

❀ ❀ ❀

دیـــونس درنـــج عـــلاج دیـــاردیـــدن دی — و نــور څــه تــه ئـې رغبــت د مــزاج نشــته

❀ ❀ ❀

د یونس دیوان که څه هم تقریباً ټول په عشق او د عشق په درد ډك دی بیا هم پکښې ډېر اجتماعی او اخلاقی مضامین پیدا کېږی او په هر باب کښې خبری لری، کله دنیا غوښتونکو ته د تجارت او عزت غوښتونکو ته د نوکړی توصیه کوی:

کـه طالـب ئـې د دنیـا سـوداګری کـړه! — پـه کثـرت د مـال حـدیث فلیتجـر دی
کـه عزت د دنیا غـواړی نـو کـری کـړه! — د سـپاهیانو د عـــزت صـــدقه ســـر دی

❀ ❀ ❀

بل وخت ظالمان د خدای له قهر ویروی او خپلو عملونو ته ئی پدی ډول ملتفت کوی:

د بهــار پــه وخــت ګلونــه کــرل کېــږی — تــا پــه ځــای د ګلــوو کــرل اغــزی
که دی ترس په زړه کښې شته د خدای له قهره — پــه کمــزوری بانــدی مشــه پــه غــورزی
د ظـــالم قهـــر و کـــاری تـــر مظلومـــه — د قصـــاب پـــه بدلـــه وهـــی درزی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت او محل د تقاضا په نسبت وائي:

پــه اهــاړ تــر ســپينو ګلــو ســپينی واوري
پــه خلــه تــر ســرو ګلونــو اور بهتــر دی
بـــی انصـــاف لـــره قـــوت د لاســـو مـــه وای
پــه پنجــه کښــې د خــدای ترسـو زور بهتـر دی

❀ ❀ ❀

د کار او حرکت و احسان په باب کښې وائي:

کـــه امیـــد لـــری د کـــار لـــه برکتـــه
مونـــده نشـــی برکـــت بـــی حرکتـــه
د ښبـــتن مځکـــه وســـیعه ده ناراســـته
پـــه مقصـــود پســـی وګـــرزه پورتـــه ښـــکته
د انسان جامه احسان نـه دا نمری دی
غـــویی هـــم د شـــاد پاســـه لـــری کتـــه

❀ ❀ ❀

د دیدن په باب کښې:

د سپین مخ دیدن دی ولې قیمتی کړ
څه کلچه د پنیر نه ده چه به خوړ شی
خـوك چـه سـتا د دیـدن وړی دی دلبره!
راشه هومره دیدن ورکړه چه پری موړ شی

❀ ❀ ❀

وروسته تر دغی لړی معرفی د ده څو شعرونه نور هم د نمونو په ډول وګوری!

## لمړی نمونه

کرشـــمې نـــازو نـــه واړو لـــره نـــه دی
نازبـــاؤ بـــدبو تـــاړو لـــره نـــه دی
قنج و ناز دی نازنین کا چه پری ښائی
بـــدو شـــونډو لویـــو داړو لـــره نـــه دی
د پـــتې راز خبـــری کبـــری و راز دار تـــه
دا خبـــری ګریـــوان پـــارو لـــره نـــه دی
په همت باز و شاهین شه چه ته ورشی
د پادشـــاه منګـــولې خـــراوړ لـــره نـــه دی
لیونیان ئـی پـه ځنځیر د زلفو بند شـوه
سلســـلی د روغـــو غـــاړو لـــره نـــه دی
یوه شپه را سره کښېنه چه زړه تش کړم
د ډېـر راز ویـــل و لاړو لـــره نـــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه نمونه

چه سړی کاندی له غمه بېغم زر دی
چه په کار شي په ښادی‌په ماتم زر دی

که خوراك دی که پوشاك دی که زېور دی
په نور سل رنګه زينت د عالم زر دی

که بې نورو لره ورشي نور بخښل کا
اوږدو شپو لره چراغ د تورتم زر دی

په اثر ئې سر کشان له غره را کوز شي
بې دعوې غالب په غره او په سم زر دی

که نور هېڅ دارو ئې نشي په دوی روغ شي
مجرب د زخمي زړونو ملهم زر دی

خپل له خپلو بېزارېږی چه دوی نه وی
چه نژدی کاندی عرب او عجم زر دی

پخوا نور اوه جنته هم دوی وه
که شدا د ورسره روغ کړ اتم زر دی

ډېر ضعيف بازو په دوی سره قوی شي
په سختی کښې تر فولادو محکم زر دی

## دريمه نمونه

هر سړی چه له دنيا وفائی غواړی
له ګمراه خخه د زړه صفائی غواړی

د ناپوه و ناپوهې ته حېرانېږم
له ړانده نه د مکتوب ملائی غواړی

سعادت له بې ادب سره ناجوړ وی
نابينا به څه رانجه سلائی غواړی

چه و دين ته شا کوی مخ و دنيا ته
ابلهان دولت پرېږدی ګدائی غواړی

د قسمت په وېش ئې صبر و سکون نشی
کم همت ميرزا په خواست ميرزائی غواړی

همت ناك به د پوزی په جامه خوښ وی
چه په خواست له چاقبا کتانی غواړی

بندګی چه په ريا کاندی يو نسه!
د هغه ږيره خيشته ده نائی غواړی

## څلورمه نمونه

هر چه شوی په ازل وی نور به نشی
چه ئې برخه د پياده ده سور به نشی

که په سل رنګه تدبير احتياط وکا
هغه شپه چه ئې د ګور وی کور به نشی

په لباس د بېګانه ؤ غلط مشه
چه له مورو پلاره نه وی ورور به نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذاتـــي تـــور زړونـــه پـــه وعـــظ نـــه ســـپينيږي     هغه زړه چه خداى سپين كړى تور به نشي

بيــدردان بــه پــه درد كلــه كــړى يــو نســه
مړى ايرى كه هر څو پو كړى اور به نشي

❀ ❀ ❀

## پنځمه نمونه

تاوى مخ به در څرګند كړم ماوى غوره تر دا څه     تاوى زلفى به كمند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوى دوې زلفى مى څه دى ماوى دام دى په مخ باندى     تاوى تا به پكښې بند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوى دواړه لب مې څه دى ماوى قند دى په معنا كښې     تاوى سير به دى په قند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوې سور پيزوان مى څه دى ماوى اور دې چه ئى ګورم     تاوى تا به پرى سپند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوى وصل زما خوږ دى ماوى بى خبرو څه زده     تاوى پوه به دې په خوند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوى خوله به سبا دركوم ماوى خوى د وفا نشته     تاوى زه قول و سوګند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوى غبڼ كاته مې څه دى ماوى صبر وړى له زړه نه     تاوى لا به نظر برند كړم ماوى غوره تر دا څه
تاوى مينه زما غم دى ماوى غم زما قبول دى     تاوى ډېر به دى دردمن كړم ماوى غوره تر دا څه

❀ ❀ ❀

## شپږمه نمونه

د ګـل پاڼـه د خـزان لـه غمـه ريـږدى     بـى خبـره د بـاد نـوم وربانـدى كيـږدى
دا د محڅكـى مـخ مخونـه دى د ښـكلو     رونده دى په ادب په ځمكى پښې ږدى
څـوك د يـارو ښـه ديـدن تـه انتظـار دى     څوك له ياره سره وصل غيږ په غيږ دى
پـه يـوه خـاطر د دوه مينـو ځـاى نشـى     چه د غم كډه پرى راشـى هـوس ليږدى

د يـونس د رنـځ عـلاج هـر ګـوره ګـران دى
څـوك چه زړه بانـدى ملهم ږدى ريـږدى ريـږدى

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوومه نمونه

مــرده دل لــره لــه ذوقــه خبــر نشــته
پــه نهــاد کښــې ئــی د مینــی اثــر نشــته
د دلبـر صـفت د خــور زړونــو مـرهم دی
د بیــدرد د عشــق پــه علــم نظــر نشــته
زمانــه کـــه فرزنـــدان راوړی بیشـــماره
تــر تــا غــوره بــل د دهــر پســر نشــته
تـر جبینـه ئـی آفتـاب پـه جلـوه کـم دی
هغــه تــاب لکــه د ده دی د نمــر نشــته

ستا جمـال پـه عاشـقانو سـپین سـبا کـړ
د غافـل د شــپې د هجـر ســحر نشــته

❀ ❀ ❀

## اتمه نمونه

دا څه پرخه نه ده چه په شپه له پاسه اوری
ژاړی پـــه احـــوال د عاشـــقانو واړه ســـتوری
یــار تــر لاســه راغــی رقیبــانو صــرفه مکــړئ
خیـر فقیـر واخلـی سـګان غـاپی ورتـه ګـوری
یـو دیـدن د یـار چـه پـه تمـام جهـان بهـا کـا
دا تـر هغه ړونـد دی چه ګـوهر پـه مـری پلـوری
خـوك چه په سایه د سرو قد د خپل دلبر شی
څه حاجت که نه وی په هغه دهمای سیوری

ډیـر و آشـنائی تـه هـوس مـه کـوه یـو نسـه!
نـه اوری نـاری د جـدائی تـه پـه هـر لـوری؟

❀ ❀ ❀

## نهمه نمونه

دور دی د ګلـو پـه دنبـال بـه ئـی خـزان وی
هر چه آشنائی کا په دنبال به ئی هجران وی
نشــی پــه یــوه خــاطر د دوه مینــو اســتوګه
یـا بـه غـم د ځـان وی یـا بـه مینـه د جانـان وی
چېـری چـه مهجـوروی د غمونـو پـری ضـروروی
نه کا غم ویسا په هغه ځای چه دوه یاران وی
سـتا پـه حمایـت مـی لـه غمونـو اړخ سـوروی
څه غم له طوفانه هر چه نـوح ئـی کشتیبان وی

زه یــونس چــه کښــېنم کنــاره کلــه لــه خلقــو
تـل مـې پـه ګوښـه کښـې مشغولا پخپـل بیـان وی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۲) پیر محمد کاکړ(۱)20

پیر محمد وایی:زه سیم و زر نلرم مګر د زړه دولت را سره دی او د چا د دربار طامع نه یم. د مخ آب می کله په سوال نه دی توی شوی او د نا اهلانو پروا می کله نه ده کړی، د ظالمانو دارمدار له ما مه غواړئ، ځکه چه زه تر همایه بلند نظر او د خود بینانو د ستر ګو خاریم، په غوړه کاسه لکه مچ نه نښلم او د دعوتونو انتظار نه باسم، د چا منت و احسان ته می کله سر نه دی ټیټ کړی او د نا امیدی مملکت خدای زما په برخه کړیدی، د اغیارو دپاره سور اوریم مګر د یار په لاس کښې تر او تازه یی خاره ګل یم، د بل صاحب بندګی له مانه نه ده پوره زه د کردګار خاص بنده یم:

| | |
|---|---|
| سیم و زر پـه ملـك کښـې نلـرم نـاداریم | پـه دولـت د زړه تـر حـده دنیـا داریـم |
| وظیفـــه د حـــق لـــه دره را رســـیږی | کله سپی غونـدی طامع د بل درباریم |
| د مخ آب مې په سـوال سره تـوی نشـو | پوشـیده پـه صـدف درغونـدی آبـداریم |
| قناعـت لـه نـا اهلانـو بـی پـروا کـړم | پـدی ګـنج سـره سـرخروی لکـه انـاریم |
| دارمـــدار د هـــیڅ ظـــالم کـــولی نشـــم | ځکه تل د هر خودبین د ستر ګـو خاریم |
| ترهمـای بلنـد نظـریم کـه بـاور کـړی | کرګس نـه یم چه جیفـی تـه هـوا داریـم |
| نـه مګـس یـم چـه پـر غـوړه کاسـه منښلم | نـه دعـوت و تـه د چـا پـه انتظـاریم |
| نه پر ځان باندی منت د هر نامرد ږدم | نـه یـم خرچـه د ګـاذر پـه جـامو بـاریم |
| مملکـت د نومیـدی مـی رب نصـیب کـړ | پـه معنـي کښـې پـه راحـت تـر شـهريار یـم |
| تواضـع چـه مـی غنـی پـه دنیـا غـواړی | لـه دی سـپیه د ملـك پـه دود بېـزاریم |
| د اغیـار پـه صـورت اوریـم چـه لګیـږم | لکـه ګـل تـرو تـازه پـه لاس د یـاریم |
| بنـدګی د بـل صـاحب را ځخـه نشـی | خـاص بنـده زه پیـر محمـد د کردګـاریم |

❀ ❀ ❀

---

۱: پیر محمد یو پښتون او عالم شاعر دی چه پخپل وخت کښې د درس و تدریس خاوند و، دی د احمد شاه پابا معاصر ؤ او د ژوند نیټه ئی تخمیناً (۱۱۲۰ هـ) په حدود کښې ټاکلی شو. (پښتانه شعراء)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې د پیر محمد له پېژندلو سره نوره علاقه هم لرئ او غواړئ چه د ده پوره حال احوال در معلوم شي نو د ده سندرو ته ښه غوږ ونیسئ دی خپل ټول کیفیتونه او دردونه مونږ ته په شعر کښې وائی:

زه غریب له خپله یاره جدا سوزم — یو همدرد راسره نشته تنها سوزم
د حسرت په اوښو لوندیم لکه شمع — د فراق په توره شپه تر سبا سوزم
و خپل عمر ته چه ګورم زېړی ګل یم — چه په ښاخ باندی په باد د فنا سوزم
د مجنون په دود که ووزم صحرا ته — بی لیلی په هر لاله د صحرا سوزم
پروانه ئې پر څراغ د مجلس نکړم — په شغلو د ښکلی مخ ئې له ورا سوزم

❀ ❀ ❀

هر سحرچه کړی ناله پر ګل له سوزه — عشق مدام هغه بلبله د سحر کړم
سوز ګداز د محبت می دی نصیب کړ — په سره اور کښې دی د دلبره سمندر کړم

❀ ❀ ❀

تنها راغلم له هوا ده تنها درومم — په دا ملک کښې تنګ غمونو د غربت کړم
روغ عالم را سره ژاړی په هجرانکښې — چه بیان ورته احوال د مصیبت کړم

❀ ❀ ❀

آه فریاد کرم همیشه د زړه له داغه — چه لاله غوندی غوړېږی له دی باغه
خوار بورا پر ګلو ګرزی سینه سوی — د پتنګ دی سرو کار له دی چراغه
سل هنره ورته کړم نه پایمالېږی — تورو سترګوئې فتنه کړه را ته چاغه
روح زما وریسی ځی د سبا باده — ژر ئې بوی د زلفو راوړه تر دماغه
چه بی یاره به فراغ د خاطر غواړی — دا رنګ مشه پیر محمد خاطر فراغه

❀ ❀ ❀

پیر محمد ډېرې شاعرانه آرزو ګانی لری او څه چه د ده زړه غواړی هغه مونږ ته داسی بیانوی:

دریغه نسبت می له خلقو پری شوای — د یار په در کښې خاوری ایرې شوای
فراق مې تنګ کړ زړه په قفس کښې — چېرته چه ګل وای بلبل هورې شوای
چه لیونی ئې شمال پربوی کړم — هغه زلفینی پرما خورې شوای
نصیب قسمت می په عاشقی کښې — د خوږو شونډو شکر پارې شوای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیــاهم یوځــل مــی دواړه منکــولې		د غمــازانو پــه وینــو ســری شــوای
غمجــن بــه ولــی زه پیــر محمــد وم		کـه لـه زړه هیری کښلی څېرې شـوای

❀ ❀ ❀

درېغــــه اوره خـــــوزه د اســــمان وای		آبــدار پــه آب دې بحــر حیــوان وای
پــــر مـــــزار راغــــلای د ګلرخــــانو		وربانــــدی تــــوئې لکــــه بــــاران وای

❀ ❀ ❀

له دی دومره خبرو خوبه دومره معلومه شوی وی چه دغسی آرزو ګانی بی له عاشقانو بل چا ته نه پیدا کېږی او دغسی حالونه بی له مینو په بل چا نه راځی د دغسی – کیفیتونو او نفسی اغېزو بیان هم بی له یوه مقتدر او پاخه شاعره بل څوك نشی کولی. که چېری په دنیا کښې چاته د شعر او شاعری سندونه ورکول کېدلای نو پیر محمد به په همدغه یوه رباعی: چه ځان پکښې د اسمان اوره کوی. او د آب حیوان په بحر آبداری غواړی چه بیا د ګلرخانو په مزار راشی او لکه باران ووریږی. د شعر او شاعری لوړ سند اخستی و، او نورو شعرونو ته به ئې څه ضرورت نه و پیدا شوی څوك چه د شاعرانو په خبرو پوهېدلی شی او شعر پېژنی هغه دا منی چه د صحرا په لاله بی له شاعره بل څوك نه سوزی او نه نور خلق د سبا له باده د زلفو بوی غواړی سړی چه د پیر محمد په اشعارو کښې غور وکړی او د ده د شاعری رنګ و ډول ته ښه ځیر شی نو ورته معلومېږی چه د رحمان بابا شعر و شاعری افکارو او خیالاتو سبك و اسلوب د پیر محمد په دیوان کښې ډېر تاثیر کړیدی او هماغه سوز و سادګی دلته هم تر سترګو کېږی ډېر شعرونه هلته شته چه دلته ئې پیروی او اقتفا شویده.

کومه عقیده او دلباختګی چه پیر محمد ئې د رحمان بابا د شعر په نسبت لری هغه پدی ډول ښکاره کوی:

جـوړ پـه شعر کښې رحمان غیـب اللسان دی		پــه دا خبــر نشــته هــر ګــز د انســان شــعر
تــر مصــرع ئــې ځــار شــه لاړ د مرغلــرو		پــه څــه تــارئې آوبختــه کړیکســان شــعر

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنى څنګه چه يونس په شعر کښې د رحمان بابا استاذی منی او ستائی ئې پير محمد ئې هم هغسې منی بلکه لا زيات يې صفت کوی او دغسی شعر ويل د انسان له توانه بهر بولی مګر دومره خبره ده چه يونس د خوشحال خان په نسبت وائی:

حقيقـت ئـی و يـونس و تـه څرګنـد دی  ډېر غرور دی پخپل شعر ختټك نه کا[۱][21]

❀ ❀ ❀

او پير محمد د خوشحال شاعرئ ته هم په ډېره درنه سترګه ګوری او بحر مواج ورته وائی خو بيائی هم له رحمان بابا سره نه برابر وی او د څه درشتئ اعتراض پری کوی، مګر سره له دغه اعتراضه په ځينو اشعارو کښې د خوشحال خان پيروی او اقتفا کوی.

پير محمد هم لکه رحمان بابا خپل شعر سوزان بولی او د خپل شعر دپاره دغه صفت غوره کوی او وائی:

د زړه داغ بـه کـړی تـازه پـه سـوزان شعـر  چه له کښليو پير محمد پر کنار کښېناست

❀ ❀ ❀

بـل دفتـر زه پيـر محمـد پـه اوبـو ويـنځم  چـه سـوزان دفتـر د مينـی جـوړوم

❀ ❀ ❀

دا صفت د پير محمد په شعر کښې په رښتيا موجود دی او د ده په زړه کښې يو رښتيانی درد او سوز شته کوم د عشق اور چه د ده په زړه کښې بلېږی هغه د ده په شعر کښې هم تجلی کوی او ترخولې ئی د آه دودونه بی اختياره را وزی لکه چه وائی:

د آه دود می تر خوله اوزی بی اختياره  پـه ګوګـل کښې مـی بلېږی د عشـق اور

❀ ❀ ❀

پير محمد د عشق او درد، زهد و رندی، غم او حسرت، سوز و ساز، خپلی بيماری او رنځوری خپل قسمت او نصيب په باب کښې دا راز خبری کوی:

تـر سـاړه زهـده رنـدی رالـره ښـه ده  هـر يـو کـس لـری جـدا جـدا مـذهب

---

۱: دا بيت په پښتانه شعراء کښې راغلی او ختټك: خوشحال خان ګنل شويدی ما پخپله دغه بيت او وړاندی وروسته نور بيتونه د يونس په ديوان کښې نه دی ليدلی چه غرض له ختټکه خوشحال خان دی او که کوم بل ختټك يا ټول ختټك دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاهدانو چه په زهد سره نه موند     ما موندلی دی په عشق هغه مطلب

❀ ❀ ❀

زه هنوز په تمنا د رنګ و بویم     د باغ ګل می شو نابود تر خاورو لاندی
بلبلان ئی دی نالان له دردو سوزه     ګوره چاته د ګلزار ګلونه خاندی

❀ ❀ ❀

چه په اور د محبت ئی زړه پوخ نه وی     له بلبله دی سیالی نکړی طاؤس
چه د مینی مشکلات باندی حل نشی     حل می مشه لغتونه د قاموس

❀ ❀ ❀

ګوتی چه پر نبض زما ږدی هغه پری سوزی     ځکه می حیران شو وعلاج وته طبیب

❀ ❀ ❀

مه ږده پری طبیبه دا مرهم د خوږو زړونو     داغ د خراب زړه می د خوبانو دی یادګار

❀ ❀ ❀

بیمار پخپله د ځان طبیب شی     غمخور چه نه وی په زمانه کښې

❀ ❀ ❀

دار مدار چه د رنځور نکړی طبیبه!     پیر محمد دې خداې روغ نکړی په دوا ستا

❀ ❀ ❀

طبیب نایاب شو د خوږو زړونو     دردمن پخسیږی تل په درمان پسی

❀ ❀ ❀

پخپل لاس سره زما د درد دوا کړه     بېګانه طبیب ته مه لېږه بیمار خپل
هېڅ پر هېزئی له میګونو شوندو نه و     ځکه ووت پیر محمد له عقل و هوشه

❀ ❀ ❀

په ازل کښې چه قسمت کېده د بخرو     زما غم شو په نصیب له هغه وېشه

❀ ❀ ❀

کامرانی دې بیدردان کړی په دنیا کښې     پیر محمد بېنوا راغی بېنوا ولاړ

❀ ❀ ❀

خراب دل می د دنیا و غم ته ونیو     په سره اور باندی می وسو د خدای کور

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـر طاعـت راتـه بـې عشـقه معصـيت شـه      تـــراويح وی کـــه روژه کـــه اعتکـــاف

❀ ❀ ❀

رب غمجـــن پـــه دردوغـــم کـــړم دخوبـــانو      ګمـان مکـړه چـه بـه غـم د سـيم وزر خـورم

❀ ❀ ❀

بېلتانـه را خخـه ګـل هغـه خـراغ کـړ      چـه تـل بـل و، د پتنـګ پـه پـر و بـال

❀ ❀ ❀

مسـتو سـترګو دليلـې چـه کـړ بېخـوده      ګمان مکړه په مجنون چه به هوښيار شي

❀ ❀ ❀

عشـق لبـاس دخـود بينـۍ لـه مـا نـه وکـيښ      پـه سـره اور کښـې مـی د کفـر زنـار وسـو

❀ ❀ ❀

مکړه د عشق لـه دردو سـوزه ما مشغول ناصحه      زه سـمندر بهبـود پـه اور کښـې د خپـل ځـان وينمـه

❀ ❀ ❀

پير محمد قندهار او کابل هم پدی ډول يادوی:

قندهار

نـاز غمـزی چـه د خوبـانو پکښـې وينـم      قنـدهار تـه جـوړ هنـر د کشـمير راغـی

❀ ❀ ❀

کابل

د ښـو بـدو تميـز نشـته پـه کابـل کښـې      خـرم زړه چـه ورتـه راوړم رنجيـده شـی

❀ ❀ ❀

ځيني نور ښه ښه بيتونه يې چه په مختلفو موضوعاتو کښې مخې ته راغلي دادي:

بوسه

پـس لـه مرګـه کـه بوسـه پـر لبـو راکـړی      معجـزه بـه را ښـکاره د مسـيحا کـړی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سراب موج

پــه اوبـــو د دیـــدن تنـــده نـــه مـــاتیږی        د مجنون پـه دود پـه مـوج د سراب خـوښ یـم

❀ ❀ ❀

د بلبلو حق

حق د بلبلانو پـه جانب دی کـه غوغا کا        ویـنم پـه ګلـزار کـښـې د زاغـانو اشـیانـې

❀ ❀ ❀

د عشق سندری

خـوار بـورائـې چـه پر ګـل لـه سوزه وائـی        هم هغه د عشق سندرې نه دی څه دی؟

❀ ❀ ❀

زاهد

پـــه کوڅـــه د مهرویـــانو غلـــی غلـــی        زاهـــد پـــټ پـــه تمنـا د دیــدن ګــرزی

❀ ❀ ❀

ګلونه او اغزی

د هــر بــاغ ګلونــه څــی اغــزی پــاتیږی        خلط لـه خـاورو سره ویـنم رنګـین خلـق

❀ ❀ ❀

د بلبل آه

د بلبــل پـــه آه بـــه وســـوزی پـــوهیږم        هغه زاغ چه په جـوار د ګلزار کښیناست

❀ ❀ ❀

منصور

بار مې په هر جز کښې په صفت د جمال راغی        حق په منصور ووې اناالحق پـه سر د دار

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمود په سترګو

چه انکار ئې کړی له حسنه حاسد ولی؟ د محمـود پـه سـترګو نـه ګـوری ایـاز

❀ ❀ ❀

تجرید

لـه دنیـا پـه هسـی شـان مجـرد اوزه! چـه دي طمـع د کفـن نکـړی نبـاش

❀ ❀ ❀

د محبوبې په اړخ اووښته

محبوبـا پـر پالنـګ وا ووښـته لـه خوابـه کـه هوسـی وه د بهـار پـر ګلـو رغښـته

❀ ❀ ❀

د خال ځښکو

رنـدې سـترګی د زاهـد بـه بینـا نشـی مګر ته ورته میده د خال ځښکو کړی

❀ ❀ ❀

د پیر محمد د اشعارو نمونې:

## لمړی نمونه

نشته هغه وخت چه خپل جانان را سره درومی
لاس پـه لاس و بـاغ تـه خرامـان را سـره درومـی

چـا خخـه بـه غـواړم زه سـراغ د سـرو قـدو
خضـر پـدې لاره چـه حیـران را سـره درومـی

زه او تصـور د یـار د مـخ سـره همـراه یـو
هـر چیرتـه چـه ځـم مـاه تابـان راسـره درومـی

درومـم زه صـحرا تـه د فـراق غمونـو تنـګ کـړم
روح د مجنـون ویـنم همعنـان را سـره درومـی

مینـی سرګشـته لکـه آسـیا کـړم نـه پـوهیږم
زمکـه پـر مـا ګـرزی کـه آسـمان را سـره درومـی

وصف چه له سوزه د ګلرخ زه پیرمحمد کړم
درومـم پـه ژړا بلبـل نـالان را سـره درومـی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې شعر کښې پير محمد ته هغه وخت ور يادېږى چه خپل جانان به ورسره لاس تر لاسه نيولى و او دواړه به يو ځاى باغ ته تله. د همدغه وخت په ياد د سرو قدو په سراغ پسې اوزى او د حيرت سفر کوى، ده سره پدى لار کښې خضر هم ملګرى دى مګر څه پته ورسره نشته او حيران روان دى. د خپل يار تصور لکه ماه تابان ورسره دى د مجنون روح، اسمان او ژړېدونکى نالان بلبلان ئى هم د لارى ملګرى دى خو يو هم نه پوهېږى چه چېرته ځو او د مقصود منزلګاه چېرته ده، د عشق سفر او د عاشق سياحت بايد همدغسى سرګشتګى او حيرانى ولرى.

❀ ❀ ❀

## دوهمه نمونه

څوبه په غم کښې دل سوخته سينه افګاره ګرزم؟
څوبه بار څوپه وينورنګ لېمه خونباره ګرزم
څوبه زاغان کاکامرانى د نوبهار پرګلو؟
څوبه نوميدزه عندليب له دى ګلزاره ګرزم؟
څوبه طبيب زما پر حال نظر د رحم نکړى؟
څوبه ضعيف زېره ګونه هسى بيماره ګرزم؟
څوبه تل هسى لکه موجه په اضطراب يم خلقه؟
څوبه په هجر کښې بى صبره نا قراره ګرزم؟
څوبه اغيار پر پير محمد لکه اغزى خرخېږى؟
څوبه په عشق کښې ګله من له ګل رخساره ګرزم؟

❀ ❀ ❀

څوك چه په يوه شى پسى ډېر وګرزى او لاس ته ورنشى هغه ته ارومرو همدغه راز سوالونه پيدا کيږى پير محمد هم ډېر وګرزېده او ستړى شه، د هجر بى صبرى او ناقرارى د موج اضطراب ئې وليد په سترګو کښې ئى د اغيارو اغزى وخرخيدل، بار خوئى په وينو رنګ او لېمه ئى خونباره شوه، ضعيفى او بيمارى ئى زياته شوه، طبيبانو پرى رحم ونکړ خپله نا اميدى او د زاغانو کامرانى ئى په خو خو وارو وليده، بې اختياره ئى د غه کلمات له خولى ووتل او دا پورته شعر ورځنى جوړ شو.

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریمه نمونه

پرېږده! ما رقیبه چه خپل یار لره وردرومم — سترګی می کړی توری چه دیدار لره ور درومم
باد سبا راکړ د ګلرخ پیغام د زلفو — وخت د نوبهار شه ګلعذار لره ور درومم
رنګ په رنګ ګلونه ئې غوړیږی په ګلزار کښې — اوس به د بلبل په دود ګلزار لره وردرومم
څه شو که په اور ئې غم د مینی کباب کړی — بیا لکه پتنګ آتش رخسار لره وردرومم
زړه مې دی ډك شوی په خوناب له ډېره غمه — وینی چه مې خوری هغه خونخوار لره وردرومم
وائی عالم ماته د عشق راز به دی په دار کا — وایم زه منصور یم خوښ په دار لره وردرومم
خدای له نورو خلقو بینوا زه پیر محمد کړم — ځکه په شتاب د یار دربار لره وردرومم

❀ ❀ ❀

پیر محمد ته پس له ډېری مایوسۍ او سر ګشتګی د سبا باد د پسرلی په وخت کښې د اشنا د زلفو بوی راووړاو بیائی په زړه کښې د دیدار آرزو پیدا شوه ځکه چه په پسرلی کښې مړې آرزوګانې هم ژوندۍ کیږی او افسردګی له سړی څخه ځی د همدی لامله پیر محمد وائی چه د نوبهار وخت ښه ز ما د ګلعذار په ګلزار کښې رنګ په رنګ ګلونه غوړیږی اوس لکه بلبل زه هم ګلزار ته درومم، هیڅ پروا نشته که د مینی په اور لکه پتنګ خپل آتش رخسار کباب کړی یم، زړه می که له ډېره غمه په خوناب ډك دی هغه خونخوار ته ورځم چه د زړه وینی می خوری او زما وینو ته تږی ناست دی، عالم را ته وائی چه د عشق راز به دی په دار کړی زما جواب دا دی چه زه منصور یم او په شوق د دار په لور ځم، له نورو خلقو خدای بینوا کړی یم او د یار دربار ته په شتاب درومم.

دا خبری دی کوی او روانیږی مګر له خدایه هم سوالونه کوی او د عشق په لار کښې ورڅخه صبر و توفیق او خپلی معشوقی ته رسیده په لاندینی ډول غواړی:

❀ ❀ ❀

## څلورمه نمونه

الهی یو ځل دیدن د مهوش راکړی — له روزنه مې حجره د زړه رڼا کړی
چه په زلفو د ګلرخ وی بلو سېدلی — معطر می په هغه باد سبا کړی
درد زما له حده زیات صبر می کم دی — په دا درد باندی غالب صبر زما کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه زه چه وم له اصله په ګلشن کښې
هسې شان مې عندلیب پر ګلو بیا کړی

هر سحر وصل د یار په دعا غواړم
مستجابه مې مجیبه! دا دعا کړی

بوی د عشق ئې له تربته جلا مکړه
بند په بند چه پیر محمد خپله جدا کړی

❀ ❀ ❀

وروسته تر دی چه دی دا سوالونه کوی او له خدایه د زلفو عطر، په ګلو عندلیبی او د یار وصل غواړی یو ه داسی ګلزار ته ننوزی چه هلته هر څه شته او دی حیرانیږي چه کوم یو له بله ښه دی؟ نو دا پوښتنی پدی ډول کوی.

❀ ❀ ❀

## پنځمه نمونه

کوم یوله دووښه دی سپین رخسار که چنبیل ګل؟
کوم یوله دووښه دی تور ګیسو که دا سنبل؟

کوم یوله دووښه دی چه بیدار د مین زړه کا
ساز د مطربانو که پر ګل د بورا شخول؟

کوم یوله دووښه دی مخموران دی تمیز وکا
جام د لعل ولبو که پیاله د ګل ومل؟

کوم یوله دووښه دی د وصال په نوبهار کښی
راز د عشق په زړه کښې که چغاره د بلبل؟

کوم یوله دووښه دی د فراق په درد وغم کښې
داد فریاد پر ښکلو که تل صبرو تحمل؟

❀ ❀ ❀

په دغه وخت کښې چه دی د حسن په باغ کښې د انتخاباتو په فکر کښې دی او هر څه مهیا وینی مګر د یوه ترجیح په بل نشی کولی بیا ورته د بلی ورځې د هجران فکر پیدا کیږي چه یوه ورځ به دا ګلزار او د بلبلو چغار، ګلرخان او تار تار زلفي وی مګر مونږ به نه یو د چا په برخه چه خدای سوزېدل او کړېدل، د عشق غم او درد کړی وی هغه هېڅکله له افسوس او ارمانه په دنیا کښې نشی خلاصېدای ځکه پیر محمد د بلی ورځې یعنی د سبا د غم د سندره پدی ډول شروع کوی:

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږمه نمونه

دریغه ګل به د ګلزاروی مونږ به نه یو    د بلبل به پری چغار وي مونږ به نه یو
زلمی جونه به سیلونه د صحرا کا    کوه و دشت به لاله زار وی مونږ به نه یو
څوك به ږدی تازه ګلونه په اربل کښې    چا به ایښی پر دستار وی مونږ به نه یو
ګلرخان به ګهی ناز ګهی نیاز کړی    عاشقان به صد هزار وی مونږ به نه یو
چه عنقا غوندی مرغان ئی په دام نښلی    هغه زلفی به تار تار وی مونږ به نه یو
یادګاری به په جهان کښی پیر محمده!    دا زمونږ شیرین ګفتار وی مونږ به نه یو

❀ ❀ ❀

## اوومه نمونه

خندا بس کړه ای نادانه ګریان اوسه    پخپل ځان باندی د رحم باران اوسه
رنګارنګ ګلونه وکره په باغ کښې    په همت باندی بلبله پاسبان اوسه
په عالم کښې ځان خلوت کړه له عالمه    دردانه شه په صدف کښې پنهان اوسه
آئینه د زړه په عشق سره صیقل کړه    بیا جمال ته د خوبانو حیران اوسه
و مطلب ته رسېده څه آسان نه دی    لکه چرخ ورپسې تل سرګردان اوسه
د بهار هوا هوس واړه تر شا کړه    د خزان له ډېره غمه نالان اوسه
درسته شپه لکه شبنم هسی ویښ ره!    و جمال ته د ګلرخ نګران اوسه
د حق ذکر کړه جاری په تمام تن کښې    سر تر پایه پیر محمده! زبان اوسه

❀ ❀ ❀

## اتمه نمونه

یار می ولاړ ورپسې کاږم خروش ځکه    دم په دم راځخه ځی عقل و هوش ځکه
می د مینې لیلی راکړه کناره شوه    د مجنون په دودیم مست و مدهوش ځکه
رنګ د شونډوئې را یاد شو په هجران کښې    لکه خم د میو راغلم په جوش ځکه
په چشمانو کښې ئی ویره د صیاد ده    تل په روڼو سترګو خواب کا خرګوش ځکه
وچ لامده د مظلومانو په آه سوزی    طاقت نه کا راته هېڅ خرقه پوش ځکه
دا د فریاد می و فلك ته نه رسیږی    د پتنګ په دود وریتېږم خموش ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهمه نمونه

تـه چـه هسـی کـار و بـار د دي دنیـا کـړی
چېرې نـه چـه هېر لـه دلـه خپل اشـنا کـړی
هغـه رزق چــه مقــدر دی زیــات بــه نشــی
کـه پـه کـور کښـې زرغـون بـوټي د کیمیا کـړی
راشــه راشــه نیکنــامی پــه دنیــا پیــره!
نشـته سـود تـر دا پـه پورتـه کـه سـودا کـړی
نیکنــامی کــه پــه دولــت حاصــله نکــړی
دا رنـګ فکـر دی صـواب نـه دی خطا کـړی
پس لـه مرګـه کـه ارمان کـړی پـه کـار نـه دی
نـن دي وخـت دی د درد منـو کـه دوا کـړی
کـه پـر ښـه بانـدی ښـه وکـړی خرخـاری ده
مـرد هلـه ئـې کـه بـدی لانـدی تـر پـا کـړی

❀ ❀ ❀

# خلوریځی

### پټ داغ

عاشـق کـه خانـدی هـوا د بـاغ لـری
مکـړه ګمـان چـه خـاطر فـراغ لـری
غنچــه غــوړېږی د لالــه ګــوره
پـټ پـه سـینه کښـې دننـه داغ لـری

❀ ❀ ❀

### د بڼ طوطیان

مــونږ لــه هــوا ده تنهـا راغلــی یــو
د بـڼ طوطیـان یـو پـه دام وتلـی یـو
غمــازه ظلــم را بانــدی مکــړه
د ښــویارانو فــراق نتلــی یــو

❀ ❀ ❀

### نوروز

خېــره د ګــل شــوه شــمع افــروزه
بلبــل چغــار کالــه درد و ســوزه
چـه پـه موسـم دی خوبـان هـوس کـا
تــر هــوا جــار شــم د تــا نــوروزه!

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غنچه او بلبله**

معشـــوقه خانـــدی زهيـــره کلـــه ده    غـم ئـی زمـا دی ښـادی ئـی خپلـه ده
نسـيم غنچـــه کـــړه د ګـــل خندانـــه    پـــه چغـــار ګـــډه خـــواره بلبلـــه ده

❁ ❁ ❁

**د رقيب دام**

د يـار پـه درکښـې چـه رقيـب دام ږدی    محيـــل ابلـــيس دی د مکـــر دام ږدی
مـــين بلبـــل شـــه هـــوا د ګـــل لـــری    غمـاز پـه لارکښـې اغـزی مـدام ږدی

❁ ❁ ❁

# (۳) کاظم خان (شيدا)(۱)22

د ښتو هغه شاعر دی چه په شاعرانه مضمونو پيدا کولو کښې ئی په ښتنو کښې ساری په نظر نه راځی او نازکخيالی ئی هم داسی حد ته رسيدلی ده چه په عادی نظرونو نه ليدل کيږی.

دا دوه صفتونه د ده په اشعارو کښې ډيره زياته غلبه لری او همدغه د مضمون آفرينۍ او نازکخيالۍ زور دی چه د ده په اشعارو کښې ساده خبری ډيرې نشو موندلی.

که چيری د شيدا په شعر کښې پردی لغتونه او بل راز ترکيبونه نه وای يعنی له دغی معنوی لوړتيا سره ئې ځينی نور شعری صفات هم پوره درلودای او جمله بندی يا د کلماتو تاليف ئی د ښتو له سبك و اسلوب سره موافق وای نو د ده شعرونو او د ده شاعرۍ خورا لوړ مقام پيدا کاوه مګر دا د شعر و ادب عشوه او کرشمه ده چه هيڅچا ته ځان پوره نه تسليموی او د هيچا پوره احاطه او مالکيت په ځان نه قبلوی.

هغه اعتراض چه ځينی کسان ئی د ژبې د سبك او سلوب په لحاظ په بيدل کوی يا وائی چه د ده مضامين لکه معما ډير فکر غواړی د شيدا په شعر هم کيږی او د ده شعر په ښتو

۱: د افضل خان ځوی د اشرف خان نمسی او د خوشحال خان ختك: کړوسی دی چه په (۱۱۳۵ هـ) کښی زيږيدلی او تر (۱۱۹۱) پوری ئې ژوند په يقين سره ثابت دی ځکه چه پخپل يوه بيت کښې ئی دغه کال ياد کړيدی (پښتانه شعراء)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې هماغه رنګ او کيف لري چه د بيدل اشعار ئې په فارسي کښې لري مګر هغومره چه هلته له بيدولو ازموکار اختيل شوی دلته نه دی اختيل شوی.
شيدا د شعر په نسبت خپله نظريه داسې ښکاره کوي:

مضـــمون د شـــعر لکـــه پيکـــر دی — رنګـين الفـاظ ئـې رخـت و زيـور دی
ورتـــه ضـــرور دی دا دواړه ځيـــزه — پيکـر کـه هـر څـو دلربـا تـر دی

❀ ❀ ❀

د همدغې نظريې په اساس ده پخپلو اشعارو کښې فارسي او عربي رنګين الفاظ دومره ډېر کړي چه د پيکر دلربائي پکښې ورکه شوېده او هر څوك ئې احساس نشي کولی.
دا نوموړی شاعر خپل شعر او خپله شاعري مونږ ته پدې ډول معرفي کوي.

هـــر مضـــمون مـــې طبعـــزاد دی — ګـــل زمـــا د رای ايجـــاد دی
نـــه غلـــط نـــه مبتـــذل دی — تـــوارد ئـــی محتمـــل دی
چـــه نـــازك د چـــا خيـــال وی — هـــم بلنـــد لکـــه هـــلال وی
تامـــل پکښـــې ضـــرور شـــی — پـــس لـــه هغـــه پـــری مـــرور شـــی
کـــه صـــحرا ګـــل و ګلـــزار وی — آهســـته خـــرام پـــه کـــار وی

❀ ❀ ❀

دا نازکخيال او بلند خيال شاعر چه کله ئې خپل شعر ډېر خوښېږي او خپله شاعري ستائي نو وائي:

پـه دا وقت کښـې کـه شـيدا دواړه مهمنـد واي — ثنـــا خـــوان بـــه و هـــر دم ســـتا د ويلـــو

❀ ❀ ❀

په بل ځای کښې اظهار کوي:

شـــيداخان بـــه دي کـــامير د شـــاعرانو — که مزارو ته ئـی عرض د تا انشاء شـی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه مهمند (رحمان، حمید) نښئی او خان خو خوشحال خان خټك دی چه دی ورځنی پس له مړینی تقدیر او مکافات غواړی.
دی په یوه بل ځای کښې هم رحمان بابا پدې ډول یادوی:

نن رحمان په دا مصرع د شیدا زړه وړی　　　ته پری ئی که آهوئې که جادو کړی

❀ ❀ ❀

یعنی د ده د غزلی پیروی او د وروستی مسری په دلربائی اقرار کوی.
شیدا که څه هم ځینی نور شاعران لکه میرزا، دولت، واصل، په ښه کلام ستائی مګر خپل تحسین او د خپل شعر ستاینه له دواړو مهمندو او د شاعرانو میری له خپل نیکه خوشحال خان څخه غواړی او دوی ته له نورو نه په زیات حق قایلیږی. هو! ځوك چه په یوه مصرع له چا نه زړه وړلی شی هغه ته باید سړی په غټ حق قایل وی. شیدا که څه هم خپله نا خبری یا نه پوهېدل یونیم ځای پدی ډول بیانوی:

هـېڅ خبـر لکـه نـرګس پـه احـوال نـه یـم　　　چه په څه چمن کښې ناست یم تماشا کړم

❀ ❀ ❀

پـه معنـی د معنـی پـوه نشـوم بـاور کـړه　　　مـا کتلـی درسـت صـراح تمـام قـاموس دی

❀ ❀ ❀

مګر دا خو هغه راز اقرار او عالمانه حیرت دی چه له ډېرو پوهو خلقو د خپلی انتهائی پوهې په وخت کښې لیدل شوی او اورېدل شویدی.
ځوك چه د معنی په معنی پسی ګرزی هغه البته د بشری پوهی نیمګړتیا ته ملتفت کیږی او ځان د جهان د چمن نرګس ګڼی چه د خپلی تماشا په کیف نه پوهیږی. د شیدا زړه د علم و معرفت یوه داسی مدرسه وه چه له غیره خالی وه او د عمر و زید تکرار ونه پکښې نه کیده ځکه وائی:

مدرسـه د زړه خـالی بویـه لـه غیـره　　　تـابکی بـه دی تکـرار د عمـر و زیـدوی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیدا خپل ځان مونږ ته داسی رابنئی:

چـه لنبـو تـه د تنـور پـه شـان پیـدا ده | کـه پـوهیږی دا سـوخته سـینه زمـا ده
لکـه ابـر پـه هـیڅ وخـت نشـو بـې نمـه | هـر سـاعت زمـا پـه سـترګو کښـې ژړا ده
خوښ په شور لکه ساحل د سیلاب نه یم | چـه مـې اینبـی پـه عزلـت د کـور بنـا ده

❀ ❀ ❀

ژغـول مـی لکـه نـی مصـلحت نـه دی | پـه سینه کښـې مـی ناله پرپـږده مستوره

❀ ❀ ❀

هـیڅ سـراغ ئـی نشـی مونـدلـه برهمنـه | زمـا زړه پـه یـوه هسـی بـت مـین دی

❀ ❀ ❀

اوس ئـی پـل پـه مـږو ایـرو نشته عالمـه | اواره شـــیدا د څـــه دوهـــی ملنـــګ و

❀ ❀ ❀

وروسته تر دی لړی او مجملي معرفۍ اوس د شیدا مضمون آفرینی، نازکخیالی او اپتکار د ده له افکارو سره پدې لاندی متفرقو بیتو کښې وګوری؟!
په یوه ځای کښې غواړی چه د زردارانو عیبو ته خلق ملتفت کړی او ووائی چه سیم او زرو د دوی زشتی او عیبونه مونږ ته ښکاره کړیدی. دا مضمون ډېرو شاعرانو په راز راز پیرایو کښې بیان کړیدی. مګر شیدا ورته له ټولو نه بل راز شاعرانه پیرایه پیدا کوی او وائی:

د نرګس د سترګو ګل عیب نه باله شی | سیم و زر کاندی زشتی د هر چا خوبه

❀ ❀ ❀

نرګس به ډېرو خلقو په باغ کښې لیدلی وی او دی ته به هم ملتفت شوی وی چه په سترګو کښې ئې ګلان شته مګر هر چا دغه سترګی ستایلی دی او دې عیب ته ئې د هیڅچا پام نه دی شوی ځکه چه پدی ګل کښې طلائی او د سپینو زرو رنګ هم لیدل کیږی چه دغه زشتی ئی نبه کړیده مګر شیدا دې نکتی ته ملتفت دی او کله چه د زردارانو پټ عیبونه ښکاره کوی نو د نرګس د سترګو ګلونه سره له سیم و زره یادوی او ځانته یو ښه مضمون پیدا کوی.
په همدغه بیت پسې د خپلی زمانی ځان ځانی ته ملتفت کیږی او غواړی چه دا مطلب ډېر پوره افاده کړی نو وائی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما نـه د شـيدا هسې ځـان ځـانی شـوه　　　چـــه بـــلا کنـــاره درومـــی لـــه ايوبـــه

❀ ❀ ❀

په يوه بل ځای کښې وائی چه ما خپل راز پټ ساته مګر رسوا شوم او خپله پرده داری مې ونکړای شوه مګر دا مطلب پدی ډول ادا کوی.

شـيدا تـا د خپلـی مينـی رازپـو شـی کـړه　　　په پرده کښې د نغمی په شان رسوا شوې

❀ ❀ ❀

که سړی فکر وکړی په پرده کښې د نغمی رسوائی يو دا راز تعبير او مضمون دی چه د ډېرو باريك بينو خلقو ورته پام کيږی.
شيدا يو ځای له ممسکانو شکايت کوی او وائی چه دوی هميشه په بسط کښې قبض وی مګر دغه دوه ضد حالتونه چه اجتماع ئی منطقيانو ته ډېره ګرانه خبره ده په داسی مهارت جمع کوی او شاعرانه رنګ ورکوی چه هر څوك ئی منلو ته تيار دی لکه پدی بيت کښې:

هميشه وی د ممسك قبض په بسط کښې　　　پـه دريـاب کښـې شـيدا ګـوره ګردابونـه

❀ ❀ ❀

دلته د بسط دپاره درياب او د قبض دپاره ممسك ګرداب داسی مثالونه دی چه لکه ګرداب عميق او ژور فکر غواړی.
کله چه شيدا د ځينو سياه رويانو رفعت او لوړتيا ته ملتفت کيږی او نصيحت ورته کوی نو وائی:

ســـياه رو يـــه لـــړ رفعـــت لکـــه دود مشـــه　　　د آفتـاب غونـدی کـړه مـخ پـه رخشـانی کښـې

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې ځای کښې دود د سیاه رویی او لړ رفعت او د نمر لوړتیا او درخشانی سړی ته په لوړو خلقوو کښې دوه طایفې ښئی چه یوه طایفه په لړ ځکوالی مختوری کېږی او ځینی پخپله لوړتیا جهان رڼا کوی.

زمونږ دغه مضمون آفرین شاعر چه د دی عالم هری ذرې او هر لوری ته ګوری یو اعلی شاعرانه نوی مضمون ورته پیدا کېږی یائی پیدا کوی چه ځینی نور کسان ئی په عمرو عمرو هم نشی موندلی.

دی یو ځای د کرم او اسراف مضمونونه په دوه بیتو کښې راوړی او د دواړو تصویر پدی شان را باسی:

برګ و بار لکه بهار ورته پیشکش کړه　　که خزان راشی کریمه! ستا تر کوره
چه په ورځ لکه فلك شمع سوزی کا　　درسته شپه ئې تیاره نه درومی له کوره

❀ ❀ ❀

پدې دوه بیتو کښې که سړی غور وکړی پوهېږې چه دواړه مضمونونه په نوو پیرایو کښې ادا شوی او د دواړو دپاره اعلی مثالونه ښودل شویدې د کرم په باب کښې وائی چه که خزان دې کور ته راغی او میلمه شه نو لکه بهار خپل ټول برګ و بار ورته پیشکش کړه مګر سره له دغه امره د اسراف عاقبت هم ښئی چه که څوك بیهوده او بې له کومې فایدې خپل مال صرفوی یا د ده په عبارت لکه فلك د ورځې خپله شمع سوزی نو درسته شپه به ئې په کور کښې تیاره وی.

د شیدا په کلام کښې ځینی ډېر ساده بیتونه هم پیدا کېږی چه د رحمان بابا د ساده شعر خوند او ښې ښې خبرې پکښې پیدا کولی شو،

لکه دا لاندې بیتونه:

(۱) وفا:

چه له ښاخ سره وفا که په سره اور کښې　　لا تر ګله یم مین د ګل په خار زه

❀ ❀ ❀

سایه وار متحمل د سنګ و خار شه　　چه په لار د رفاقت درومی وفا کړه!

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) د بهار تماشا:

چـه مشـغول پـه تماشـا د نـو بهـار شـوم　　هېڅ حاصل مې پکښې نه و، بې ارمانه
په هر ښاخ ئې د ګلبن وی یو څو چیغې　　دریـده و پـه مـاتم کښـې څـو ګرېوانـه

❀ ❀ ❀

(۳) معشوقی ته خطاب:

د صحرا پـه لـور شـمال تـه زلفـی نیسـه!　　چه سبزه مې د مزار ګل د ریحان کړې
د بهـار پـه تماشـا دی څـه موقـوف و؟　　چه دې بلې سرې لمبې په ارغوان کړې

❀ ❀ ❀

(۴) یوسف:

څـه امیـد د انتفـاع کـوې لـه مصـره　　شـیدا نلـری یوسـف کـاروان د تـا

❀ ❀ ❀

کـه ئـی ووې زمـانی یـو څـو درهمـه　　تـه یوسـف څنګـه؟ پـه کمه بها پلـورې

❀ ❀ ❀

(۵) یتیم او بېکس:

څـوک پـه زخـم پاهـه ږدی د بېکسـانو؟　　د یتیم اوښې کړې وچې په استین چا؟
د بـېکس پـه مـاتم کلـه چـانعرې کـړی؟　　څوک په مرګ د شمع ولیده غمګین چا؟

❀ ❀ ❀

(۶) لوړ همتی:

چـه خپـل بـرګ پـه آب چـرخ نکـړم سرسـبز　　د همـت علـو پـه شـان د کهکشـان را

❀ ❀ ❀

چېری نـه چـه دار محـروم پـه میدان پرېږدی　　کـه یوسـر پـه تـن لـری بلنـد همتـه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

❁ ❁ ❁

آفــرین د هغــه ســر پــه عریــانۍ — چــه فـرو نشـه دسـتار او یـا افسـر تـه
که دې جام لکه حباب ونه نیو سیندته — آفــرین دې پــه همــت شــیدا ختکــه!

❁ ❁ ❁

چه همت مې نه کا ډېر په هسکولو — لکــه مــوج نکړمــه بــیم د پرېوتلــو
سوال مې خوی له در افشانه ابره نه دی — صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب پـه کمنـد نـه خېژم آسمان تـه — نـه ړدم بـار لکـه شـبنم پـه دوش د ګلـو

❁ ❁ ❁

(۷) مرده دل او بی ذوقه:

مرده دل ئـې د جمـال تماشا څـه کـا؟ — د مجنــون تصـویر ادا د لیلـی څـه کـا؟
د سـرور اسـباب پـه کـار د مهجـور نشـه — د دسـتار غنچـه مقـدم د سـبا څـه کـا؟

❁ ❁ ❁

(۸) غفلت او نادانی:

نـــادانی ګنـــه غفلـــت د رهروانـــو — لکه طفل د زانګو په تله کښې خـواب کا

❁ ❁ ❁

نـادانی درتـه بیضـه وسـیع جهـان کـړ — د هـوا پـه طیـران پـوه نـه ئـې معـذوره

❁ ❁ ❁

(۹) لوی:

د ذری پـه احـوال تـل د لمـر نظـر وی — لـوی به نه ګوری واړه په سترګه سپکه

❁ ❁ ❁

سرګردان کاندی ګرداب خلاف د بحر — پیـــــروی د لویـــــو ده بیمضــــــرته

❁ ❁ ❁

(۱۰) د زمانی سردی:

د تنــور شــعله بــه آب د فــواری شــی — سردجوشی کـه ورتـه یـاده د ایام کـړی

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوران سردجوشـــی هســـی تقاضـا کـا          چه په اور کښې دانه سبز شی د سپاندی

❀ ❀ ❀

(۱۱) ځان ساتل:

همیشـــه وی نـــرم چـــوب غـــذا د کـــرم          شـــیدا مشـــه مـــرد خـــالی لـــه سیاســـته

❀ ❀ ❀

سترګه نـه سـوزی د خـس لـه نـامردانو          کـه همـه لکـه ایـرې آتـش نسـب وی

❀ ❀ ❀

(۱۲) شاعرانه شکایت:

زمانـه بیـایئ کـاروان د ګـل خـرمن تـه          همیشه پخپل بوستان کښې پیایی خرونه

❀ ❀ ❀

زمانـــه پـــه رعایـــت د ګـــاو خـــر ده          پـــرورش د علـــف زار بویـــه باغوانـــه

د کـوری نیـل دی کـړه پـوری پـه دیـده خپـل          بصـــارت د تمیـــز نلـــری آســـمانه

❀ ❀ ❀

<u>د جام مستی:</u>

چېری نه چه ئی دا جام پریوزی له لاسه          عجب مست د جاه په میو شاه جم دی

❀ ❀ ❀

<u>کښې قافلې:</u>

د پاسبان پـه نعـرو هـېڅ احتیـاط نـه کـا          قـافلی د دې ربـاط مګـر کـښـی دی؟

❀ ❀ ❀

زمونږ دغه نوموړی شاعر چه د معنی په معنی پسی ئی قاموسونه لټول هیڅکله په صورت نه غولېده او معنی ئی غوښتله ځکه ئی ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدف لاس قطرې ته نيسي په درياب کښي          بزرګي د صورت څه کړی معنی غواړه!

❀ ❀ ❀

د همدی لامه ئی له انسانه هم رښتياني همدردی غوښتنه او يوازی د سترګو په اوښکو ياد دروغو په ژړائی قناعت نه کاوه او ويل ئې:

چه ليده پکښې اثر د الم نشي          څه حاصل لکه شبنم له چشم تره

❀ ❀ ❀

پخپلو اشعارو کښی هم شيدا معانی ډېر ښه پاللی دی او نيمګړی ئې نه دی پرې ايښی، ډېرو شاعرانو د خپلو معشوقو زلفو ته دامونه ويلي او خپله ګرفتاری ئی بيان کړيده مګر شيدا دغه دام ته ددانو په ځای د رخسار ګل پيدا کړی او بلبل ګيردام ئی بللی دی لکه په دې بيت کښی:

د دانو په عوض ګل لري په دام کښي          په رخسار ئې توری زلفی بلبل ګيری

❀ ❀ ❀

پدې دام کښې شيدا يوازی بلبلان نه دی نيولی بلکه د ختن آهوان ئې هم پکښې ايسار کړيدی لکه چه وائی:

بوی په زلفو کښې زما ګلبدن راوړ؟          که په دام کښې ئې آهو د ختن راوړ؟

❀ ❀ ❀

دا ښکار ګمان کوم چه يوازی شيدا کړيدی او بل چا په دام کښې آهوان نه دی نيولي يا ئې مونږ ته نه دی راوړی. هر کله چه يو شاعر د هر چا له بيانه پخپلو اشعارو کښې ډېر ښه پېژندل کيږی او د شعر او ادب آشنايان له يوځو شعرونو د شاعر شاعرانه اقتدار او افکار، خصوصيات او د شعر ډول په ښه شان ځانته معلومولی شی نو د نمونو په ډول ئې ځينی اشعار را اخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لمړی نمونه

تېزكاته د دې نګارې بې څه نه دی     د عالم سينې فګارې بې څه نه دی
قرينه ده د شهيد په حال ظاهره     سره لبان د دی خونخوارې بې څه نه دی
په سبزانو کښی د هند عجب طوطی ئې     ستا خبرې شيرين کارې بی څه نه دی
بيا به راشی څه آفت په ګرېوانونو     تله دی نن سبا رفتاری بې څه نه دی
مګر کاندې پاسبانی د مهرويانو     د فلك سترګې بيدارې بی څه نه دی
(شيدا) بيا ګلرنګ راغلی دی و باغ ته     د بلبل سوزنده نارې بې څه نه دی

❀ ❀ ❀

## دوهمه نمونه

نوبهار له باغ و راغ سره آشنا شه     په سرو سترګوئې ژړل ځنی جدا شه
د غنچی د رباط در په واکېده دی     قافله د رنګ و بوی درومی سبا شه
د سوخته جهان لوخړی فلك بولی     ستا خطا فکرته څه وايم خطا شه
آبادی ئی مستلزمه د زندان وی     هر خاطر چه ازاده لکه صحرا شه
چه په تله ئې خبر نشوې په افکار هم     ستا له صافه شسته تېر هسی رها شه
ودانی ئې بيا محاله ده نادانه     د شيدا خاطر لوی ښهر و تالاشه

❀ ❀ ❀

## دريمه نمونه

په نهاد د هر سړی کښې هنر نشته     د زانو په آئينه کښې جوهر نشته
کله جمع د توښې ازاده کاندې     په ښاخونو کښې د سروی ثمر نشته
د دنيا په تخريب زړه د سيلاب سوړ شی     د ظالم زړه کښې د رحم اثر نشته
په خوږه ژبه مرغوب لکه طوطی شه     که قدرت دې په عطا د شکر نشته
قدمبوس به ئې افسر د قيصروکا     چه سيلاب ئی لکه آب د ګوهر نشته
د همت علو احسان د غير څه کا؟     د ښو سايه په سترګو د نمر نشته

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلورمه نمونه

پـه دا وضع ئـی کـړ صدف لـه ځانـه لـرې
سرګوشـــي ور ســـره کانـــدی مرغلـــرې
ګویا ئې بـه د غنچې کاندی ځـوك يـاده
هـرې خـولی کلـه زده ګړیـدی خبـرې
بېتـابی ئـی پـه مـاتم کښـې د فرهـاد وی
چــه را ولــوېږی دغــره تــورې کمــرې
اسـتعمال ئـې پـه تـدبير د مجنـون بويـه
د ځنځيـر لـه حلقـو، نـه رغبـږی زغـرې
نفـع نـه کـا انـزوا چـه انسـان نـه وی
کـه مدام لکـه حيـوان پـه صحرا څـرې
د افتـاب شـعله د مـاه پـه خـرمن لګـی
ځنـی نـه کـا اقتبـاس د ږېـران سـرې

❀ ❀ ❀

## پنځمه نمونه

بـوی پـه زلفـو کښـې زمـا ګلبـدن راووړ
کـه پـه دام کښې ئـی آهـو د ختن راووړ
خاصـيت لـرى د ګـل غنچـه دهانـه
پس له کاله دی څـو ورځـی ديدن راووړ
چـه زمـا پـه آتشـين آه نـرم نشـه
زړه دې سخت راته تر سنګ و آهن راووړ
شـمع ځـان تـر مـرګ پخـوا ژاړی عالمـه!
د فـانوس پـه بهانـه ئـی کفـن راووړ
نـن شـيدا لـه ځانـه سير دی لکـه شـمع
ستا محفـل تـه ئـی بيسـره ګـردن راووړ

❀ ❀ ❀

## شپږمه نمونه

لکـه زرکـه د رفعـت پـه کهسـار بانـدې
لـه خنـدا سـره پـه سـرو سـترګو ژړا کـړه!
بـار د هـر خـس و خاشـاك پخپـل ګـردن وره
حوصـله دی پـه مثـال د لـوی دريـا کـړه!
تـر غرمـې دی د افتـاب زوال ليـده شـی
وعـالم و تـه زړه صـاف لکـه سـبا کـړه!
پـه هـر آن کښـې پـر بوتـل دی لـرزان اوسـه
تواضـع پـه اوج د مـوج غونـدې پيـدا کـړه!
چـه راحـت درخخـه سـترى سـتومان مـومى
خپـل صـورت دی لکـه سيورى د بيديا کـړه!
چـه دی مـخ لکـه د صـبح صـادق سـپين وی
پـه هـر کـار کښـې لـه عـالم سـره رښـتيا کـړه!
سـايه وار محتمـل د سـنګ و خـار شـه
چـه پـه لار د رفاقـت درومـې وفـا کـړه!
چـه اقـوال ئـې پـه خـلاف د احـوال ويـنم
اعتـراض پـه خامـه طبـع د شـيدا کـړه!

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوومه نمونه

پـه مـزار مـې د ګیـاه ښـاخونه نـی شـوه | لامـې زړه پـه جـوش د آه و فغان پـردی
خوار خسته ئې دې هر لور په نمك سوی | لا هغسـې د اسـمان نمكـدان پـردی
وری زه لـکه مخمـل د غفلـت خـوب یـم | که په شور کـوی و بازار د کاشان پر دی
پـه احـوال ئـې شـه خبـر د مصـر عزیـزه! | پـه نالـه د بېګنـا هـو زنـدان پـر دی
زمـا، یـوګـل د لنشـین لکـه غنچـه شـه | کـه د ګلـو پـه انـواع ګلسـتان پـر دی
د لیلـې ادا کـه نشـته شـیدا ولـې؟ | پـه شـورش د لـوی جنـون بیابان پـر دی

❀ ❀ ❀

## اتمه نمونه

هر قاصد چـه روان شـوی پـه تـورتم دی | پریـوتلی هغـه دم لکـه شـبنم دی
د لیلـی پـه رګ نشـتر قـیس مجـروح شـه | که ئی نه وی دا صفت کله همدم دی
په معنی کښې ئی لیده کنبلی صورت شی | کـه مبنـی پـه دا دیـوان بیت الصنم دی
چـه جرعـه ئـی د سـاغر نشـته د میـو | پـه قطـره ئـی قـادر نـه بـولم کـه یـم دی
رغیـده ئـی لکـه بـرق معـاً فـوراً دی | تا چه ایښی په هر زخم خپل مرهم دی

چـه سایه کانـدې مـدام پـه سـر د سـترو
(شـیدا) شـام د غریبـی عجـب عـالم دی

❀ ❀ ❀

شیدا په یوه ځای کښې عبدالقادر خان هم یادوي او د یوی مسری ستاینه یې پدی ډول کوی:

شـیدا خـوښ پـه دا مسرع عبدالقادر کـړ | دلبـر مـخ را تـه ښـئی پـه هـر آئـین کښـې

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۴) عليخان ختټك(۱)23

دا نوموړى شاعر چه پلار، نيكه، غور نيكه درى واړه ئې شاعران تېر شويدى په پښتو كښې يو ښه وړوكى د شعر ديوان لرى چه ډير خواږه اشعار پكښې شته، مګر د ده ديوان لكه د شيدا ديوان په نازكخياليو او پيچيده مضامينو نه دى ډك او ساده شعرونه پكښې ډېر دى. هغه ځوك چه شيدا د حميد شاګرد، يادوى او حميد د يوه سبك پالونكى او لرونكى بولى عليخان د رحمان بابا شاګرد او د ده د سبك پيرو ګڼى، ځينى وائى چه عليخان د خوشحال خان په سبك روان دى او د خپل نيكه پيروى كوى.

ځوك چه د عليخان ديوان ببرته كړى او د ده حال د ده په اشعارو كښې ګورى معلومېږى چه دى هم د عشق له درد و غمه لكه حيمد ډېر شكايتونه لرى او عشق ته نږدى نږدى په هماغه سترګه ګورى چه حميد ورته كتلى دى.

عشق:

كـه د عشـق معنـى دى نـژده درتـه وايـم
ځكنــدن دى تــر انجامــه لــه آغــازه

عقــل شــرم، قــرارى د ســرى يوســى
لفظ د عشق به خبر دركړى له دې رازه

❁ ❁ ❁

هــيځ اثــر بــه ئــى د عقـل پاتــه نشــى
پــه هــر زړه بانــدى چــه وكــا اثــر مينــه

❁ ❁ ❁

چــه ســودا د محبـت كـا پـه جهانكښــى
د جهـان دغـم محنـت ئـى اجـاره كـړ

❁ ❁ ❁

نېكـان ځكـه جنتيـان دى چـه ميـن شـى
پـه دنيـا كښـې ورښـكاره كـا سـقر مينـه

❁ ❁ ❁

ختــى د عاشــق چــه لا اخښــلى ملايكــو
غم ئى لكه بوس هسى وركډ كړ په خمير كښې

❁ ❁ ❁

د عشق باز مې په خاطر كا پنجه خښه
شــوكوى زمــا د زړه د ځيګــر غوښــه

❁ ❁ ❁

شيخ ومحتسب، رقيب، نصيب، هجر، چغل، عشق
دا اوه پــــه مــــا اوه اســــمانه نــــړوى

---

۱: د افضل خان ځوى د اشرف خان نمسى، د خوشحال خان كړوسى، د كاظم خان شيدا ورور دى له (۱۱۵۰ هـ) څخه وروسته ئى د ژوند پته لګېږى او تر (۱۱۸۰ هـ) پورى ئى ژوند په يقينى ډول معلوم دى ځكه چه پخپله يوه بدله كښى دغه كال پدى ډول ښئى. سن د هجر غرو، سردكانى ترى كمتر و. (پښتانه شعراء)

(c) ketabton.com: The Digital Library

❁ ❁ ❁

همدغه د عشق او مينې غمونو عليخان داسې حد ته ورساوه چه ژړا خو لا څه کوې چه خندا به ئې هم له درده وه لکه چه وائی:

واژه خوله لکه پرهار له درده خاندم ستا جفا ته له حيرته خندا راغله
لکه وخاخې شونتې د اور له تاوه هسې ماله نن له سوخته ژړا راغله

❁ ❁ ❁

په چا باندې چه غم دغه راز استيلا وکړی او د هجر محنتونه پرې راشي د هغه فريادونه بيا لرې لرې ځايو ته رسيږی او زمانه ئې تر ډيرو وختو پورې ساتی يعنې د يوه مهجوراوديوه رنځور فرياد ډير فرق لری او يو راز نه وی.

د رنځور فرياد خو خپله خونه اوری د مهجور سړی فرياد ځی په خو کروه

❁ ❁ ❁

دغه فريادی شاعر چه کله ئی له خپله بخته او کله ئې له عشق او مينې شکايتونه کړيدی، يو وخت ئی د شکلو له جفا او هجرانه او بل وخت ئې له رقيبانو او ناصحانو خپل ګريوان ځيرلی دی د ده له فريادونو د عشق سندرې جوړې شوی چه اوس په زړونو اثر کوی او د دردمنو درد زياتوی.
يو وخت عليخان د ناصحانو خبرو پوزې ته راوستلی دی او وائې:

ما چه ناصحان له خپله عشق اړوی عشق په مثال اور دی په پوکی ئی سړوی
شيخ راته تاروه تار وه ويل د نصيحت کا لامی د پرهار د پاسه مالګې دوړوی
خود له درده شين له ځان پکو ناست يم واعظه شيخ و محتسب دی ژبې سمی غړوی
شيخ و محتسب، رقيب، نصيب، هجر، چغل، عشق دا اوه په ما اوه اسمانه نړوی
سر مې په ميدان د محبت کښې ايښی ګوی دی خدايزده چه خوبان به ئی تر کومه رغړوی
ورشه اې ريباره د وصال زيری تری راوړه خو به رنځوران په انتظار کښې کړوی

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ریبار چه ځی له هغی خوا لکه چه کوم نبه خبر راوړی او علیخان ته یو داسی مجلس میسرېږی چه هلته غیرو غماز نشته او یوازی دی او یار، مطرب او ساقی ناست دی (یوازې ورته ځکه وویل شوه چه مخالفین پکښې نشته او ټول خپل دی) ځکه خپله سندره بل راز شروع کوی او وائی:

پورتـه شـه! سـاقی قاضـی معزولـه مـلا کـار کـا — راکـړه پیـالې خلـی نـه لا داشـته نـه هغـه
راشه! ډمه وخت دی محتسب شیخان اوده دی — و وایـه بـدلې نـه لا دا شـته نـه هغـه
غـرو کـړه پـر ګلـوژمـی لاړ شـه خـزان پـس دی — مـالوزه بلبلـی نـه لا داشـته نـه هغـه
زیـری دی وی یـاره رقیـب ړونـد غمـاز پکـور شـه — راشـه کـه څملـی نـه لا داشـته نـه هغـه

❀ ❀ ❀

دا راز د امید واری او ښغمی سندرې د علیخان په دیوان کښې ډېرې کمی دی او په نیست حساب دی نو که غواړی چه د یوه دردمن او غمجن زړه آه و فریاد واورئ دی خپل شکایتونه مونږ ته پدی ډول بیانوی:

<u>زمانه او بخت:</u>

زمـانې راسـره واخسـته یـك لختـه — هـره ورځ پـه ما راځـی سـخته پـه سـخته
ژړا رعد، باران او ښکو به مې ویښ کړو — کـه اوده وای ولـی مړئـې زمـا بختـه

❀ ❀ ❀

<u>جفا:</u>

پښې ئی ښکلوم د جفا زهر مدام څکمه — هم لکه مجنون هسی یار نشوم د لیلی
ښـکلی د مجاز خـو د جفا تحصیل تمام دی — نـه دی خبـر شـوی د وفـا لـه مسـلی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هجران سندره

يار مي په خاطر د جفا اور ولګاوه ... ما چه مړکاوه هجران پری نور ولګاوه
مائې لاله دره سوال جواب مونډلی نه و ... زر بيا سپی رقيب راپسی شور ولګاوه
خوږ زړه مې يارښه کړو په ترخو ترخو خبرو ... دائی پری د مالګی تود ټکور ولګاوه
باغ زما د ګلو زاغ لوټی زه ورته ګورم ... خدای مې په ژوندونی ميراث خور ولګاوه
يو وصل د يار که مې مونډای په زر سفره ... اور به مې هزار ځله په کور ولګاوه
ځکه ښايسته شوه کشيده زما د شعر ... مينی د ګلرخ پکښې انځور ولګاوه
کښيووت عليخان په هسی شوږو خونه چوړو ... وژله ئی زده نه وه پری ئی لور ولګاوه

❁ ❁ ❁

دغه راز شکايتونه نور هم هر ځای کوی او وائی:

خلقو خو به وې چه پټ په فعل کښې ضمير وی ... ما فعل جفا وليد ځرګند ستا په ضمير کښې

❁ ❁ ❁

ژوبل زړه به دی روغ نکړی عليخانه! ... پسی مه ځه جراحان دی طبيب نشته

❁ ❁ ❁

عليخان به له هغو نه ځه ګله کا ... چه برسېره پوست ئې سپين خوی ئی دروی

❁ ❁ ❁

ستا جفا خو قبلوم ولی تر کومه؟ ... له وفا زړه صبروم ولی ترکومه؟
د ډېر ظلم حال دې نه وايم وچاته ... ټول په زړه کښې ځايوم ولی تر کومه؟
د رقيب تېره ويل له حده تېر شوه ... ستا په مخ به ئې تېروم ولی تر کومه؟
زه خبريم تا ويلی لاپخواو ... چه فلانی به رنځوم ولی تر کومه؟

❁ ❁ ❁

ستا ابرو يو زه کړمه بې قدره بی تمکينه ... خوږ عمر مې تريخ شه په سرو شونډو شکرينه
واړه معشوقی که له عاشقو بی پروا وای ... نه به مړه له هجره په فرهاد پسی شيرينه
دا مې له جنونه دماغ وران شه سودائی شوم ... يامی په زړه و او رېده د تورو زلفو مينه
ستا د مخ سرخی زما زردی چه روز افزون ده ... سری شونډی دی تل خوری زما خوار د ځيګر وينه
سپين انګی تور کاکل ئې نقش دی په زړه کښې ... ځکه پروا نه کا عاشقان له تورو سپينه

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرۍ شـونډی نـرۍ پـوزه نـرۍ وروځـی خـدای دغـه بهانـه زمـا د لاغـری کـړه
بـی لـه پـوهی بـل څـه څیز راسره نـه و چـه تحفه مـی استقبال تـه دیارۍ کـړه

❀ ❀ ❀

د عشق او مینی همدغه سوزو ګداز د علیخان په زړه کښې دومره حرارت او سوی پیدا کړی چه د دنیا د سولو امید ترینه کوی لکه چه وائی:

حـق حیـران متحیـر یـم دی دنیـا تـه چـه لانـه مـی ده د آه پـه لمبـو سـوې

❀ ❀ ❀

له همدغه آهه دی خپله معشوقه هم پدی ډول وېروی:

وچ لکـه دروملـه شـوم اور د مینـی تـه واښـه شـوم نـرم تـر او بـه شـوم ویـره کـړه زمـا لـه آهـه
سخت زړه به دی موم کړم خپل احوال که درمعلوم کړم ولـی دی محـروم کـړم د چشـمانو لـه نګاهـه

❀ ❀ ❀

سره له دغو ټولو زحمتو او سختیو چه ده د عشق په لار کښې لیدلی دی بیائی هم په عشق او مینه کښې څه نقصان نه دی راغلی او دومره محبت ئی په زړه کښې و، چه که چا مینه پور غوښتلی نو ده ته به راتله لکه چه وائی:

که درخـو وای نـن لـه تابه ئی ښایست غوښت آدم خـــان بـــه وور د مینـــی پـــور لـــه مـــا

❀ ❀ ❀

که خوبانو له علیخان سره څومره جفاګانی کولې بیا هم ده بی یاره عمر ژوند نه باله او ویل ئې:

دا بی یاره عمر شمار په ژوندون نه دی مـا رښـتیا وایـه و یـار تـه د جـان لفـظ

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معشوقو هر حکم ده په سر او سترګو منلی دی لکه چه پخپله وائی:

بـل جــواب علیخــان نــزده د خوبــانو خـو هر حکم ته ئی وائی چه په چشم

❀ ❀ ❀

علیخان وائی زه له خدایه جام جم نه غواړم بلکه د حقیقت له جامه محبت غواړم.

محبــت د حقیقــت لــه جامــه غــواړی علیخان له خدایه نه غواړی د جم جام

❀ ❀ ❀

نوم د مجاز اخلی، بلبل د حقیقت د ګل دی څه تپوس نه دی علیخان چه په مرداره ګرځی

❀ ❀ ❀

علیخــــان لــــه فــــانی مینــــې ګـــــوتی وښـــــکی پــــه رښــــتیا

❀ ❀ ❀

زمونږ دغه د حقیقت جام غوښتونکی شاعر چه عمر ئی په غمونو کښې تېر شوی یوازی له خوبانو او رقیبانو شکایت نه کوی، له خپله بخته، له خپلو تالو او د زمانی له فتنو هم پدی راز خپله ناراضی ښکاره کوی:

که طالع مې مبارك بخت می میمون وای لـه فتنـو د زمـانی څـه خـو مـامون وای

ما به وښکو هسی شعر په سوزش کښې چـه لایـق بـه دلیلـی او د مجنـون وای

پښــتنو بــه د میــرزا شــغل ونکــړو کـه خبـر زمـا د شـعر پـه مضـمون وای

سـتا د لبـودې حکمـت تـه بـه حیـران و کـه پیـدا زمـونږ پـه عصر افلاطـون وای

غـم د ترکــو لکــه فــرض لازم تــل شــه البتـه قضـا کیـده بـه کـه مسـنون وای

علیخـان د زمـانی پـه چـال نـن پوشـه هره ورځ وائی اوس دریغه که پرون وای

❀ ❀ ❀

پدی شعر کښې علاوه پدی چه له بخت او طالع څخه ناراضائی لیدل کیږی دا هم ورځنی معلومیږی چه د ده په وخت کښې په پښتو کښې د میرزا د دیوان شغل زیات و، او ده د هغه په اشعارو د خپل شعر برتری غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لامله چه د علیخان په اشعارو کښې د ده د افکارو او شاعرانه اقتدار یا د ده د حال احوال تصویر معلوم شی دا څو شعره ئې د نمونو په ډول وګورئ:

## لمړی نمونه

تاروګی په پتنګانو حساب نه دی — نفسانی په عاشقانو حساب نه دی
چه نه مهر محبت لری نه مالګه — سپین ږنګر دی په خوبانو حساب نه دی
هر غنی چه دلجوئی د فقیر نه کا — زراندوز دی په غنیا نو حساب نه دی
د بغل په کتاب څه شی علم بویه — هر صحاف په ملایانو حساب نه دی
چه د قام بهبود ته نه ګوری بیسوده — زورور دی په خانانو حساب نه دی

## دوهمه نمونه

ښه یم که بدیم خدای ته معلوم یم — غلیم ته کانی او دوست ته موم یم
خواږه ته خوږ یم کاږه ته کوږیم — سموته سم یم تریخ ته زقوم یم
د یار مریی یم په هسکه غاړه — که دی ظالم شی زه ئی مظلوم یم
په ځای ویل کړم پوله اینسول کړم — جاهل ته ګونګ یم ممسك ته شوم یم
په خدای کا دایم چه درته وایم — که خدای می نه کا چیرته یم کوم یم؟
علیخان وایم حیران په دا یم — چه ډېر دی وسوم ولی لاوم یم

## دریمه نمونه

یار آشنا چه کبرجن شی مه ئی وینه — چه بی پته دروغجن شی مه ئی وینه
که دی ورور که دی عزیز او که دی یار وی — چه کاسیر او بدلمن شی مه ئی وینه
که هر څو دی دلبری او دلجوئی کا — نادیده چه دولتمن شی مه ئې وینه
چه آشنا د حقارت په سترګو ګوری — که رستم نریمن شی مه ئی وینه
بی اخلاصه اقربا واوره پردی دی — که دی پلاروی چه دښمن شی مه ئی وینه
که ئی مخ تریښي سپین وی په دا څه شو — چه خاطر دی تري خیرن وی مه ئی وینه
چه په مال پسی پخیله لرګی واخلی — که ئی دوغ واږه روغن شی مه ئی وینه
چه بی آبه بی حرمته پکښې اوسی — هغه ځای که دی وطن شی مه ئی وینه
که هر څو په صورت روغ وی علیخانه — چه په خوی خصلت پمن شی مه ئی وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلورمه نمونه

درست له غمه ناقراریم لکه وم　　آشفته په غم د یاریم لکه وم
طبیب خپه راغه ونیوه چه جوړ شه　　زه هم هغسی بیماریم لکه وم
د یارۍ د باغ می ګل بوی کړی نه دی　　هره ورځ ئی خوړ په خاریم لکه وم
که خزان ئی د خط ګل کړو د مخ مړاوی　　هم بلبل ئی د ګلزاریم لکه وم
ستا زده ستا پټو نیتونوزده دلبره!　　زه خو هغه خدمتګاریم لکه وم

❀ ❀ ❀

## پنځمه نمونه

هله می د حقیقت له جامه شومه　　چه ځان خلاص کړی له ناموس اوله رسومه
ډېر د طمع ودانی ته هڅه مکړه　　ګوندی څټ ته به دې پرېوزی د غم لومه
طالبان خو په حصول د معنی پړه دی　　ته په څه صورت پرست شوی نا مفهومه
د نفس پوله درته غر د کوهستان دی　　په ظاهر صورت ئی پوخ په معنی اومه
په عظیم دریاب کښې ګډیم نه پوهیږم　　چه آغاز ئې دی له څه انجام له کومه
رب د هسی مشکارانو په لاس ورکړم　　چه د باز تفاوت نه کاندی له بومه
علیخان د هغو خلقو خانه زاد دی　　چه سنګین خاطرئی نرم کړ تر مومه

❀ ❀ ❀

## شپږمه نمونه

چه د خیال په لاسو تن د دلبر نیسم　　د هلك په دود په لاس کښې قمر نیسم
توری زلفی سپین رخسار ورڅخه غواړم　　ځکه خدای ته لاس په شام و سحر نیسم
د کوڅی ګوت به دی پری نږدم رقیب ته　　اپریدی شوم و مغل ته خیبر نیسم
چه د پله خاوری دې باد راباندی راوړی　　هغه خاوری به په مښك و عنبر نیسم
وایم اوس به د همزولو سره راشی　　په هر ځای ورته د لوبو ګدر نیسم
چه ئی بوی د زلفو شته مناسب ندی　　چه به پوزی ته د مښکو مجمر نیسم
که یو ګوټ شراب د خپلی جوټی راکړی　　هر یوڅاڅکی به ئې په جام د کوثر نیسم

❀ ❀ ❀

## اوومه نمونه

پسرلی مې د خزان په نا تار تېرشه          ما لا ګل بوی کړی نه و بهار تېر شه
لامخ پټې غوټۍ نه وی تازه شوې          چه بیا دور نیمه خوا د ګلزار تېر شه
اوس که ځان وهم که خاورې په سر نولم          په هیڅ رنګ به بېرته نه راځی وار تېرشه
مونږ لا اوس بوس و کنار وو ندا وشوه          چه را پاڅه وخت د بوس و کنار تېر شه
د بلبل اسره خوره شوله د ناستې          چه د باغ په څنګ راته په چغار تېر شه

❀ ❀ ❀

## اتمه نمونه

ښکلی ښایسته ئی د ښایست د ملك اربابه          بی زرو نوابه، بی نوکره بی سپاهه
شال خور په اورووړی آب و تاب له پرښتووړی          زړونه په ولجووړی راځی مست له خانقاهه
زړه قالب ته جان ئی زما څه د ټول جهان ئې          لا په هر چا ګران ئی د خوبانو شاهنشاهه
ستا د در ملنګ یم ته ډیوه زه دې پتنګ یم          خوار بی نام و ننګ یم مکړه ننګ له خاك راهه
یار خوخوب خصلت دی زما واړه خپل شامت دی          یا ستا مصلحت دی ای رقیبه جفا خواهه
ټک د پنارس وی ماوی بازئی ته ټپوس وی          زر کله وی مس وی غلط شوم له اشتباهه

❀ ❀ ❀

## نهمه نمونه

څه خوراشه نن د عشق د مړو په څلیو          ورته وایه ای د هجر تېغ وژلیو
چه د عشق د ځکندن پیالی مونوش کړی          شهید ګی مو مبارك شه خدای بخښلیو
چه د تورو زلفو سیوری په چا وشی          بی مجاله وی د تور دېو له وهلیو
خلق وائی چه طوطیان دا د چمن دی          خو فریاد دی د مژګانو د ویشتلیو
د جنت مانۍ زاهد ته ما بخښلی          علیخان ته دی خدای پرېږدی در د ښکلیو

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدی څو شعرونو کښې سلاست او روانی، سادګي او خوږوالی، له ډېر ملاحت او فصاحت و بلاغت سره يو ځای شوی او د پښتو مخصوصو محاورو او خوږو عباراتو پکښې ډېر زيات خوند پيدا کړيدی.

دغه مخصوص تعبيرونه چه پدی اشعارو کښې ګورو لکه: مه ئی وينه – اور لګول – د لوبو ګډرنيول – اسره خوريدل – غټې او په څير کتل – په تور و سپين پروا نه کول – د عشق د مړو څليو ته را بلنه – د څګر وينی خوړل -څټې ته لومه پرېوتل – د ګلو باغ لوټېدل – سپين ډنګر په خوبانو نه حسابول – د تورو زلفو سيوری په چا کېدل ستا زده ستا پټو نيتو زده ويل – طبيب خپله خپه نيول – اپريدی کېدل او خيبرنيول – په خوی و خصلت پمنېدل او داسی نو... د پښتو په ادب کښې زښت ډېر قيمت لری.

هغه ادبی کيف او حلاوت يا ملاحت چه د هرې ژبې په ادب کښې موجود وی او بی د ژبې له اصل خاوندانو نور څوك پرې نشی پوهېدای يعنی ترجمانان ورځنی محروم دی او يوازی اهل لسان ئی څکلی شی يا په بل عبارت د هری ژبی د ادب هغه مخصوصه برخه چه په بله ژبه کښې عيناً نشی راتلای د همدغسی مخصوصو تعبيرونو او محاورو په آهنګ او د ژبی په مخصوصو مصطلحاتو کښې ځای لری نو داشی بايد د پښتو په ادب کښې قيمتی څيزو ګڼو او د عليخان شاعری پرې وستايو.

علاوه په دغه ادبی مالګه چه پدی اشعارو کښې شته د اصل مضمون او معنی په لحاظ هم دا شعرونه هر يو پخپله موضوع کښې لوړ قيمت لری، کله چه عليخان د خپل پسرلی ژر تيرېدل او خپله نامرادی يا د وخت او فرصت ژر له لاسه وتل بيانوی نو وائی ما لا ګل نه و بوی کړی، مخ پټی غوټی لا نه وی تازه شوې چه بهار او د ګلزار نيمه خوا دوران تېر شو او د بلبل اسره خوره شوه.

تر څو چه ما ورته غټې او په څير کتل هغه لکه رخشنده برق تېرشه او که ځان وهم او که په سر خاوری بادوم وار تېر شوی او په هېڅ رنګ بيرته نه راګرزی.

همدارنګه کله چه د اخلاقی معايبو په بيان شروع کوی نو هغه ټول عيبونه چه يو سړی د پښتنو په نظر کښې بد ښکاره کوی يو يو ښئی او سړی پوهوی چه پښتانه کبرجن، دروغجن، کاسير، بدلمنی، ناديده، سپك نظری، بی اخلاصه، خاطر بدوونکی، په مال پسی لړګی اخستونکی، بی آبی او بی حرمتی، په خوی و خصلت پمن والی يا داسی نور عيبونه او عيب لرونکی نه خوښوی او نه ئی وينی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل ځای کښې چه اخلاقی تعلیم کوی نو وائی که د حقیقت له جامه څه شومی خپل ځان د ناموس او رسومو له قیده خلاص کړه، د طمع دانی ته هڅه مکړه، صورت پرست مه اوسه، د نفس پوله له مخی واخله او د معنی او موالی درنه لری کړه.

په غزلو او عاشقانه سندرو کښې ئی هم ډېر نزاکت او خوږوالی موجود دی او همدغه راز اشعار د ده اصلی آهنګ بلل کېږی ځکه چه نوری خبری ئی په دېوانکښې ډېری لږی دی او بی د عشق له سندرو نوری خبری نه کوی، د ده په غزلو کښې ځینی بیتونه داسی هم راځی چه د ده ملائی او علم پکښې ځان ښکاره کوی او پوهېدای شو چه دی په دینی علومو، په فقه او صرف و نحوه او منطق کښې د معلوماتو خاوند و، او کولی ئی شوه چه په غزلو کښې هم ورځنی کار واخلی لکه پدی لاندی شعر کښې.

څه شی کـه د یـار لـه غمـه ډېـر پـه واویلایـم
بیا خـوئی لـه خیـال سره مدام پـه مشغولایم

غــم د تبســم پــه جامــه نغـاړم لــه وګـــړی
تـل لکـه ګلاب پـه پریشانی کښې پـه خندایم

پـلار مـی د غـنم دانـې را وویسـت لـه جنتـه
زه لا طمعـــــدار د غـــنم رنګـــــو د وفـــایم

ډېـر څـه قبلـوم د یـار د غـم سیندونه نغړم
شـکی غونـدې پـروت تـری پـه غاړه د دریـایم

مـړبـه وم تـراوسـه هـومره هجـرځـوك اوزه څـوك
واړه کړېـــدلی د وصـــال پــــه تمنـــا یـــم

سپین یم په خاطر کښې په تحقیق د یار له مخه
خلقــو تــه بــدنام د تـورو زلفـو پــه ســودایم

نـه مـی منظـور نشـوه پـه نظـر د خـوش منظـرو
لغوه مـی عمل شـه چـه مـدخول د کافه مایم

هـر مـراد دې ورم کـه نتیجـه زمـا وصـال شـی
پـور پــه دواړه شــرط د صـغرا او د کبـرا یـم

اونبـی وینـی روکـی ورکـوم پـه پـور د وصـل
شـــوم بـــایع د روکـــو پیرودونکـــی د نســـایم

دا بـدل وزنـی دی د اشـنا وصـل بـی تولـه
صـاف متشـرع پـه شـرع ټینـګ پـاك لـه ربـایم

❀ ❀ ❀

پدی شعر کښې دا مضمون چه خپل غم د تبسم په جامه کښې نغړم او لکه ګل په پریشانی کښې خاندم، د غنم دانی زما پلار له جنته را وویست او زه لا بیا له غنم رنګو د وفا طمع کوم، د دریاب په غاړه لکه شګه تری پروت یم او د وصال په تمنا کړېږم، خاطر می د یار د مخ له نوره سپین دی او خلقو ته د زلفو په سودا بدنام یم، ښه شاعرانه رنګ لری او د علیخان د خیال دقت، تعبیری اقتدار ورځنی په ښه شان معلومېدلی شی. وروسته تر دی چه د عمل لغوه کېدلو او د کافه مامدخول ته اشاره کوی یا نتیجه او صغری و کبری

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادوی نو د خپل ملاتوب څه قدرته اظهار کوی، او ورپسی خپل فقاهت هم پدی ډول بیانوی چه زه خپلی اوښی او وینی روکی ورکوم او د وصل پور غواړم یعنی د نقدو او نیسې معامله ده چه په دغسې بیع کښې سودا او رباهم پېښېږی مګر د دی لامله چه زما اوښکی اووینی وزنی دې یعنی تلل کیږی او د اشنا وصل بی توله دی نو ربا او غاړه بندېده پکښې نشته (ځکه چه دلته جنس او قدر چه د ربا علت دی وجود نلری)

پدی ځای کښې علیخان د وصال دپاره ځانته روایت پیدا کړی چه څوك ورته حرام خورونه وائی او سره له دی چه د دلبرو سره وصل شې متشرع او په شروع ټینګ هم وبلل شی.

نو ویلی شو چه علیخان سره له دی چه شاعر دی ملا هم دی مګر هغسی ملا چه کتابونه به ئی په بغل کښې نه ګرزول او صحاف نه وو لکه چه پخپله وائی:

د بغـل پـه کتـاب څـه شـی علـم بویـه — هـر صـحاف پـه ملایـانو حسـاب نـه دی

❀ ❀ ❀

دغسی ملا چه کتابونه په غیږ کښې ګرزول صحافی بولی او اصلی علم بل شی ګڼی هغه هر څه کېدای شی او په شعر و شاعری کښې هم لوړ مقام پیدا کوی، دغه راز ملایان بیا شعر او شاعری هم بده نه ګڼی بلکه وائی:

عالمـان شـعر پـه څـه ګڼـی ممنـوع — ډېـر ابیـات لـه آنحضـرته دی مسـموع
عذاب نه دی نه ثواب شعر خو ثوب دی — ګاه ئـی اغونـدی انسان ګـاهی سـبوع
عبث پوچ دروغ ویل وی که کنځل وی — بـی لـه نظمـه هـم قبـیح دی پـه وقـوع
عام له نظمه که ئی کاندی څوك په نثر — ویـل مـه بویـه هرګـز غیـر مشـروع
عنوانـات دی دا ابیـات معنـون حکـم — نبـه بـد ګـوره د محمـول او د موضـوع
عقـل نقـل طبـع دری واړه مـی ملـه دی — اعتـراض شـه پـری مـدفوع بلکـه مرفـوع

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۵) عبد الرحیم هوتك(۱)(24)

دا هغه شاعر دی چه په لس کلنی مسافر شوی او تر اتیا کالو پوری عمر ئی په غربت او مسافرت کښی په ترکستان او بخارا تېر کړیدی پدی دومره موده کښی دا پردېس شاعر تل د خپل اصلی وطن قندهار او خصوصاً (ښه بولان) یعنی کلات په ارمان ژړېدلی او د خپلو اشنایانو په یاد کړېدلی دی – دا شاعر یوازی د پردېسیٔ په رنځ اخته نه و، د عشق شور او تاوده جذبات هم ورسره و، او د جمال په لټون کښی هم سرګردانه و، دا لاندی بیتونه د دی خبرو تصدیق کوی:

لس کلن له ملکه ووتم بیرون شوم — په سراغ د مهوشانو جګر خون شوم

❀ ❀ ❀

پنځوس کاله زیات و کم وشوه رحیمه! — په سراغ د اشنا ناست پرترکستان یم

❀ ❀ ❀

بخارا او سمرقند می زړه زخمی کړ — غواړم پاځم په زیارت د قندهار

❀ ❀ ❀

ستا قسمت شو بخارا عبدالرحیمه! — عزیزانو اختیار تول (ښه بولان) کړ

❀ ❀ ❀

ښایسته قندهار ډېر ډېر یادومه — که هر څو ئی هېرومه نه هېرېږی

❀ ❀ ❀

زه رحیم په بخارا کښې ارزو کړم — که می خدای کړی په بلاد د قندهار ګډ

د رحیم حال و هر چاو ته معلوم دی — چه مدام ژاړی غریب په ترکستان کښې

❀ ❀ ❀

(پښتانه شعراء)

عبدالرحیم د پښتانه شعراء د لیك په قرار په قام هوتك دی مګر په یوه بیت کښې ځانته میا(۱)[25] هم وائی او احتمال لری چه په هوتکو کښې به هم ځینی روحانې کورنی میاګان بلل کیږی. دی مونږ ته د خپل ژوند قصه له ابتدا نه پدی ډول شروع کوی.

---

[۱]: د ژوند زمانه ئی د پښتانه شعراء له لیکه د (۱۱۵۰ هـ) په حدودو کښی معلومېږی او د ځینو اشعارو په استناد ئی تر (۱۲۰۰ هـ) یا څه دپاڅه ژوندی ګڼلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه هغــه ســاعت چــه وزووم لــه مــوره — دائـی ونیـوم پـه غبرګ کښـې زمـا وروره!
پـه چـاړه د عاشـقی ئـی زمـا نـوپرېکړ — راته وې ویل په غوږ کښې چه سر توره!
قـــرار مـــه اوســـه مـــدام پـــه ژړا ژاړه — عشـق در ننـوت پـه تـا لـه هـره لـوره
چه کلام می د دائی په غوږ و کښېووت — سـرا پـا مـی سـینه ډکـه شـوه لـه اوره
چـه پـه شـه او پـه بـدو پوهېـدم خلقه، — د زړه میـل مـی مـدام شـه لـه طنبـوره
ورځ پـه ورځ بـه لوؤیـدم پـه زړه زهیـروم — سـرو کـار مـی لـه ربـاب او لـه سـنتوره
ای رحیمــه تــا بــه هلــه مــرد وبــولم — کـه لـه عشـقه سـره ورغلـی تـر ګـوره

❀ ❀ ❀

دا مور زادی عاشق چه څومره لوئېږی هغومره ئی د عشق شور هم زیاتېږی او سره له دی چه د څوارلسو علمو ملا ورځنی جوړېږی او ډېر کتابونه لولی د عشق په جذبه دغه ټول هېروی او د اشنا د لیدو په وخت کښې ځان لکه هلك نادان ګڼی.

څوارلس علمه مې ټول هېر کړه که باور کړی — چــه دی وویــنم هلــك غونـدی نـادان شــم

❀ ❀ ❀

صــرف و نحـــوه فلســـفه تفســـیر او فقــه — ټول می هېر کړه چه می زړه په عشق خبر شه

❀ ❀ ❀

کله چه د عشق باخبری او پوهه ده ته حاصلېږی او پوهېږی چه اصلی ملائی په همدغه جنون او لیونتوب کښې ده او حقیقت ته هم هغه وخت سړی رسی چه له ظواهرو تېر شی او له معنوی اسرار و سره اشنا ئی پیدا کړی نو بیا ځان د کامل پیر په یوه سبق ملا ګڼی او د عشق د لفظ معنی دعوه پدی ډول کوی:

څوارلس عمله می ټول وکړه ملا نشوم — پـه یـوه سـبق د پیـر کامـل مـلا شـوم

❀ ❀ ❀

تلفظ معنی د عشق می دی په زړه کښې — لـه ګفتـاره د کتـاب پـه دود خـاموش یـم

❀ ❀ ❀

عبدالرحیم خپل ځان مونږ ته پدی لاندی څو شعرونو کښې راښئی او خپل دردونه او حالونه پدی ډول بیانوی:

---

۱ :بی د یاره له فکره میا عبدالرحـیمه — نور څه نکړم که بیداریم که ویده یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه منصور غوندی په دار دی هغه زه یم | چه په غم کښې ګرفتار دی هغه زه یم
چه له نورو خلقو لری ګرزی | د خوبانو خدمتګار دی هغه زه یم
چه مدام له بلبلانو سره ناست دی | په چمن کښې په چغار دی هغه زه یم
له مجنون سره چه ګرزی بیابان کښې | د لیلی له مینی خوار دی هغه زه یم

❀ ❀ ❀

د اشنا له مینی تل خانه بدوش یم | له متاعه د دوه کونو نظر پوش یم
چه په درس د عشق مشغول شوم زما جانه | د مجنون په دود مدام حیران مدهوش یم
تلفظ معنی د عشق می دی په زړه کښې | له ګفتاره د کتاب په دود خاموش یم
د لیلی د ناقی ږغ می اوریدلی | ځکه هر نفس باده غوندی په جوش یم
چه می وتړله ملا د عشق و لور ته | له هغه وخته رحیمه نمد پوش یم

❀ ❀ ❀

په تبره توره د تا چه مبتلا شوم | سرپربکړی په بیابان د کربلا شوم
هم غبار شوم هم رانجه شوم هم طوطیا شوم | په څو رنګه شوم چه تا سره آشنا شوم
مست مو ولیدی له خوابه سر نه اخلی | هم نسیم شوم هم جرس شوم هم صدا شوم
چه د عشق خرقه می واغوسته عالمه | له قبا او له شلوار څخه جلا شوم
چه می سترګی د یار ولیدی په سترګو | ای رحیمه! لیونی په وا ویلا شوم

❀ ❀ ❀

نیمه شپه له ځایه پاځم په ژړا شم | لور په لور په جستجو کښې د لیلی شم
خلق ټول په خوب ویده آرمیده وی | زما په سترګو خوب حرام په واویلا شم
کله ناست یم په حجره کښې تار وهمه | کله ووزمه صحرا ته په غوغا شم
غورځوم سر په هر لور طاقت می نشی | نابره چه ئی وینم هبا شم
زه چه یار په سترګو وینم رحیمه | ځان می هېر شی ټول د ده په تماشا شم

❀ ❀ ❀

له دی څو شعرونو به عبدالرحیم دومره پېژندل شوی وی چه دغه د خوبانو خدمتګار او په غم ګرفتار شاعر چه کله له بلبلو سره په چمن کښې په چغارو ګډ دی او کله له مجنون سره په بیابانو ګرزی دی د لیلی د ناقی په غږ دومره مست شوی چه لکه باده په جوش راغلی دی، همدغه جوش و خروش دی نیمه شپه له ځایه په ژړا را پاځوی او په لیلی پسی ئی لور په لور ګرزوی، پدی لاره کښې دی هم غبار کیږی هم رانجه کیږی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

طوطیا – کېږی مګر کوم ځای ته نه رسېږی او د دی دپاره چه خپله محبوبا له مسته خوبه را پاڅوی کله نسیم شی کله جرس او صدا شی خو هغه سر نه را پورته کوی د عشق دغه سوی لکه چه د ده په روح او وجود کښې عمیق تاثیر کوی د ده په شعر و شاعری کښې هم پوره نمایش لری او په ټول دیوان کښې ئې بې له دغه درد او سوزه نور څه نشته لکه چه پخپله هم وائی:

بی له عشقه بی له درده بی له سوزه | وبه نه لولې بل شی زما په دیوان کښې

❁ ❁ ❁

کوم شاعر چه هم مسافر وی او هم عاشق د هغه دیوان باید همدغسی شی وی او بی د عشق له درد و سوزه نور څه پکښې ونه لوستل شی. زمونږ دغه مهجور شاعر لکه چه د شاعرانو او عاشقانو عادت دی په هر ځای کښې چه و، د سحر بادئی د خپل اشنا مقدم ته استاوه او دا راز خبری ئی ورته کولی:

سحر باده د اشنا په مقام ورشه | زما دپاره پکښې وګرزه کوتر شه
لوی و کم چه وی ټول ووینه په سترګو | په احوال سره د هر یوه خبر شه
هر یوه چه زما له حاله پښتېدو وی | په ژړا ورته په اوښکو کښې احمر شه
له خواری له غریبی له بیکسی نه | خو دې توان وی ورته زما په رنګ اصغر شه
که خبری زما دپاره درته وکړی | مخ را کوز کړه زما ولوری ته چپر شه
پر لار نکړی چه به ووائی وچاته | په شتاب راشه و ما وته دفتر شه
د نسیم په زیادې به نشی رحیمه! | د دلدار په لور پخپله قلندر شه

❁ ❁ ❁

عبدالرحیم لکه چه پخپله ژړېده دغسی ئی نسیم او د سحر باد هم پخپل حال ژړاوه او متاثر کاوه، او هر چاته ئې د ژړا توصیه کوله، د همدی لامله ئې هغه زهد او طاعت هم نه خوښېده چه سوزو ژړا به ورسره نه وه ځکه ئی د ځینی زاهدانو په مقابل کښې رندان خوښ و، او له ریا کاری یا وچ طاعت څخه ئی بد راتله له دی لاندې بیتو څخه د ده فکر او نظر څه نه څه معلومېږی:

وچ طاعت د زاهدانو په دود مکړه | شپه او ورځ په ژړا ژاړه نالان اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

❀ ❀ ❀

زاهـدان واړه پـه وچـه ویالـه ناسـت دی　　زه غوته تللی د عشق په لوی دریاب یم

❀ ❀ ❀

د رنـدانو کـره ورشـه څـه بـه مـومې　　پـه هـېڅ رنـګ د زاهـدانو مهمـان مشـه

❀ ❀ ❀

مـی پرسـت یـم سر و کـار مـی لـه شـرابو　　زاهـد نـه یـم چـه مـدام تسـبی شـمېرمه

❀ ❀ ❀

زه لـه يـاره سـره پـروت شـوندې ئـی زبېښـم　　زاهـد سل دانـی پـه لاس ورك پـه حساب کښـې

❀ ❀ ❀

چه منصور غوندی شور نلری په سر کښې　　درتـه وايـم پـه طلـب کښـې د دار مشـه

❀ ❀ ❀

منبـر وسـوزه پـه اور کښـې شراب وچښـه　　درتــه وايــم خــو د زړونــو ازار مکــړه

❀ ❀ ❀

ای زمـا زړه لـه هـر چـا سـره يـار مشـه　　بيهـوده بنـده د هـر رنـګ دربـار مشـه

د کامــل او مکمــل پــر دربــار اوســه　　کـه هـر څـو ئـې بـد ووينـی بيـزار مشـه

چــه لــه عشــقه خبــر نلــری پــه عمــر　　زړه ئـې مـړ دی د هغـه يـار غـار مشـه

دســتار واچــوه لــه سـره سـرتور کښـېنه　　لکـه شـيخ پـر لوئيـدو د دسـتار مشـه

❀ ❀ ❀

د عبدالرحيم شهرت:

مشهور شوی مـی پرسـت يم په جهانکښـې　　مجنـون خـط د تسـليم را کـړ بيابانکښـې

عــالم ټولــه پــه يقـين سـره خبـر دی　　بـی لـه عشـقه هنـر نلـرم پـه ځانکښـې

لــه هلکينــی تــر اويــاؤ کــالو پــوری　　ګـرزېـدلی يـم د مينـی پـه بوستانکښـې

❀ ❀ ❀

ښائي چه د عبدالرحيم معرفي لره غوندی شوی وی او د ده پخپلو شعرونو او بيتونو کښې د ده حالات او خيالات څه نه څه ځرګند شوی وی، اوس ئی يو څو نور شعرونه هم د نمونو په ډول وګورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لمړی نمونه

چه په زړه کښې د اشنا مینه لرینه
نښانې ئې ښکاره کیږی له جبینه

چه ئی ستا صورت لیدلی وی جانانه
د جنت حوری په زړه کله ورځینه

که زاهد ستا سترګې ولیدی په سترګو
اور به درست په خانقاه ولګوینه

که دی بوی د محتسب په دماغ کښیووت
په دره به اول خپل ځان و وهینه

بی له فکره د خپل یار عبدالرحیمه!
خراب زړه می کله بل فکر لرینه

❀ ❀ ❀

## دوهمه نمونه

شکر کاږم چه تل مست یم په صهبا کښې
زاهدانو غوندی نه یم په ریا کښې

د هر چا دی ګوښی ګوښې روزګارونه
د عاشق روزګار د یار په تماشا کښې

سوداګریم په بازار کښې د شرابو
خریدار به می تل مست وی په سودا کښې

آرزو مندوی هر سړی و یوه شی ته
زه مدام یم د اشنا په تمنا کښې

بی له یاره که به بل مقصد لرمه
ګرفتار دی شم رحیمه په بلا کښې

❀ ❀ ❀

## دریمه نمونه

که هزار ځله تقوی پرهیزګاری کړی
ښه دی نشته چه مدام دل آزاری کړې

که د شپی نمنځونه کړی په ورځ روژه ئی
خیراتونه هم په یاد کښې د باری کړی

هم مدام په ژړا ژاړی قرآن لولی
عمر ټول تیر په دعا او په زاری کړی

که دا ټوله په ځای راوړی چه مذکور شوه
کور دی خور دی چه د زړونو خرابی کړی

❀ ❀ ❀

## څلورمه نمونه

ای زاهده ته چه دا رنګه بلا کړی
همیشه دی لاس نیولی دی دعا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سل دانی دی تل نیولی دی په لاس کښېِ      سوداګر ئی حسابونه د دنیا کړی
ورد او را د به دی له لاری کارا منعه      واړه ترك وهه که مینه په رښتیا کړی
کله دیګ کله کوزه تر اوبو باسی      کله ناست لکه دوبی سپینه قبا کړی
ورد اوراد زهدو تقوی چه درته ګورم      بی له ذوقه بی له شوقه دایما کړی
دا دی واړه خامکاری ده برادره      فکر بل کړه که ارزو د دلربا کړی
ای رحیمه ریاکار به په لار نکړی      که کشاف غوندی کتاب ورته معنا کړی

❀ ❀ ❀

## پنځمه نمونه

مقید لکه زاهد په اذکار مشه      پخته کار اوسه په عشق کښېِ خامکار مشه
چه په قدر او قیمت دی نه پوهېږی      له هغو سره هرګز یار غار مشه
خدای پخپله ستا د رزق ضامن شوی      له عالمه د ډوډۍ منت بار مشه
که ته غواړی چه په دوه کونه عزیز شی      بی له خدایه د مخلوق طمعدار مشه
خاموشی ده لویه برخه که پوهېږی      د واعظ په دود په بند د ګفتار مشه
ناخوانده له کوره مه اوزه که مرد یېِ      چه دی نه بولی مېلمه د خپل پلار مشه
کـه بـه لویه درجه غواړی رحیمه      څو دی توان دی ښه کوه دل آزار مشه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۶) احمد شاه بابا (۱) 26

هغه د تخت و تاج خاوند چه د پښتون په تاریخ او د جهان په نوموړو شاهانو کښې لوړ مقام لری د شعر او ادب په دنیا کښې هم بې برخې نه دی او د عشق او محبت له عالمه هم پوره خبر دار دی دا ستر پادشاه وائی چه زه د بیخبرۍ په خوب ویده وم مګر د بلبل نارو راویښ کړم ځکه اوس لکه بلبل په چغاریم او نه پوهیږم چه د کوم ګلزار بلبل شم.

زه بیـــــده وم خبـــــر نــــــه وم — د بلبـــــل نـــــارو بیـــــدار کـــــړم
چـــه د ګـــل پـــه ځیـــر ئـــی مـــخ دی — پـــری بلبـــل غونـــدی چغـــار کـــړم
مهرویــــــــان لکــــــــه ګلونــــــــه — زړه بلبـــــل د کـــــوم ګلـــــزار کـــــړم؟

❁ ❁ ❁

دا د عشق او شعر کرشمه ده چه د لوی اقتدار او سلطنت خاوند هم د حسن و جمال په مقام کښې له قلندرانو او ملنګانو سره برابر وی او څه چه په دنیا کښې د افتخار او عزت اسباب ګڼل کیږی هغه ټول ئی له نظره غورځوی ترڅو چه د لیلی دربار ته بی له عجز و محبته نور څه وړاندی نکړی ځکه احمد شاه بابا خپلی محبوبا ته دا رنګه عرضونه کوی:

کـــه زه نـــوریم ســـتا د کـــوریم محبوبـــا — هســـی نـــه چـــه د پېغـــوریم محبوبـــا
نـــه د اصـــل لافـــی کـــړم نـــه د خبـــرو — اور لړونـــی ســـتا د اوریـــم محبوبـــا
که دا ستا نظر پر ماوی تر نمر لوی یم — کـــه نظـــر کـــړی هـــومره نـــوریم محبوبا
کـــه قـــدم زمـــا پـــه ســـر ږدي ای دلبـــره — زه خـــو خـــاوری ســـتا د لـــوریم محبوبا
لـــه احمـــده مـــه غـــواړه بیوفـــائی — ســـتا پـــه مینـــه ســـره تـــوریم محبوبـــا

❁ ❁ ❁

زمونږ دغه بابا او پادشاه شاعر چه د ښایست او ښکلیتوب په مقابل کښې نه د اصل لافی کوی او نه د خبرو بلکه ځان د عشق د اور – اور لړونی ګڼی او دی دربار ته بی له

۱:د (۱۱۳۵ هـ) په حدودو کښې په هرات کښې زوکړی په (۱۱۶۰ هـ) کښې پادشاه شوی او په (۱۱۸۶ هـ) کښې وروسته تر (۲۶) کاله پادشاهی وفات شویدی. (پښتانه شعراء)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاکسارۍ او عجز و نیازه نور څه نه تقدیموی د خپل دیوان په نورو ځایو کښې هم خپله ژړا خپله حیرانی، د زلفو قدردانی ښکاره کوی او سره له دغومره – لویه اقتداره د رقیب له لاسه لکه نور بی وزلی شاعران ژاړی مګر له خپلو لښکرو او قوت و سلطنت څخه د خوبانو په کشور کښې هېڅ کار نه اخلی د مثال په ډول ئی دا لاندی بیتونه وګورئ!

که هر څو په زړه نادان یم ستا د زلفو قدردان یم
که بادشاه د درست جهان یم غلام ستا ماه تابان یم
د رقیب له ډېره دروهه په وصال دی هم ګریان یم
پخپل ځان هېڅ نه پوهېږم په دیدن ولی حیران یم
ستا د دوو ملالو ستر ګو په کتلو سر غلطان یم
یو څو ورځی می رضا کړه جانه څو ورځی مهمان یم
که هر څو په بهار درومم آخر پاڼه د خزان یم
که بلبل وماته ووېِ ماهم زده ؤچه ژړان یم

❀ ❀ ❀

همیشه سوی سینه درپسی ګرزم چه ستا ځای نه دی په مځکه په آسمانکښې
قلندر یا به ملنګ پر جهان ګرزم یا به اوښی تویوم پخپل ګریوانکښی

❀ ❀ ❀

ځینو شاعرانو چه په دنیا کښې هېڅ نلرل او په خال هندوئې سمرقند و بخارا قربانول ښائی چه ځینی کسان ووائی چه هر څوك د هوا مرغان د پیسی شل خرڅوی خو چه لاس ته ورشی نو بیائی پری زړه نه کېږی مګر احمد شاه بابا خپل هغه کشور چه په ډېرو سفرونو او جنګونو ئې ګټلی و له خپل دلبره ځاراوه او ویل ئی:

دواړه ځار شه تر دلبر هم می سر هم می کشور
زړه می هسی لیلی وړی چه ځلېږی لکه نمر
مینان ئی په اور سوی سور پیزوان لکه اخګر
طراری او هم شوخی کا لاس ئی توری وهی سر
په سرونو صرفه نکړي د عاشق کاری ځیګر
که دیار په عشق سر کېږدی احمد ها له کا اختر

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګوری! دومره لوی فاتح چه ډېر زورور دښمنان ئی په مقابل کښې مغلوب شوی او لوی لوی ملکونه او قوتونه ئی لاندی کړی دی د یوه پېزوان په اور سوزی او د حسن د توری تاب و طاقت نلری. هغه چا چه د سلطنت او شان و شوکت مزه څکلی ده او د دنیا ټول نعمتونه ئی لیدلی دی خپل سر او کشور دواړه تر دلبر ځار وی او له هر څه تېرېږی، نو که کوم د تخت و تاج خاوند خپل جاه و جلال پرېږدی او په لیلی پسی ځی دا د عشق هغه جاذبه او قوت دی چه انسان ئی په مقابل کښې اوس او پخوا کله نه دی دربدلی او ډېر زورور شخصیتونه ئی هم په مقابل کښې مغلوب شویدی.

د احمد شاه بابا په ژوند او حیات باندې د دې لامله چه دوه کتابه لیکل شوی او د ده سیاسی او نبوغی شخصیت هلته ښودل شوی او دلته ئی بی له شاعرۍ نور څه خبری نه کوو، نو وروسته تر دی لږی غوندی معرفۍ د ده د اشعارو یو څو نموني ښیو:

## لمړۍ نمونه

نـــــــن ولاړه محبوبـــــــا ده — پـــه ډېـــر حســـن مهیـــا ده
بختـــــه تابــــه نڅکومـــــه — چـــه عجبــــه یـــك تنهـــا ده
چـــه ئـــی مـــخ تـــه کاتـــه نشـــی — هـــم لـــه لمـــره لا زیبـــا ده
لـــه ښائســـت ئـــی نـــه ســـمېږی — کـــه ســـپوږمۍ کـــه ثریـــا ده
زه بـــه ئـــی ولـــې تعریـــف نکـــړم — دا د دوه کونـــــو شـــــها ده
د کمـــال مخـــی ئـــی نشـــته — لـــه ښـــوونی بـــی پـــروا ده
د کمـــــال لـــــه برکتـــــه — هـــر عاشـــق وائـــی زمـــا ده
پـــه ښایســـت ئـــی جهـــان وینـــو — نـــن د هـــر زړګـــی رڼـــا ده
چـــه د یـــار پـــر برجـــل ورشـــی — کـــه ســـر پـــرې کـــا زمـــونږ رضـــا ده
پرســـر تللـــو نـــه وېرېـــږم — وېـــره دا چـــه بـــې وفـــا ده
زاری کانـــده احمـــد شـــاهه — پـــــــر انګـــــــر ولاړه دا ده

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه نمونه

قافله د عشق راغلی له کوم خوا ده
پر زړګی باندی مېشته کا څه غوغا ده

پرې پوهېږم زړه به بیا له مانه یوسی
چه دا هسی نن راغلی دلربا ده

تړوله یو دی که غلجی که اودلی دی
نه هغه چه ئی د زړه نښېنه صفا ده

چه عمل ئی د نیکی وی مېړه هغه
که اغوستی ئی ګدله د خمتا ده

د خالق په وره قبول دی نیکو کاره
نیکو کار څخه د لوی څښتن رضا ده

پښتانه دی تړوله لاس سره یو کاندی
چه مو نن غزا هر لوری شاوخوا ده

❀ ❀ ❀

## دریمه نمونه

ای زما خرابه دله
ورشه و پوښتنه بلبله

د بېلتون یو هسی اور دی
دود ئی خېژی له ګوګله

د بهار ارمان به نکړم
ستا بهار دی تل تر تله

چه د حسن چمن وینم
تل تازه اوسې ای ګله!

محبوبا که مستغنی ئی
بیا هم ګوره ماته کله

❀ ❀ ❀

## خلورمه نمونه

ستا د عشق له وینو ډك شوه ځیګرونه
ستا په لاره کښې بایلی ځلمی سرونه

تا تـه راشمه زړګی زما فارغ شی
بی له تا می اندېښنی د زړه ماړونه

که هر څو می د دنیا ملکونه ډېر شی
زما به هیر نشی دا ستا ښکلی باغونه

د ډیلی تخت هېرومه چه را یاد کړم
زما د ښکلی پشتونخوا د غرو سرونه

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چه په تورو پښتانه کا ګزارونه

د فرید او د حمید دور به بیا شی
چه زه وکاندم پر هر لوری تاختونه

که تمامه دنیا یوخواته بل خوائی
زما خوښ دی ستا خالی تش ډګرونه

احمد شاه به دغه ستا قدر هېرنه کا
که ونیسی د تمام جهان ملکونه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځمه نمونه

نن مې وليده ولاړه        محبوبا په هسکه غاړه
په ژړا مې زړګې ورك و        په خندا راته ولاړه
راته ئې ووى حال دى څه دى؟        اى زما په غم ويجاړه
زه همېش له تا سره يم        بيا پخپل اطاق مې غواړه
كه له تا سره زه نه وم        بيا ها له راپسې ژاړه

❀ ❀ ❀

## شپږمه نمونه

راغله وريځ د نو بهار        ټول جهان به كړى ګلزار
ښاخ د خار كا سره ګلونه        دا قدرت د كردګار
د قدرت او به ئې وركړى        وچ ښاخونه كړى اثمار
هيڅ نښان د ثمر نه وى        شي په څو رنګه اظهار
له قدرته ئې څاريږم        غر شي ټول ډك له اشجار
چه جهان پرى تازه كيږى        ټل دى اوسي دا بهار
د خزان باد دى تاړه شي        چه بلبل نشي پرى خوار
هغه باد پر يار رامشه        چه ئې زلفې كا تار تار

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د علماء او روحانیونو اشعار

څوك چه له فكر ومعنی سره زياته رابطه پيدا كړی او د معرفت په لټون كښې شی يعنی په زړه كښې ئې سترګې پيدا شی او د عرفان لور ته ئی مخه شی هغه ارو مرو د يوه قوی تخيل خاوند وی او د خيال په مرسته له يوه بل عالمه الهامات اخلی، دا الهامات كه په ادبی كلماتو او شاعرانه آهنګ كښې ښكاره شی خلق ئی شعر بولی او كه په بله لهجه وی يو فلسفی يا تصوفی رنګ پيدا كوی. نو فلاسفه، عارفان او شاعران يو له بله معناً او روحاً نږدې دی او شعر و فلسفه او تصوف كله كله داسی خلط شی چه بېلول ئی ګران او مشكل وی، همداغه سبب دی چه ځينی كسان لكه په عربی كښې ابوالعلاء يامتنبی ښه نه پېژندل كېږی چه فيلسوف شاعر ورته ووايو كه شاعر فيلسوف؟ همدارنګه افلاطون يو فيلسوف دی چه شاعر هم ورته ويلی شو او فلسفه ئی ادبی رنګ لری. په فارسی كښې مولانای روم او فيضی، حكيم سنائی او عمر خيام، بوعلی سينا او عطار په پښتو كښې ميرزا انصاری او دولت هماغه راز خلق دی چه هم شعر لری هم فلسفه يا تصوف، او همدغسی اشخاصو ته مونږ روحانيون شعراء ويلی شو د داسی كسانو اشعار غالباً له نورو شاعرانو څخه بل راز وی او بل ډول خوند لری اكثر علماء او ملايان تېرشويدی چه له علم سره ئې شعر هم درلود او په ادب كښې د لوړ مقام خاوندان و، مګر ځينو لكه جامی خپل اشعار له علمه سره ښكاره كړيدی او ځينو نورو لكه امام شافعی خپل اشعار پټ ساتل او ويل ئې كه شعر د علماء دپاره عيب نه ګڼل كېدای نو زه به له (لبيدی) څخه نن ورځ په شعر كښې لوړوم.

په پښتنو كښې هم ځينی علماء او بزرګان تېر شويدی چه اشعار ئی پاته دی او خپله شاعری ئی نه ده پټه كړې مګر ځينو نورو خپل شعرونه هر چاته نه دی ښكاره كړی او خپل دغه هنر ئی پټ ساتلی دی.

دلته مونږ د نمونی په ډول د څو تنو څه اشعار را اخلو چه پسله (۱۲۰۰ هـ) څخه ئی ژوند درلود او د علمی يا روحانی شهرت خاوندان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۱) میا عبدالکریم صاحب[27]:

د میا صاحب زیارت د لغمان د علیشنګ په دره کښې دی چه دغه ځای د میا صاحب دېره بولي، د ده زیارت ته ډېر خلق د ثواب په امید راځی او د سوالونو د قبلېدو ځای ئی ګڼی. د میا صاحب علمی او روحانی شهرت تر ډېرو ځایو رسېدلی او خلق پری د ښه سرېتوب او بزرګی کلکه عقیده او ټینګ اعتقاد لری.

د میا صاحب دېره د موقعیت او منظری په لحاظ یو دا راز ځای دی چه په هر چا باندې یو روحانی اثر کوی او سړی پخپلو افکارو او خیالاتو کښې ارو مرو یو تغیر او تحول وینی په دغه ځای کښې صوفیانه فکر او شاعرانه خیال قوت مومی او د زړه کیفیت او احساس و نظر هم بل راز کېږی ځکه هر څوك د میا صاحب د زیارت په تاثیر باندی اقرار کوی.

میا صاحب لکه چه پښتانه شعرا[۱] لیکی د اعلیحضرت احمد شاه بابا او تیمور شاه معاصرو او په دغه وخت کښې ئې د تدریس او لارښودنی غږ لری لری ځایو ته رسېدلی و او د دې مملکت په لویو بزرګانو او علمانو کښې منل شوی و.

میا صاحب سره له دغو علمی او روحانی فضایلو شعری قریحه هم لرله او د شعرو ذوق خاوند هم و، چه د شعر دوه نمونی ئی له پښتانه شعرا[۱] څخه را اخلو:

(۱)

که مې د حق مینه روزی شی له دوامه سره
لکه الف چه وصلت بیا مونده له لامه سره

په نالیدلی لار چه تلې توښه دی ولې نوره
اوس د هی هی فریاد کوی له هره ګامه سره

اول دی خوب په نالیچو په پشمینو باندی و
اوس دې د ګور چنجی مستی کړی له اندامه سره

اول دی ښې لوړې ماڼۍ یا دی باغچې جوړی کړی
اوس دی مرګی خونه اواره کړه له بامه سره

عبدالکریمه مه نازېږه په نیمګړی دنیا
د مسافرو دلته څه دی له دوامه سره

❀ ❀ ❀

(۲)

څه عجب باغ دی د سرو ګلو پری خزان ولګېد
بلبلی لاړی په ژړا ګډ پری سوران ولګېد

---

۱: د میا الله بخش زوی دی او په (۱۲۰۷ هـ) کښې وفات شویدی. (پښتانه شعراء)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیل د خدای ؤچه نمرود ګذار کړ سرو لمبو ته | چه خدای ئی مل و هغه پوری ګلستان ولګېد
هغه خلق څه شوه چه پالکی ئی په هوا ګرزېدی | د مرګ له لاسه ئی مسکن په ګورستان ولګېد
شداد نمرود ؤچه دعوه ئی د خدائی کوله | لعین مردار شه ځکه ځای ئی په نیران ولګېد
عبدالکریمه ولی غم کړی څله مست نه ګرزی | نبـی سـردار د دواړو کونــو پهلــوان ولګېــد

❀ ❀ ❀

(۲) مراد علی صاحبزاده د کامې:

د صاحب زاده صاحب پلار عبدالرحمن نومېده چه په فقیر صاحب مشهور و.
مراد علی صاحبزاده لکه چه د پښتانه شعراء په دوهم ټوك کښې لیکلی دی د (۱۲۲۰ هـ) په حدودو کښې زوکړی او په عربی علومو کښې (لکه صرف، نحو، منطق، حکمت، فقه، تفسیر، میراث، عروض و قوافی، بدیع و بیان) د تبحر خاوند وو. ده په پښتو کښې ډېر تالیفات کړی او په پښتو باندی د یوه مهم او لوی مؤلف حق لری ځکه چه پښتو او پښتنو ته ئی یو دا راز خدمت کړی چه هېڅکله نه ورکېږی. دا خدمت د قرآن کریم هغه مکمل تفسیر دی چه تفسیر یسیرئې بولې او د مراد علی صاحبزاده لوی حق په مونږ ټولو باندی ثابتوی. صاحبزاده صاحب په پښتو کښې نور آثار او کتابونه هم لری او علاوه پدی چه په پښتو کښې ښه لیکونکی تېر شویدی نظمونه او اشعار ئې هم پاته دی او په ځینو اشعارو کښې ئې خپل تخلص مراد لیکلی دی، دلته ئی یو دوه شعره د نمونی په ډول را اخلو.

(۱)

قبله

قبلـه د تـن پـرورو خـوب و خـوراك | قبلـــه د عـــاقلانو فکـــر و ادراك
قبلــــه د دنیـــا دار و ســـیم و زر | قبلـــه دپادشـــاهانو تـــاج و افســـر
قبلـــه د غـــافلانو ځـــان او مـــال | قبلـــه د ذاکرانـــو ذکـــر او حـــال
قبلـــه د ســـرودیانو چنـــګ و ربـــاب | قبلـــه د زاهـــدانو وی محـــراب
قبلـــه د ګمراهـــانو مکـــرو تلبـــیس | قبلـــه د عالمـــانو درس و تـــدریس
قبلـــه د جـــاهلانو وی بـــدکار | قبلـــه د ســـالکانو وی اســـرار
قبلـــه د کـــافرانو وی زنـــار | قبلـــه د عاشـــقانو مـــخ د یـــار

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبلـــــه د مشـــــرکانو دی ضـــــلال　　　قبلـــــه د عارفـــــانو دی وصـــــال

❀ ❀ ❀

(پښتانه شعرا ؑ)

(۲)

له اوله هیڅ څیز نه ؤ خاك او به نه باد او نار
نه دا مځکی اسمانونه نمر سپوږمی لیل و نهار

نه دا انس و جن حیوان نه نباتات سیندونه غرونه
مګر ذات بی جهات و، تل ثابت په یو قرار

بیا د رب اراده وشوه چه زه و پېژاندی شمه
نو پیدا د حضرت نور په محبت کړ کردګار

ناګاه نور شه په جنبش تری مرغلره شوه پیدا
بیا د قهر نظر وشو نو دوه ځایه کړه قهار

له یوی قطرې ئی ساز کړ، هغه لوی عرش مجید
بیائی باد پسی پیدا کړه په قدرت سره بسیار

په دوهمه قطره باندی بیا نظر د قهر وشه
له هیبته ئې اوبه شوه او له خوفه تار په تار

بیائی عرش په ابو کښېښود او اوبه په شادباد
بیا د ځمکی اسمانونو عزم کړ پروردګار

بیا اوبه شولی په موج ځګ پرې راغی ډېر او تېز
رب تری سازه کړ له مځکه او هم غرونه او شجار

او په دغه موج وهلو ډېر لوګی ورځنی ولاړه
نو تری جوړ شوه اسمانونه پکښی ستوری بیشماره

❀ ❀ ❀

(تفسیر یسیر)

## (۳) علامه حبیب الله(۱)[28] (مشهور په حبو آخندزاده صاحب)

دا لوی متبحر او منلی عالم چه د ملا فیض الله اخندزاده زوی او په کام کاکړ دی د قندهار له محقېقینو او د افغانستان له علمی مشاهیرو څخه دی چه د علم و فضیلت شهرت ئی تر هند او ایرانه هم رسېدلی او پخپل وخت کښې د پښتانه شعرا ؑ په عبارت (استاد الکل فی الکل) بلل کېده.

دا نوموړی عالم سره له دغه علم و فضله د پښتو په نوموړو شاعرانو کښې هم ښه مقام لری چه د منهاج العابدین په نامه د ده د شعر دیوان مونږ ته پاته دی د حبو اخندزاده صاحب شرح حال په پښتانه شعرا ؑ کښې ښه مفصل لیکل شویدی او که څوك د افغانستان مشاهیر لیکی البته چه په ډېرو لیکلو به ئی هم حق ادا نکړی شی مونږ دلته یوازی د ده

---

۱:(۱۲۶۵ هـ) کښې په ۵۲ کلنۍ وفات شویدی. (پښتانه شعراء)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شاعرۍ سره کار لرو او غواړو چه د اشعارو رنګ او ډول ئی په دوه درې نمونو کښې وښیو:

(۱)

## علم

علم څه عظیم دولت دی　　چه د دوو کونو عزت دی
د هر فضل و هنر کان دی　　د جهان په تن کښې جان دی
قوت د زړه قوت د روح دی　　سرمایه د هر فتوح دی
لکه لوی پکښې هنر دی　　هسې رنګ ئی لوی خطر دی
که سودونه تری مونده شی　　هم زیانونه ځنی وړه شی
ګاهی زړه لره مدد شی　　ګاهی دی د لاری سد شی
ګاه د وصل شی د لال　　ګاه حجاب شی د وصال
کله نوش شی کله زهر　　کله لطف د کله قهر
چه په زړه اثر کا یار شی　　چه په تن زور وکړی مار شی
ډیر عظیم ئی منفعت دی　　چه مدار د عبادت دی
د دین کار واړه په ده شی　　چه مولا پری پیژنده شی
آئینه د زړه صفا کا　　چه له رنګه ئی جلا کا

❀ ❀ ❀

(۲)

## زړه

زړه په مثل د بادشاه دی　　هر اندام د ده سپاه دی
کل اعضائی مسخر دی　　د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان ئی خوله ویل کړی　　لاس نیول سترګی کتل کړی
چه دی راست شی راست بدن شی　　چه فاسد شی فاسد تن شی
ته مدام اصلاح د زړه کړه　　په هیڅ وخت کښې غفلت مکړه
ډیر پکښې دی جواهر　　قیمتی نفیس نادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول عقل بنه ګوهر دی        د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر ئی معرفت دی        زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمونه حکمتونه        واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسی خزانه ده        د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم ئی ده ساتنه        له جمله غلو او رهزنه
چه دښمن ئی تالانه کا        جواهر ئی یغما نه کا

❀ ❀ ❀

(۳)

دا جهان واړه عدم و        د عدم غولی تور تم و
ټول اشیا پکښې مستورو        نه تمیز و نه ظهور و
توره شپه وه د عدم        نور د حق شو صبحدم
رنګ په رنګ اشیا عیان شوه        خوك اعراض شوه خوك اعیان شوه
په هر شی کښې تجلی        شان په شان ګڼه جدا
ګوښی شان دی په هران        کل یوم هو فی شان
چه څه خیر او یا کمال دی        یا څه حسن او جمال دی
ټول له حقه مستعار دی        په ممکن کښې نمو دار دی
یا چه څه مهر و احسان کا        یا پر جن یا پر انسان کا
دا پرتو د وجود د حق دی        چه احسان د ده مطلق دی
نور د حق متاصل دی        په ممکن کښې عکس و ظل دی
پس چه هر حسن و احسان        له خالقه دی عیان
هر سړی چه ثنا وائی        په نیکی سره خوك ستائی
دا ثنا ثنا د حق ده        چه نیکی عطا د حق ده
کاینات چه د جهان دی        په ثنا د حق ګویان دی
نباتات که جمادات دی        علویات که سفلیات دی
غنچه ګوره یکدهانه        په تسبیح د حق ګویانه
هر بلبل چه په نوا دی        د تحمید نغمه سرا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ګیاه رطب اللسان دی | له خالقه ثنا خوان دی
هره ونه ثنا وائی | په هزار ژبی ئی ستائی
اسمان ګوره په رکوع دی | چه مدام دی په خشوع دی
زمکه تل ده په سجود | تعظیم کړی د لوی معبود
دا دریاب چه تل په جوش دی | هم د ذکر په خروش دی
غرض دا چه ځه اشیأ دی | په تسبیح د حق ګویا دی

ولی حق ئې د ثنا
په هیچا نشی ادا

❁ ❁ ❁

## (۴) ملا عبدالباقی کاکړ (۱)[29]

شعر یوه نغمه ده چه د شاعر د زړه درد او احساسات پکښې ارو مرو ځان ښکاره کوی یعنی هر څه چه د شاعر د زړه په اعماقو او د نفس په خفایاؤ، شعور او ما تحت الشعور کښی وی شعر ئی میدان ته را باسی او څه چه په دیګ کښې وی په کاسه کښې را وزی کله چه شعر د یوه ملا کورته راځی او یو رښتیانی عالم یا په بل عبارت د اسلام په درد درد من سړی شعر وائی نو په شعر کښې ئی دینی او تبلیغی مطالب له اسلامی درد سره یو ځای وینو او شاعری بل راز راته ځان ښئی. نور شاعران که پخپل شعر کښې د ښکلو له جفا او هجرانه یا د رقیبانو له ظلم و جوره شکایت کوی ملا عبدالباقی له بدو عاداتو او هغو رواجونو سرټکوی چه له اسلامه ورته مخالف ایسی او له دینی امورو سره تصادم لری د همدی لامله خپل دیوان (تهذیب الواجبات لتخریب العادات) بولی او په پښتنو باندی سخت تنقیدونه کوی، ملا عبدالباقی که څه هم په خټه کاکړ او د قندهار د خوا پښتون دی مګر د خدای د کلام او د اسلامی احکامو په مقابل کښې ځینی پښتنی دودونه ډیر بد ګڼی او کوم مزمن اخلاقی امراض چه په کورو کلی کښې وینی په ډیر نفرت ورته ګوری نو باید د ده وطن او کورنۍ قوم او قبیله اسلام وبولو او علم و دین ته ئی منسوب وګڼو.

عبدالباقی ملا دی مګر داسی ملا چه په ظاهری طاعتونو نه غولیږی او انسان یوې حقیقی قبلی ته متوجه کوی لکه چه وائی:

---

۱:د ژوندون دوره ئی د (۱۳۰۰ هـ) په حدودو کښې ده د (۱۳۱۹ هـ) پوری ئی ژوند یقینی دی. (پښتانه شعرا دوهم ټوك)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدرسه او قال و قيل منبر هلته ستا په نبه شه — که دې ځان ويوست له ميانه چه محراب دی پر قبله شه
که محراب دې شه وځانته نمونځ کوی بی طهارته — تر هغو دی نمونځ باطل دی څو محراب وهی په لته
سجده راغله خپل بدن ته قبله پاته شوه بيکاره — تندی څوك دی زړه ته ګوره چپه مه څه ای ناداره
بدن شو د تندی پيټی ته نبه وګوره و ځانته — دا چه ګام پر مخه نځو سجده نه راځی رحمان ته
څو سجده رب ته ونکړی خلاص به نشی له تاوانه — که مسجد کل پيمانه شی په سجدو سره نادانه
د پکړی پر وله سجده ده زموږ په شرع کښې مکروهه — ستا په سر په خوارونو د دنيا غم او اندوهه
هم ساجدئی هم مسجودئی دا به کله شی جانانه — څولوئی رب ته ورنکړی تر ابده سرګردانه

❀ ❀ ❀

**په بل ځای کښې هم حاجيانو ته د کعبی رهبری کوی او وائی چه بايد سړی روحانی حاجی شی او روحاً کعبی ته ورشی يعنی د تن او بدن تيمار داری پرېږدی او دغه جسمانيت چه د روح د سير په لاره کښې لوی پيچومی او د روحانی مقاصدو دپاره لوی حايل دی له مينځه واخستل شی ملا عبدالباقی دغه حاجی چه په اوښ سپور دی او مزل کوی حاجی او اوښ نه بولی بلکه روح ته حاجی او بدن ته اوښ وائی لکه پدی لاندی بيتو کښې:**

د بدن مثال ئی اوښ کړ روح حاجی دی ځی مکی ته — چه پر اوښ باندی شيدا شو وربه کله شی کعبی ته
شپه او ورځ د اوښ تيمار دی بل څه نه وينم په ځانکښې — بدګمان می قياسی شو څه په ځانکښې په جهانکښې
شپه او ورځ د تن خدمت دی پټ او لڅ ترې قربانيږم — د شيطان پر لکۍ سپور يم د بزو په شان رقصيږم
او يا لوبی زده کومه مدعا ټوله يوه شوه — که می دين شو که مې عمر و بدن ته وسيله شوه
د تن پوله که شوه ورانه هيڅ پيچومی نشته ورانۍ — که پر دی پوله بالا شوه کوه قاف به شی تر لاندی
سنګ وزر، غم و ښادی چه دواړه يو شوه په ميزان — دروازه شوه پر تا خلاصه نوم د يووور د انسان

❀ ❀ ❀

**ملا عبدالباقی په هغو کسانو چه د خپل طبيعت او اصطلاح و عادت له مخی طاعت و عبادت ته را وړاندی کيږی يعنی فرايض پرېږدی او په نوافلو سرماتوی، له مکروهاتو ځان ساتی او په حرامو ورمنډې وهی سخت انتقادونه کوی او په دين باندی بی ترتيبه ګډيدل نه خوښوی:**

د پيشو پسخورده نخورم زه مکروه کله کوم — د مړه وروړ په ورستو غوښو ځان او کلی عذروم
په ښی لاس کښې می عصا ده چه سنت می علاوه شی — پدی بل کښې می تېشه ده د خپل دين ريښی وهم
دين مې ټوله طبيعت او اصطلاح او بد عادت شه — تش الفاظ می دی په خوله کښې د مليت دعوی کوم
زه په خوله هاها لرمه چه مرغی دانی يونسی — په لاسو کښې می اورټك دی په ګله اور لګوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

علت ټوله کم علمی ده بې ترتیبه په دین کړ شوم
فرایض مې بېکاره کړ نوافل پر سترګو ږدم

❀ ❀ ❀

**په یو بل ځای کښې د خپل وخت له کوم قاضی نه د شریعت دپایمالولو شکوه کوی او په ځینو پیرانو او ملایانو هم پدې ډول دینی انتقاد کوی:**

رب دی نه کا داسی پېښه د قاضی خپلی چه غلا شی
که هر څو تحمل وکا په اندوه به ئی مبتلا شی

محکمه به وی مغمومه محتسب به شی ناتوانه
د قاضی خپلی شوی ورکی مصیبت ئی تر آسمانه

نازنین شریعت ګوره تریښو لاندی شو پایماله
د خپلی قدرئی نشته آه افسوس لدی وباله

که آخوند څوك په مسجد کښې په کړو حروفو یاد کا
چه ئی وس دو سه کېږی ذات وبود به ئی برباد کا

د صاحب پر مسئله که بې اودسه مرید تېرشی
دی مردود د طریقی شه تر ښکنځابه ئی وهل ډېر شی

ته د شرع بوستان ګوره څه رخنی پکښې شوی جوړې
خره غوائی پکښې تېرېږی په څرمنی او په اوږې

❀ ❀ ❀

**ملا عبدالباقی لکه چه په ځینو علماؤ او روحانیونو انتقاد کوی په پښتنو او ځینو پښتنی دودونو هم ډېر بې پروا راځی او د حق په ویلو کښې ئی له هېچا نه سترګه نه سوزی ځکه چه د دی سړی په زړه کښې د اسلام یو رښتیانی درد شته او هماغه درد ورځنی هر هر ځای ویل کېږی، نو دا مسلکی عشق باید مونږ ډېر محترم وبولو او دغه راز ترخه ویل په ډېرو خوږو خبرو، ورنکړو، هر انتقاد چه د اصلاحی مطالبو او د یوه ملت د غمخوری په اثر کښې وی هغه ډېر لوړ قیمت لری او هر څوك ئی قدر کوی. د دغه راز انتقادونو یوه نمونه دا ده:**

قرآن وائی چه وروړ مړ شه د اورتې واك ئی خپل دی
پټان خان توره ترخنک کړه د بابا روش ئی بل دی

مخامخ پر قرآن ورشی هېڅ حیا نه کا له خدایه
د بابا روش غالب کړی قرآن واچوی بیځایه

بلاشکه چه د ظلم دوری پورته شوی تر عرشه
دا خفت د قرآن بولی آسمان لرزوي تر فرشه

د مزمن مرض علاج دی بوعلی په قانون نشی
خصوصاً که جبلی وی په سینا افلاطون نشی

هر سړی چه حجت نیسی د بد کار په باباګانو
غلط دروهی دا شیوه ده د قدیمو جاهلانو

علت ټوله بد تقلید دی مومنان پری حبطه شوه
هېڅ تېزی د فهم نشته چه احکام د دین خسته شوه

د قرآن پانی بالا کړه څه نعری وهی بېشانه
چه روش پر عادت راغی وائی نروی په اسانه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملا عبدالباقی په اشعارو کښې دینی او مذهبی جذبات باعث شویدی چه د دین جواهر او حقیقت خلقو ته وځلوی او د تقلید و عادت ګردونه ترې وڅنډی، نو ویلې شو چه ملا عبدالباقی په دینی او مذهبی احکامو کښې د ښه تعمق او دقت خاوند و. او یو عالمانه شعور ئې په شعر کښې څرګند کړیدی د نمونو په ډول ئې دا څو شعرونه نور هم وګوری:

## لمړی نمونه
## د نفس خدعه او د ریا طاعتونه

نفس پر خپل بدن عاشق دی پری شیدا لکه مجنون — دلیلی له اشتیاقه لېنتوب ئی شو فنون
بدنی نقوش بی ټوله خو ئې روح د معنی نه وی — په ښه نه راځی جانانه چه توښه د عقبی نه وی
که اوه قطاره اوښ ئې په قرآن مکی ته بار شی — که د نفس بدن ته مخ و په قیامت به څه پکار شی
تش درېری خاوند ګوره په څه شوق ئی چارشانه کړی — یوه لوبه د زینت شوه خوار په ږیره سامانه کړی
فهم و عقل دېته وایو چه نفس نشی پری افکار — که خوشبو په حقیقت و، په نیم غاز نشو پکار
حقیقت و هم و خیال بولی مدعا زیب و زینت شوه — که اسباب د جهل نه وی کله لاړ د سعادت شوه
چه تر رنګ و خوند تېر نشو عاقل نه وخوت ساده دی — افلاطون که د خپل وخت وی تر شا درومی پسمانده دی
دین مو کړ تابع صورت له ځکه هر څوك چپه درومی — هغه دین زمونږ پکار شو چه صورت برخه تری مومی
مکتوبات ته می شوق کېږی حکم ریزه په مجلس کښې — سامانه لری ښشانه شوه مرانه په اولس کښې
فتوحات و فصوص دواړه په دوو لبو لو لمه — لوی صوفی د زمانی شوم غاړه لوړه غځومه
قسم قسم بازی جوړی مدعا ټوله یوه شوه — که ئی دین که ئی دنیا ده وصورت ته وسیله شوه
په خدعه د نفس یوه نشوو ظاهر رنګ ئی د طاعت — چه ئی لخ مکر و حیله شوه زنار و د ګبریست
ګاهی جګ پرېښو ولاړ شی تهجد کوی د شپی — ګاهی غټی تسبی واخلی ګردن بند د رقی
کله کوز شی و خلوت ته قیل قال کړی بیکاره — کله وخېږی منبر ته فصاحت کا خپل ښکاره
زور ئې ټوله بدنی دی مدعائی سامانه شوه — د سامبال په کښېدوئی خرخه ټوله زمانه شوه
له قرآنه قوت واخله چه نفس ووهی په لته — تا قرآن د ده پېزوان کړ چه ښه واېسی په نته

❀ ❀ ❀

## دوهمه نمونه
## سؤ ظن

بدګمان سیاه روئی ده دین په ونړوی وروره! — تخالف د حکم پرېږده د مولی امر ته ګوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدګمان درونی چرك دی چه راپورته شی پر خیال
باطنی خبث که ورك شو ګمان نلری مجال

ستا د خیال په اندازه کښې انسان لوی دی نه ځاېږی
توله عکس د خپل مخ دی چه له بله لیدل کېږی

چه عینکه شوه مظلمه جهان ټوله شوه تاریك
د ابلیس مراد حاصل شو چه په خوی شو ور شریك

ابلیس وکتل ادم ته پر خپل ځان ئی کړ قیاس
دغه تخم ابلیسی دی چه کښتګر ئی شه خناس

علت کل د باطن خیری بدګمان له هغه ځایه
د رحمت په لمن ځانګه صفائی غواړه له خدایه

بد ګمان د الله خوښ دی له قوته د ایمان
بدګمان خدای منع کړی په آیت کښې د قرآن

که قاضی چېری ولی وی مامور شوی په صورت
حق باطل په کشفوني صورت لار د شریعت

چه په کشف کړی حکمونه قطب و غوث لره نه ښائی
پر ګمان که نا پو درومی د شیطان سبق به وائی

چه مقیاس ئی د دین نه وی سنګ و تول د قیاس کېږدی
خوار پوزبند شو له شیطانه غلط درومی قرآن پرېږدی

❀ ❀ ❀

## دریمه نمونه

## د حب او بغض تاثیر د انسان په قضاوت کښې

دا نکته درسره واخله په ښه خط ئې نوشته کړه
هره ورځ که چیری نه وی په هفته ئی وظیفه کړه

زما دین زما مرانه تابع ستا د طبیعت
که دی طبعه وه مایله نشته ماله بد خصلت

زما کار که نامشروع او نامعقول او ناموزون وی
که ته وی زما هم طبعه تر موزنو به افزون وی

که دی طبعه له مارغښتی برطرف وه زه شقی یم
شك شبه پدې کښې نشته که هر څومره متقی یم

زما اذان که چیری واوری کلیمه نه په درستېږی
تکه پوست می داسی خوار شی بنی نه ځنی سازېږی

که می دم د مسیحا وی ته به ئې وګڼی جادو
طبیعت که روګردان شو ما به وبولې هندو

زما تندی که سپوږمی وی ستا په خیال کښې به تبی شی
که تك تور وی له ظلمته په نظر به دی سپوږمی شی

که هر څو ګرګین پمن یم د ظلمت په خم لړلی
که مرغوب د طبیعت وم د کوثر په اوبو وللی

څه عالم طبع غلط کړ له زانګو تر زکندنه
آګاه نشو تر لحده خود بافته له خود دوخته

حقیقت شو خورا لری عاقلان شوه ناراسا
ګرویده د طبیعت دی له فاسقه تر پارسا

خود به وی حقایق لری لعل یا قوت په خزینو کښې
جواهر کله مونده شی د دهلیز په دالانو کښې

❀ ❀ ❀

## څلورمه نمونه

## من کان فی هذه اعمی فهو فی الاخرة اعمی

هغه څوك چه دلته ړوند وی په دنیا کښې له صوابه
چپه لار ئی وی اخستی باندی درومی بی کتابه

دا سړی په عقبی ړوند دی دوه جهانه ئی خطا شوه
راسته لار ده ځنی ورکه نه ئی دا نه ئی عقبا شوه

پر دنیا به سرګردانه ، هلاك ګرزی تر تابوته
ړوند و ګوڼ په آخرت شه دائی ګټه له ناسوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه پدی دنیا کښې ږوند دی نابینا په اخرت دی   که ئی اوس علاج ونکړ تر ابده په لعنت دی
خاوری واړه پر دا عقل چه ټوله پر تن تمام شه   هوشیار هغه سړی بوله چه ئی تن د زړه غلام شه
نه ئی سرشته نه ئی پای شته عمر ټول پکښې تلف شه   یواومړی مزی کوم دی چه د دین خرقې ته صرف شه
ته مسجود د جبرئیل وی ملا دی ماته شه نامرده   د بوده په آبخور مېخ شوی ځانته وګوره نامرده
رب مې بولي بلندی ته زما د کښې خواته کښېن دی   په دوو غبرګو سترګو ږوند شوم د فلك عجب ګردش دی
د پستی له اشتیاقه څه عالم په غم نری شه   آه و اوه ئی له ځیګره مدام خېژی لیونی شه
نه ظالم نی معاون شوم نه رهزن نه آدم خور   نه می نوم نه می نشان شو پر ځای پروت یمه نسکور
نه می وتړله غته چه شهره شم د عالم   نه ابلیس غوندی شیطان شوم په ذلت کښې د آدم
څوك شوه هسی ګشنه چشمه د ږوږی په غم زهېری   دومره فکر فهم نشته طفل څه خوری چه وزېږی
توری خاوری ئی غنم کړه سترګې و موږه بیدار شه   الله پاکی سترګی غواړی وپوهېږه خبردار شه
که روژې دی که نمنځو نه همګی د دید اسباب   ټوله دین د دید دوا چه دا غلط دی دا صواب
په قرآن کښې الله وائی نمونځ مانعه د منکر شی   یعنی دید دی پری زیاتېری بد به تا ته مصور شی
معصیت سړی ږوند کوی کا ښه او بد شی ځنی ورك   د فاجر په سترګه ګل دی تور ظلمت په مردمك
خیرګی د بصیرت شوه که د ورنکړ زکات   کدورت د زړه جارو کړه په سفر د عرفات

## پنځمه نمونه

## علم

چه حضرت ئي علم بولي هغه علم د قرآن دی   له بلوغه تر تابوته فرض واجب پر انس و جان دی
شك شبه پدی کښې نشته مرضو لره علاج دی   حذاقت د شریعت شو هر عاقل ورته محتاج دی
جالینوس ارسطو دواړه هریره تر پیشو ځارشه   زر یو نان او فیلسوفه د بلال تر خد نثار شه
د اصحابو د پښوګرد، د خود بین د دید سرمه کړه   خاك روب د مدینی شه، نفس شیطان سراسیمه کړه
خود بینی که ورکه نشی علوم ټوله حبطه شوه   له معقول اوله منقوله سر، سرسام اعضا سکته شوه
علوم ټوله بدنی و، بدن پاته شو پر زمکه   د لاس ګوټي به پر خوله کړی صد ساله وړه هلکه
علت ټوله عشق د تن دی په معنی ساعت تېر نشو   په ظاهر صورت مشغوله بدن هېڅکله هېر نشو
چه ئي عشق پر تن تمام شو بل څه نشته بی آبخوره   په قسمت بالا خرخېری چه هر څو بوده پر خوره
باری ربه چه تر ږکو د شهر ګوراته تېر شوی   تر دی زیات قربت به څه وی ای را تېره ولی هېر شوی

نن ورځ علم وسیله شوه وبکړی ته چه په لو شوای   څوارلس علمه زده کوم چه عمامه په شپېتو ولوشوای
د لحد ملکری نشو خواری مه کاږه – دلبره   چه هر وخت له آسه کوز شوی بکړی ولوېده له سره
که اطوال او مطول له یاده لولی بی کتابه   که غایه او غرض نه و، څه به یوسی له دی بابه
که هیئت د بطلیموس دی پر نکین نقوش پراته وی   چه پخپل غولی کښې ورك شی د نقشو به حاصل څه وی
چه فارسی او عربی او ترکی دری سره په یاد کا   که مراد له سړی ورك و په کوم لفظ به ځان ښاد کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه بیان او معانی او بدیع ټوله ملکه شی
پس له مرګه فصاحت او بلاغت کله په ښه شی

❀ ❀ ❀

عرش تر فرشته چه ځلېږی کل د علم سترګه غواړی
که د علم سترګه نه وی نسکور پرېووت تل دې ژاړی
د انسان په خال وخط کښې تر پوه پورته زینت نشته
که ځان پېژنی سړی دی تر ده بل په عزت نشته
جټ جولا که هوښ پیدا کا تر شریف د قوم بهتر دی
که سر خیل شی جاهل پاته تر زړی جټې بتر دی

❀ ❀ ❀

## شپږمه نمونه
## عارفانه سندره

را اخیستی می شهباز دی د خپل عشق رباب وهمه
نغاره د اسلام کوك شوه دواړه برېته تاوومه
د ساقی شراب له عشقه عالم ټول وینم ګلرنګه
خوشحالی پر حال د هغو چه ئی زړه پاك شوله زنګه
څه نغمی څه ترانی دی قسم قسم اوازونه
قمریان پرښاخو ناست دی مطرب نوی کړه سازونه
خم په جوش، پیاله په دور، قلقل شو د صراحی
مستانه په رقص راغله درب و دروب د پاکوبی
چه د هوش پیاله ئې نوش کړه څه چه دلته نندارې دی
نمونه له آخرته تماشې ټولی هورې دی
دلته محض عکس وظل دی حقایق غواړه هوری
چا چه شاکړه دې نشې ته زربه وکړی نندارې
سر بالا کړه له څانګو نو وګوره پورته آسمان ته
شوه خیمه د مسافرو نظر وکړه تېر جهان ته

❀ ❀ ❀

(شپږمه نمونه له پښتانه شعرا ٔ څخه)

## (۵) د موسیي اخندزاده صاحب(۱)[30]:

اخندزاده صاحب د خپل وخت له مشهورو عالمانو او پیرانو څخه و چه په لوګر، غزنی، کابل او ځینو نورو ځایو کښې ئې ډېر مریدان لرل او د لوی اعتبار خاوند و د اخندزاده صاحب نوم ملا فیض محمد دی چه د اعلیحضرت امیر شیرعلی خان په وخت کښې ئې ژوند درلود او د هډی د اخندزاده صاحب (جناب مولانا نجم الدین صاحب) همعصره وه او دواړه د سوات د اخندزاده صاحب جناب مولانا عبدالغفور صاحب شاګردان او مریدان وو.

---

۱:ماخذ د کابل مجله د ښاغلی حبیبی مقاله او روضه المجاهدین.

د ملا فیض محمد صاحب د زیږیدو نېټه د (۱۲۵۰ هـ) په حدودو کښې معلومېږی او له ده څخه یو قلمی کتاب د (روضه المجاهدین) په نامه پاته دی چه په پښتو نظم لیکلی شویدی او د جهاد ستانیه، او ترغیب پکښې زښت ډېر لیدل کېږی او لکه چه له نامه څخه ئی معلومېږی د کتاب موضوع هم همدغه شی دی، پدی کتاب کښې تبلیغی مطالب او د اتفاق و یووالی خواته را بلنه او نور دینی او اخلاقی مضامین د پښتو په ښه روان شعر کښې لیدل کېږی او ویلی شو د موسیی اخندزاده صاحب د پښتو شاعر هم و او د پښتو له شعره ئی. د وعظ و نصیحت، ارشاد او تبلیغ کار اخیست.

دا کتاب چه د پښتو ټولنی کتابخانی ته د ښاغلی پژواك په سعیه سپارل شویدی په (۱۳۳۷ هـ) کښې د لغمان د علیشنګ د دری د اسلام آباد د کلی رمضان نامی کاتب لیکلی دی او (۱۳۵) مخه دی. د نمونی په ډول ئی دا څو شعرونه وګورئ:

(۱)

راشه واوره دا بیان          راشه بوی کړه دا ګلان
عندلیب د دی ګلشن شه          هم طوطی د دی چمن شه
په سیل ګډ شه د بلبلو          څوکی وخوره هم د ګلو
کارغه مه کېږه دینداره          چه ګردش کړی په مرداره
ګونګټ مه کېږه بورا شه          په غنچه د ګل شیدا شه
ستا د نفس دومره مقدار دی          چه الله ئی خریدار دی
ګوره دومره دی قیمت دی          خون بها د ستا جنت دی
خبر دار شه با همته          ځان دی نکړی بی عزته
چه دلال نکړی شیطان          ځان دی خرڅ نکړی ارزان
سربای نکړی په کوډی          ځان خرڅ نکړي په دوړی
چه الله ته ځان پرنکړی          په جیفه خپل ځان مړ نکړی
ګوره پټ نشی په کور کښې          بیا به تل زاړی په ګور کښې
ګوره نکړی ځان بی ننګه          مخ وانه ړوی له جنګه
څوك چه ځان ساتی له تورو          رغبت نه کاندی په حورو



(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)

که جهاد پېښ شه دینداره واخله لاس له کلی کاره
مه بل کار کړه مه پیشه تل جهاد کړه همیشه
رغبت مکړه خرکاری ته ځان تیار کړه سرداری ته
ګوره مکړه باغبانی راغب شه په کامرانی
سبق مه وایه طالبه بیا مطلوب ته شه راغبه
د کوډیو دکانداره د لعلو شه خریداره
په غزا لاړ شه همت کړه تر نظر لاندی جنت کړه
نوره غلا بس کړه سارقه توبه ګار شه ای فاسقه
سکنه ما خله د چا کورته په غزا لاړ شه کوم لورته
کفن مه کاږه سنبال شه خبردار شه وړاندی لاړ ښه
ستر که پټه لکه باز کړه د مولی په لور پرواز کړه
کارغه مه کېږه بلبل شه جیفه پرېږده یار د ګل شه
مومن هر چېرته عالی دی پاك الله د ده والی دی
خلاف مکړی پخپل میانکښې چه واقع به شئ په زیان کښې
د نصرت شمال به کوږ شی د دښمن خاطر به خوږ شی
رعایائی که پلتن داسی شئ لکه یوتن
همه واړه یو وجود شی په طلب کښې د مقصود شی
اقامت په بندر ګوره تر یوی شپی ورځی وروره
تر تمام جهان بهتر دی هم له هر شی نه خوشتر دی
که ئی مشك که ئی عنبر وی که ئی در که ئی ګوهر وی
هم بهتر دی ای فهامه یوی میاشتی له صیامه
چه په شپو کښې ئی قیام کړی عبادت د رب مدام کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

### (۶) ملا صیام الدین (واعظ):

کله چه شعر د خلقو د اصلاح او لارښوونې دپاره جوړیږی او د منبر په سر ویل کیږی نو بیا ورته خلق خطبه وائی او خطابی آهنګ پیدا کوی په دغسی اشعارو کښې د اخرت سودا د خدای ویره، د ظلم او ګناهونو عذاب، د نیکۍ اجر او ثواب بیانیږی او له ترغیب او ترهیب نه پکښې کار اخلی یعنی شعر د موعظې ځای نیسی او شاعر د واعظ حیث پیدا کوی ځکه صیام الدین اخندزاده صاحب خپل تخلص واعظ کړی و او پخپلو اشعارو کښې ئی ځانته واعظ ویلی.

واعظ په خلقو کښې د کجوری په ملا صاحب مشهورو او پلارئی محمد نظیف نومیده واعظ صاحب سره له دی چه د خپل وخت یولوی شیخ او د لنګرو خانقا خاوند، د خلقو پیشوا او رهنما ؤ له شعر سره ئی هم ډیره مینه درلوده او همیشه به ئې فارسی او پښتو اشعار لوستل، ده پخپله هم په پښتو او فارسی شعر وایه او د هری جمعی په ورځ به ئی خلقو فارسی یا پښتو خطبې ته انتظار درلود.

د ده په وینا او بیان کښې ډیر تاثیر و او هر څوك به ئی په خواږه قرائت، نورانی څیره او ښه وینا مینېدل چه بیا به ئی زړه د ده له صحبته نشو صبرولی د ده بلاغت و فصاحت ښه سړیتوب او اخلاقی فضایلو، وقار او مروت ډیر خلق د ده تابع کړي و او په مجلس کښې به يې بل شان تاثیر لیدل کیده..دد شعر یوه نمونه دا ده:

## خطبه

| | |
|---|---|
| سبا پاخې تر بېګا دې له خولې شورځی | نه ستومان شوي نه دی هېڅ د زړګی زور ځی |
| د اجل سواره د هر سړی په کورځی | ګورستان ته د چاپلار او د چا مور ځی |

❁ ❁ ❁

| | |
|---|---|
| ډیر خوبان چه په رخسار بدر مثال و | پادشاهان چه هم ئی جاه او هم جلال و |
| ښایسته ځلمی چه سربلندی به ئی شال و | اوس ئې وګوره چه قبر ته سر تور ځی |

❁ ❁ ❁

| | |
|---|---|
| که تمام عمر په حرص سره تالا ش کړې | نه به زیات نصیب په قدر د خاشخاش کړې |
| بیفایدې دې خوشې خاوری په سر فاش کړې | له ازل سره سم کله د چا زور ځی |

❁ ❁ ❁

| | |
|---|---|
| که په حرص دې د قارون قدر ته مال شی | در حاصل که افلاطون قدر کمال شی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر به ستا د مرګ له خپو لاندې پایمال شي — سپېره تن به خالی لاس د ګور په لور ځي

❀ ❀ ❀

روزی رزق نعمتونه د رحمان خوري — ای کمبخته فریب ولی د شیطان خوری
تش په تشه قسمونه په قرآن خوري — خوار ذلیل به آخرت ته قسمخور ځی

❀ ❀ ❀

په حرامو پسی ګرزي نه ئی مومي — له اخلاصه په هر لوري پسي درومي
ګرزوي په لاس کښي دام د ټګی لومي — سري لمیي به په سورمو د حرامخور ځی

❀ ❀ ❀

چه په غلا، ظلم ټګی به پردی مال خوری — یا په نس یا په اولاد او په عیال خوري
پدي کل واړه ایمان د ده نقصان خوری — آخرت ته به په غاړه پردي پورځی

❀ ❀ ❀

کینه بده ده بیشکه جنګ حرام دی — چه ایمان پري نقصانیږی څه ناکام دی
کمینی کوئ چه څومره لوی مقام دی — میوه داره منډه ځمکی ته نسکور ځی

❀ ❀ ❀

وخت آخر شو، فسادونه شوه برسېره — مؤمنانو په ایمان مو وکړئ وېره
جماعت، جمع، جمعه چه نکړی هېره — استغفار وایئ، چه څوم د زړګی زور ځی

❀ ❀ ❀

وخت آخر شو خود حیا له ښځو لاړه — نا محرم نه پلو نه نیسی په غاړه
ای مومنه! ته دي سترګي ورنه نغاړه — هغه غل دی چه په لور د پردی کور ځی

❀ ❀ ❀

په یو دم به شل غزل بیان په شعر کړي — که ته مرد ئي سم به مونځ ملا ته تېر کړي
برابر په شدومد، په زور و زبر کړي — د بلبل مقام ته کله کارغه تور ځی

❀ ❀ ❀

که دي چېری شل روپۍ پټي تر ملا وی — په چوله کښي به دي څومره خوف د غلا وی
په تلوار به دي خپي هسي مبتلا وی — لکه دود چه پاس په سر د لمبو سور ځی

❀ ❀ ❀

او ایمان چه د ستا نور د کردګار دی — هم بهتره له هر څه نه په هزار دی
هیڅ له تا سره نه وېره نه ئی ډار دی — شیطان تل درسره سم د ایمان چور ځی

❀ ❀ ❀

قرانونه له زړګونو شول بسیار — په هر کور کښي دی ګردونه پري انبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلق اکثر ئې له لوستونه شول بېزار ‏ ‏ ‏ ‏ له دنیا به شرمېدلی په مخ تور ځی

❀ ❀ ❀

ډېر شیخان او ملایان د دنیا کار کړي ‏ ‏ ‏ ‏ چه وخت تیر شی نو بیا هله مونځ اختیار کړی
زرئې لري لکه درونډ د اوږو بار کړي ‏ ‏ ‏ ‏ په خوله مونځ په زړه ئی شل فکرونه نور ځی

❀ ❀ ❀

مونځ هغه دی چه معنا ته ئی حضور وی ‏ ‏ ‏ ‏ لکه دا چه یې له خدای سره مذکور وی
هم ئې ښه قیام، قعود په ښه شعور وی ‏ ‏ ‏ ‏ چه دا نه وی ښکته پورته به تش تور ځی

❀ ❀ ❀

بېلمازان به سره ناست وی سترګې خړې ‏ ‏ ‏ ‏ په لامده چلم مرداری خولې ککړې
په ژوندوني ورنه خېژی شني لوخړی ‏ ‏ ‏ ‏ خود به قبر ته زړه سوې لکه سکور ځی

❀ ❀ ❀

په غیبت مرداري خولې زورندې پوزې ‏ ‏ ‏ ‏ چه ئې کاندې په اذان پورې بېچموزې
خدایه! ته ئی پخپل قهر سره بوزې ‏ ‏ ‏ ‏ هغه ځای ته چه قارون ښکته نسکور ځی

❀ ❀ ❀

ای واعظه! راشه بس دغه ګفتار کړه ‏ ‏ ‏ ‏ ځان دې سم ته د نبی صاحب په لار کړه
له دې پسه نصیحت ځانته اختیار کړه ‏ ‏ ‏ ‏ په لمده ګرګه تاثیر کله د اور ځی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ساز او سرود بدلې

## بزمي اشعار

په پښتو کښې يو ډول اشعار شته چه مجلسيان ئې له ساز سره وائې او مخصوص آهنګونه لري.

دا راز اشعار اکثره له عربي عروض څخه مخالف وي او د پښتو په مخصوص آهنګ ويل کيږي د همدې لامله ئې ملي اشعار هم بولي او ځينو ته سپرې بدلې هم وائې، دا ډول سندرې په طبيعت کښې نشاط او مستي پيدا کوي او جونه و ځلمي ئې په ډېر شوق اوري ځکه چه پدې قسم سندرو کښې د زړه خبرې په ډېر ساده کيف له ډېر صداقت او صراحت سره وي او څه چه د يوه مين زړه غوښتي وي هغه ويل شوي وي.

له دې قسم اشعارو سره زياته دلچسپي د دې لامله وي چه اکثره پکښې شاعران عاشق او معشوقه په سوال و جواب راولي او د دوی د زړونو رښتيانې ترجماني کوي، پدی اشعارو کښې سړی ته يو دا راز تخيل پيدا کيږي چه دوه مين د عشق راز او نياز لري او زه ئې خبرې اورم. نو هر کله چه عاشق او معشوقه مجنون او ليلی آدم او درخانۍ، مومن خان او شرينو، موسی خان او ګلمکۍ، سيد کمال او ببو جانه شاعران شي او د عشق سندې وائې ولی به په سړی اثر نه کوی او زړونه به نه ويښوی پدی راز اشعارو کښې مينه او عشق له يوی خوا څخه نه وی بلکه ليلی هم مينه وی او په همدغسې ځای کښې ويل کيږي:

پـــه ليلـــی هـــر خـــوك مينبـــږی    سخ د هغو دی چه ليلی شی پری مينه

❀ ❀ ❀

همدغه شی دی چه د پښتو په ملی او وطنی اشعارو کښې ئې زياته جاذبه پيدا کړی او رومانتيکی رنګ ئې ورکړی دی که په چا باندی کله د عشق او مينی شمال لګېدلی وی هغه دا منلی شی چه د يوی معشوقې د جنګ خبری او سپوره کنځلی په سړی باندی خومره خوږې لګيږی نو اشعار او د مينی خبری به ئې ولی خوږی او مزه داری نه وی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که سړی د پښتو په عامیانه ادب. ملی چاربیتو، لنډیو او غزلو کښې فکر وکړی نو کومې خبرې چه د معشوقو له خوا شویدی دومره مؤثر دی چه سړی ورته پیریان نیسی او بل راز پرې راځی، د مثال په ډول دالاندی شعر وګوری چه یو مین او مینه یو ځای شوی او پدی باندی ئې جګړه ده چه په سپینه خوله می غاښ مه لګوه چه مخ به می سور کړی او د کلی کور او همزولو پیغور به راپاته شی، دا جګړه یوځل د دوی په منځ کښې تودېږي او بیا بېرته سره پخلا کېږی او په ډېر لطف و نزاکت سره سوال و جواب خاتمه مومی:

صفت خان د چپرهار:

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

مه لګوه غاښ چه د همزولو دی پیغور کړمه
زه به څه جواب سبا د کلی او د کور کړمه
اوس به د کوخی په منځ کښې پورته شروشور کړمه
مخ می دې ځوانمرګه غوڅ د غاښو په انبور که

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

غک به کړی په زوره ګوندی ټوله به دی تېره کړم
لېچی به زیندی ستا د نری غاړی چاپېره کړم
دا قهر وغصه به دی په یو ساعت کښې هېره کړم
ځانته دی مرګوتی پدی خپل عمل حضور که

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

مرګ داسی اسان دی چه ئی تاغوندی ځلمی وکی
تاغوندی کارونه مګر چېرته کوم شرمی وکی
ځوان خودی یو ځوان وی چه دا ستا غوندی ګرمی وکی
لاس د آخر پوری په بد دود او بد دستور که

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

ما غوندی ځلمی وری د څمکی په مخ بل نشته
تا غوندی پیکی په مخ د بوټی د سنبل نشته
ماغوندی بلبل په بڼ کښې ستا د مخ د ګل نشته
نه لګوم غاښ وری دا سوال می دی منظور که

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

تا چه کړ منظوره زه منه د بویولویم — واك اختیار دی خپل دی یاره ستا د لوبولویم
زه په زړه کښې پاکه کله ستا د غولولویم — ستا د زړه کوټې ته وقف ما د جبین ورکه

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

راشه صفت خانه چه اشنا دې دلجوئی وکړه — وه قراره شومه اودې داسی نیکخوئی وکړه
تېر شه باك ئی نشته چه پخوا یې بدخوئی وکړه — خیر دی پکښې نشته که دی یار ځانته تربور که

مه لګوه غاښ په سپینه خوله مخ می دی سور که

(پښتانه شعراء)

پدی شعر کښې چه عاشق او معشوقه پخلا کېدو ته چل جوړوی یعنی عاشق له یوې خوا خپل ځلمیتوب او له بلی خوا د محبوبی د مخ ګل ستائی او وائی چه نه د سنبل بوټی تا غوندی پیکی لری او نه ما غوندی بلبل پدې بڼ کښې شته ستا سوال می منظور که او په سپینه خوله دی غاښ نه لګوم نو معشوقه هم وائی تا چه زما سوال منظور کړ نو زه هم ستا د بویولو منه یم او ستا د لوبولو یم په زړه کښې درسره پاکه یم او د فریب و چل فکر راسره نشته. د خپل جبین نورمی ستا د زړه کوټې ته وقف کړ.
که څوك د خبرو له خوند سره اشنا وی او دا مزه څکلی شی هغه به دا ومنی چه د جبین نور د زړه د کوټې دپاره د پښتو په ملی اشعارو کښې دغه راز ډېری ښې ښې نمونې شته چه د سوال و جواب له طریقی نه پکښې کار اخستل شوی او شاعر پدې باب کښې ډېر مهارت خرڅ کړیدی، د مثال په ډول دا یوه دوه نمونی نوری هم وګورئ!

<u>لیونی محمدجی د پکلیۍ</u>:

بېګا می دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو — زه ګډ لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو

بېګا می دی سیل کړی ستا زلفو په باغچه کښې — ګډ لکه بورا شوم د انارو په چرچه کښې
ښې می کړه غاښونه په نرمۍ زنه سوچه کښې — بل بوی می کړ د شاه د غاړی هار د تور زلفو

زه ګډ لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه هار دی زما بوی کړیاره ته پری مست بنګی شولې　　اوده لکه بهرام د سر اسیا په پالنګی شولی
خورلکه بورا زما په سره ګل اننګی شولی　　اوس ډېر درته قهرېږی څوکېدار د تورو زلفو

بېګامی دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو

❁ ❁ ❁

که ډېر راته قهرېږی وړی رب به می ساتی کنه　　ته راته اوس سم که د اوږدو زلفو لښتی کنه
سپینه خوله دی راکه موږمی که لکه طوطی کنه　　یو ځله می ګډ که په انبار د تورو زلفو

بېګامی دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو

❁ ❁ ❁

تا به کړم داخل یاره د سپینی سینی باغ کښې　　ته به شی یاغی له ما به ګرزی په دماغ کښې
سپین مخ چه ښکاره کړم رڼا ورکه شی چراخ کښې　　رب را له راکړیدی سینګار د تورو زلفو

بېګا می دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو

❁ ❁ ❁

رب درله درکړی دی ډېر حسن بیشماره　　نظر وکړه نیازبینی زه ولاړ یم ستا دپاره
پرون چه صبحدم می درلېږلی وه ریباره　　په زړه باندی چیچلی یم ښامار د تورو زلفو

بېګا می دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو

❁ ❁ ❁

ښامار به درته دم کړمه وړوکیه اوده داره یم　　زهیره زه کمبخته ستا په پت کښې بیقراره یم
راځه چه ځوپکلی نه زه موزی نه اوس بیزاره یم　　ما ټول درله درکړیدی اختیار د تورو زلفو

بېګا مې دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو

❁ ❁ ❁

اختیار دې (محمدجی) که د پکلی په شاعرانو کښې　　بادشاه دی ځان نه شمېری په جمله د فقیرانو کښې
قلنګ ئی که جاری اوس د ډیلی په امیرانو کښې　　ملګونه ئی رایت کړه په اشعار د تورو زلفو

بېګامی دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو
زه ګډ لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سید کمال دشکی:

وروونیسه په خوله کښې د سورکوشونډو سرونه | په غاښو به میده کړی سره نتکی سره زنځیرونه
ورو ونیسه په خوله کښې غونډه زنه می ابداره | نادانه ډار می شینه ستا د غاښو له پرهاره
ته کله بینوائی د ګلونو له ګلزاره | اول اخره ستا یم خله وائی منترونه

ورو ونیسه په خوله کښې د سورکو شونډو سرونه

❀ ❀ ❀

منتر به ولی نه وایم زما د خوا بلبلی | په خوله باندی زمائی او په زړه باندی د بل ئی
له ما سره وعده ږدی موزیکی سره خملی | را اوری په زړګی می د غمونو انبارونه

ورو ونیسه په خوله کښې د سورکو شونډو سرونه

ملاتینګه کړه جانانه یم ولاړه ستا په پت | اول او اخر ستا یم په موزی دی شی لعنت
موزی به می بیا نه مومی تر ورځی د قیامت | ما ستا د پاره اینبی دیسین بابا نذرونه

ورو ونیسه په خوله کښې د سورکو شونډو سرونه

نذرونه به خود ورکړی چه ته داسی شینکی خال لری | توره دې لنګی سپینه اوری نتکی کښې لال لری
مدام چه په سلام ببو خیل ځانته سید کمال لری | سپینه خولکی ورکړه ځکه کړی درته عذرونه

ورو ونیسه په خوله کښې د سورکو شونډو سرونه
په غاښو به میده کړې سره نتکی سره زنځیرونه

❀ ❀ ❀

د بزم او سرود په اشعارو کښې نور هم ډیر صفتونه شته چه د دی اشعارو جاذبه او تاثیر زیاتوی او یو ډول مستی او خمار په اورېدونکو کښې پیدا کوی ځکه چه یو خو وزن او آهنګ ډیر مست او دلچسپ وی بل پکښې تعبیرات ډیر ساده او طبیعت ته نزدی وی او هر څوك ګمان کړی چه زما د زړه خبری کوی، د همدی لامله چه دا خبری د زړه خبری وی په زړونو اثر کوی او زړه ته لاره لری، ښائی چه تاسی به کله په مجلسونو او صحبتونو کښې له هر هر چا نه ډېری خبری اورېدلی وی او ډیر کسانو به له تاسی سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینی او محبت، دوستی او خلوص اظهار کړی وی مګر د چا خبری چه تاسی ته بې الایشه ښکاره شویدی هغه خوند او خوږوالی به مو په ډېرو تکلفی او مصنوعی اظهاراتو کښې نه وی لیدلی او پدی به باور لری، چه په زړونو باندی د زړونو خبری ښې لګېږی که څه هم طفلانه وی او د ځینو په نظر کښې هېڅ معنا ونلری.

زما په ګمان او د شاعرانو په عقیده کومی خبری چه عشق او محبت، د زړه جذبات ئې چاته ورښئی ادبی فنون او معانی و بیان، صرف و نحو، استاد او معلم ئې نشی ښودلی زمونږ په ملی ادب کښې د مینو ناری چه د امیانو شاعرانو له خولی وتلی دی ښائی چه د دیوان خاوندان به ئې نلری او نه به کوم ملا په خوب کښې لیدلی وی، د همدی لامله یو شاعر وائی:

هغه چاری چه زما په خاطر اوری　　　شیخ ئې نه وینی په خوب ملا په توری

❀ ❀ ❀

د آدم خان او درخانی په نارو کښې دا یوه ناره چه درخوئی کوی او د فتح خان اس ته په هغه وخت کښې وائی چه فتح خان سپور دی او جنګ ته ځی.

د فتح خان کرنګه نال نال به دی زرین کړم　　　که دی دا وار فتح راوړو زما امیل به دی د غاړی لونګین کړم

❀ ❀ ❀

د شعر او ادب، د عشق او مینی په بازار کښې لوړ قیمت لری او سړی پوهېږی چه مینه څومره ښې او خوږی خبرې یوه شاعر یا شاعری ته ورښئی.

د ښادی خان او بیبو د عشق په افسانه کښې هم دغه راز ډېری د خوند نارې شته چه د مینی له کانونه را وتلی او حقیقی اثر ئې پیدا کړیدی.

یوه ورځ ښادی خان د بیبو کورته راغلی او هغه ځی چلم ورته ډکوی او په چلم باندی پخپلو ګوتو اوړړدی، ښادی وائی:

که ور وځی بیبو جانه په څه شان په کرشمو ځی　　　د یوه ښادی دپاره بخملی ګوتی سېزی په چلم اوړړدی

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدی ناره کښې که څه هم د قافیه والو په نزد څه ضعف او نقص موجود دی مګر د اهل دلو او عشق لرونکو نظر په معنی باندی وی او په بیبو باندی د ښادی خان دلسوزی اثر کوی ځکه ورته په جواب کښې وائی:

چلم به ډك كړم د لونګو د اژرې پېزوان به پاس پر چلم كښېږدم
نو به يوسم دا چلم او سپينه خوله به د ښــادی مخی ته كښېږدم

دلته بايد مونږ د شعر رديف و قافيې ته ونه ګورو او دا ونه وايو چه قافيه پکښې نشته بلکه کيف په نظر کښې ونيسو يوه معشوقه چه د خپلی غاړی له لونګو چلم ډکوی او دپاسه پری خپل پيزوان ږدی بيائی له سپينی خولی سره يو ځای د خپل اشنا په مخکښې ږدی نو ته ووايه چه د دی چلم نيشه به څنګه وی او دا کيف به سړی په بل شی کښې څنګه پيدا کړی، سره له دومره لطف او نزاکته چه پدې شعر کښې شته که سړی د شعر قافيې ته ملتفت کېږی بايد پخپل ذوق بدګمانه شی او خپل علاج وکړی ځکه زه هم پخپل دغه التفات خوښ نه يم او ښه نه ورته وايم.
د پښتو د ملی ادب ښېګڼې او مزايا بيانول ځانته مستقل کتاب غواړی او په دغسی لنډو بحثو کښې ئی حق نه ادا کېږی ځکه خپل بحث ته خاتمه ورکوم او يو څو نمونی ئی ښاغلو لوستونکو ته له پښتانه شعراء څخه را اخلم:

صالح محمد:

(۱)

| | |
|---|---|
| ليلــی بانــه دی د نښـــترو پــه شـــان | ډول دی زيـــات دی د رنګينـــه ســـره |
| ســپينه ســينه لــری د زرو پــه شــان | مـــزه کـــوی د لونګينـــه ســـره |

❀ ❀ ❀

| | |
|---|---|
| ليلـې کـوڅی دی لګـی مـلا بانـدی | ټـالو نـه خـوری څـومره اوږدی دينـه |
| لبــې دی را پــه بســم الله بانــدی | د ميتــر لام صــاحب خــوردی دينــه |
| بيګــا راځــه زمــا ســلام بانــدی | نــن مــی خالونــه ايښــې دری دينــه |
| د وروځــو خــال مــی د کــوترو پــه شــان | هســـی شـــغلی کالـــه جبينـــه ســـره |

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وروځو خال زما سردار دینه        دا توری زلفی می فوځونه لرم
هلکه نوی می بهار دینه        ځان دی ساته ډیر مکیزونه لرم
زما صورت د ګلو هار دینه        په اوربل زړونه تاویزونه لرم
افسون کوم د جادوګرو په شان        سترګی می ښکار کا له دوربینه سره

❁ ❁ ❁

افسون دی وکړ جادوګری جلی        په مخه مه راځه رنځور دی کړمه
دا توری زلفی دی لښکرې جلی        هسی په دار لکه منصور دی کړمه
زور دی اوبه شه زور ورې جلی        همسا اخلم په ضرور دی – کړمه
بیګا درځم د ناخبرو په شان        چه یو له بله وکړو مینه - سره

❁ ❁ ❁

بیګا راځه د برجل خواله زما        چه دربښکاره سترګی خماری کړمه
هلته به درېشی ریباره زما        هلکه ستا د زړګی چاری کړمه
په طمعه ګرزه له حصاره زما        چه دی نصیب لبې آبداری کړمه
صالح محمد می د زرګرو په شان        ټکر وهی له نورالدینه سره

❁ ❁ ❁

محمد دین د پېښور د نوښار:

(۲)

سپین مخ دی ګلزار دی        زړه می نا قرار دی
ستا زلفې سمسورې دی        سری لمبې راپوری دی

❁ ❁ ❁

ستا حسن و جمال        ډیر دی کره پایمال
غاړه کښې دی هار دی        زنه دې انار دی
سیال دی چیرته نوری دی
سری لمبی راپوری دی
ستا د خولې الفاظ        دی لکه مقراض
ډیر ظالم دی پلار دی        خون کوی خونکار دی
چغی په هر لوری دی
سرې لمبی را پوری دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور کښـــــــې د هجــــــــران — دی زمـــــــا ګـــــــذران
حســـــــن دی بســـــیار دی — مــرم زړه مــی پرهـــار دی
ســـتا خبـــری ســـپوری دی
ســـری لمـــی راپـــوری دی

(۳)

د یار مخ می عجب خوند کا لکه ګل د سبائی — بیوفا راتـه ښـکاره شـوه د بـی ننګـو اشـنائی
د یار زلفی منګری دی تور چشمان ئی اثری دی — سپکی غابښ ئی مرواری دی پسی زه شوم سودایی
عجب ښکلی دې بشر دی ټول عالم په تا خبر دی — هـم اول اخـر بهتـر دی کـړم د در ئـی ګـدائی
امانی صورت دی باغ دی مخ دی سپین لکه چراغ دی — د پتنګ پـه زړه کښې داغ دی ځکه کانـدی اشنائی
محمد دین دې دی سایل خیرات ورکړه د اربل — دی زړګـی بانـدی ګایـل کـه ئـی وکـړی دوائـی

(۴)

توکل دښبوی:

پـــه ګلشـــن کښـــې د بلبلـــو شورماشـــور دی — غمـازان چـه غمـازی کـا مـخ ئـی تـور دی
د هغـــو چـــراغ بـــل نشـــو تـــر ســـهاره — چـا چـه کـړی پـه عاشـقو ظلـم زور دی
مـــا بـــه دم کـــړی د وصـــال پـــه منترونـــو — سـور پیـزوان دی اوده دار پـه شـونډو سـور دی
درســـته شـــپه انـــوار وریـــږی تـــر ســـهاره — د سـهار د وخـت رحمـت ګـوره لا نـور دی
د دنیـــا لـــه عـــیش وتلـــی ســـرا ســـر دی — چـــه بـــل شـــوی د هغـــو د مینـــی اور دی
ســـر دی نـــه پورتـــه کـــوی د غـــم لـــه ټالـــه — تـــوکلـــه نـــن دی څـــه کـــانړی پـــه کـــور دی

زه خـوړلی پـه زړه بانـدی سـتا د زلفـو منګـرویم — طبیبان خوشی خواری کړی ساه می خېژی په ناوریم
جلاتـان راپسـی ګـرزی پـه اوزوو ښـکلی تـوری — وابـه نـوړم سـتا د لـوری زه مـین سـتا پـه ابـرویم
لاس ئی ونیسه په بند کښې ای دلبره خدای دپاره — د مجنون په شان می حال دی مدام پروت زه په خوارویم
تش کالبوت په دنیا ګرزم ساه می نشته په بدن کښې — د بیلتون ظالم له لاسه حلال شوی په تبرویم
زه توکل د غیرو خلقو کناره ناست یم ځان ژاړم — د ګناه پېتی می دروند دی خپل مولا ته په زارویم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶)

میرا اپریدی:

عاشق سوال ګیر دی له خپله یاره
په در دی پروت یم په زړه افګاره
خیر له ورتلمه هر څه می هیر شوه
امسا په لاس کښې سپی را چاپیر شوه
په لاس رانغی د زلفو تاره
عاشق سوالګیر دی له خپله یاره

په در دي پروت یم په زړه افګاره

چراغ بلیږی څان کړه پتنګ
مخامخ ورشه مکړه تری ځنګ
تری را جدا کا د ګلو هاره
عاشق سوالګیر دی له خپله یاره

په در دی پروت یم په زړه افګاره

سوال می کولو هلته ایسار شوم
سود می ونکړ لاپری سنګسار شوم
عبث مي تیر کړی د ځواني واره
عاشق سوالګیر دی له خپله یاره

په در دي پروت یم په زړه افګاره

میرا فریاد کړی پروت دی رنځور
پری مقرر شو د غم ناسور
طبیبه زر شه وکړه تلواره
عاشق سوالګیر دی له خپله یاره

په در دي پروت یم په زړه افګاره

(۷)

نوروز:

چیچي مي په زړه څی د غم داسي داسي
ژوندون می که تنګه ستا ستم داسي داسي
نه پاتی مجنون نه فرهاد او شیرین شوه
فنا شو په عشق کښي عالم داسي داسي
سیلاب می د اوښکو په مخ څی همیش
بهیږی له سترګو می نم داسي داسي
ملنګ دي د در یم ای ماه جبینی
کړیږم مدام خورم قسم داسي داسي
غماز مي پرېباسی د غم په خندق کښي
زه غواړم مدد ستا کرم داسي داسي

نوروزه مشال د عمل څانته بل کړه
شته څای د خطر په تورتم داسي داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۸)

در محمد ځاځی:

کله به راوړې دواړه لب، شیرین ګفتار، یو وار، زلفی دې تار په تار، سوزم بی اوره
کله به راوړی دواړه لب زنه دی قند، پیونه، راوړه په خوند، په ژوند، که خدای ته ګورې
سرې دې منګلی زړونه وړې په هر ساعت، اوچت، کوی غیبت، تهمت، د یار په لورې
نیاز مینی نجلی که پیزوان په شونډو سپور، په زور، وسوم په اور، لا نور سترګې ئې تورې
له ډېرې مینی می د زړه په سر پرهار، د یار کړی به شمار، یو وار، ټوتی څلوره

❀ ❀ ❀

دا لونګین په سینه وړې لکه غنچه، سوچه، سینه باغچه، د چا نصیب نیولی
ثانی ئی نشته تمامی صورت ئی ګل، سنبل ګوره چارګل، د نجل سرې ئې منګولې
چه مازدیګر په ګورد وینم سور شال، پایمال مکوه خیال، جنجال مستی بلبلې
لاس می در پرېږده د رویپو په قطار، یو وار، خال په رخسار، د یار په جبین سوره

❀ ❀ ❀

زلفی دی بیا په سینه جوړی کړی خوری وری، وهم نارې سورې، نشته دلبره
څوك چه مین شی زړه ئې واړه شی اریز مریز، نکړی، پرهیز، هرګز په مازدیګره
نیاز مینی نجلۍ زلفی بیا کړلی غورځنګه په څنګ سازوی رنګ په رنګ، کوی هنره
د یار دپاره ئی ساتلی دوه انار تیار سینه ګلزار، ګل بار، وهی په زوره

❀ ❀ ❀

زړه می ګوګل کنبې ډیری مینی که خراب تراب، نکړی حساب کتاب شونډی میینی
لاس می نیولی سوال کوم د خدای په در، دیګر، غوڅ می زړه سر ځیګر ښاخی ترې وینې
ویشتلی زه یم مازیګر مستی ښارو په ورو، د شونډو سرو، دارو، را که د مینې
کمکی دی مړاوی په ما خاوری وای انبار انبار (در محمد) خوار، و یزار له بدو نوره

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۹)

احمد ګل د ګلائي مومند:

محبوبا په اربل – نن کرلی سنبل عـاشقان زور وی

❀ ❀ ❀

تا داغ د جدائی ایښی زما د زړه دپاسه همدا به دی له لاسه
کېدل، زبېدل، ستا خندل، می په دل کښی نیران زېږوی

❀ ❀ ❀

جامی می په تهمت کښې شولې رنګی د دلبر زخمی د زړه په سر
ښه غندل په ګوګل، مخ دی ګل د کابل شنه طوطیان بندوی

❀ ❀ ❀

سره لب دی د خوبانو محبوبا د زړه ملهمه سپین مخ دی لکه شمعه
دی سنبل که کاکل، کړی سیزل که دا غل کل جهان ورانوی

❀ ❀ ❀

احمد ګل دی په وصلت کښې شراب څکلی د لبانو مکیز د معشوقانو
سنګدل کوی تل، تېز کتل په بور جل سور پېزوان زنګوی

❀ ❀ ❀

هیڅ ترحم نشته دی په هغه دلخراش کښی تېر شه په تلاش کښې

❀ ❀ ❀

مرم زړې زړې شمه وسوزم ایری شمه
ته چه د زړګی حالونه سی رقیب ته فاش کړی تېر شه په تالاش کښې

❀ ❀ ❀

ستا که په ما پام نه وی ژوند به می ارام نه وی
ما خو که زړګی بایللی نه وای په تا کاشکی تېرشه په تالاش کښې

❀ ❀ ❀

حال نه دی بیرون زما وګوره لړمون زما
جوش کا په کوګل کښې لکه خښته په سور داش کښې تېر شه په تالاش کښې

❀ ❀ ❀

سورګل په شین برك کښې شی احمد ګل په مرګ کښې شی
ته چه مازدیګر له کوره ځی په شین قماش کښې تیر شه په تالاش کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

په پښتو سندرو کښې يو ډول اشعار شته چه لنډۍ يې بولی، د لنډۍ لمړی مسره لنډه او دوهمه اوږده وی، دا ډول اشعار د پښتو په موسيقی کښې ډېره زياته برخه لری ځکه چه د پښتو په هر خوا کښی په بېل وزن او بېل آهنګ ويل کېږی مګر هر آهنګ ئې جذاب او له سوزه ډك وی چه اورېدونکی ئی ارو مرو له تاثير لاندی راځی. په دغو ټولو اوزانو کښې چه د لنډۍ دپاره پيدا شويدی تيرائی وزن ډېر شهرت موندلی او زيات موثر دی. لنډۍ علاوه پدی چه په يو مؤثر او سوزناك لحن ويل کېږی او د آهنګ په لحاظ زيات تاثير لری د مضمون او مفهوم په اعتبار هم د پښتو په لوړو او عالی ادب کښې ښه ځای لری او د فصاحت او بلاغت زور او قوت پکښې ليده شی اکثره لنډۍ داسی دی چه په پښتنو کښې د ملتونو په ډول ويل کېږی او (حکم و امثال) ورته ويلی شو، ډېر مطالب شته چه د يوی لنډۍ په ويلو د کناياتو په ډول ادا کېږی او له صراحت نه اولی بلل کېږی. په لنډيو کښې که څه هم ځينی داسی وی چه د سوال و جواب په ډول د مين او مينې له خوا ويلی شوی وی او د مضون تسلسل پکښې ليده شی مګر عموماً يوه لنډۍ له بلی نه په مضمون کښې جلا دی او په هره لنډۍ کښې يوه خبره تمامه شوی وی. په لنډيو کښې ساده ګی او له عمومی ذهن او تخيل سره موافقت، اولسی تعبيرات او ځنی نور صفتونه موجود دی چه د لنډيو خوند ئی ډېر زيات کړيدی او په هر چا باندی ښې لګېږی د مثال په ډول دا يوه لنډۍ وګورئ! چه يوه مينه د خپلی مينی د زياتوالی په اظهار کښی وائی:

د مينی تول مــو ســره وکه　　زه يولوټه په يار زياته وختمه

پدی لنډۍ کښې دغه ساده. اولسی تعبير چه يوه لوټه زياته ختل دی دا لنډۍ خوږه کړې او ادبی ملاحت ئې پکښې پيدا کړيدی.

يو بل مين له يوی خوا د عشق جاذبه او د ليلی کشش او له بلی خوا د خلقو تهمتونه او خبری وينی او په داسې موقف کښې دريږی چه نه وړاندی تلی شی او نه بېرته راګرزېدلی شی نو په ډير ساده ډول وائی:

کـــه پســـې ځـــم خلـــق پـــوهېږی　　کـه پسې نـه ځـم ليلـی کړی اشارتونه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا راز مضمون په دغسې ډول ادا کول چه له دېنه زیاته عام فهمی او سادګی پکښې نوره نه ځائیږی د لندی جوړوونکو کار دی او په نورو اشعارو کښې ئی په ډېر ندرت سره موندلی شو.

د دې لامله چه د پښتو لنډۍ په پښتو سندرو او پښتو ادب کښې لوړ ځای لری او د ملی ادب غوره نمونې پکښې شته یو څه لنډۍ دلته له یو ځای او بل ځای څخه د انتخاب په ډول را اخلم:

راځــی راځــی چــه لنـډۍ وایــو　　لنډۍ لابښې دی د یار غم غلطوینه

❀ ❀ ❀

د معشوقو له خولې:

زمــا د لاس ګــوتې د ســرو کــه　　زه به دې کور په سرو منګولو ړولومه

❀ ❀ ❀

زمــــا د زړه تســــــلی وکــــــه　　پس له هغه می په سینه وهه لاسونه

❀ ❀ ❀

کــــه دې وطــــن راســــره پرېښــــود　　په سرو منګولو به دې خپې چاپی کومه

❀ ❀ ❀

راشــــه قســــم راســــره وکــــه　　که نازولې مې ساتې درسره ځمه

❀ ❀ ❀

راځـــه چـــه وتښـــتو مینـــه　　ترشا خبرې به سپین ږیری سپینوینه

❀ ❀ ❀

قلـم دی مـات ګـوتې دی پـری شــی　　زمـا خیـالی اربـل تـه نکـړی تاویزونـه

❀ ❀ ❀

زمــــا اشـــــنا نـــــادان هلــــــك دی　　چه خـولګی ورکړم پـه صحرا وائـی حالونه

❀ ❀ ❀

مــــلا آذان تــــــه بیــــــږه مکــــــړه　　زه د اشـنا پـه غېـږ کښــې اوس ورولوېدمـه

❀ ❀ ❀

مســــلمانی پــــه چــــا کښــــې نشــــته　　د لاس بنګـړی مـې خرڅـوی مـا ژړوینـه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــولا دې بلـــه زېرمـــه وکـــه زمـا د غـاړې اورۍ مـه کـاږه مینـه

مـــا درتـــه نـــه وې شـــرمېدمه د سرې نتکۍ سره پېزوان مزه کوینه

مبـــارکي راکـــړئ عالمـــه له تهمتو سره خپل يار قبوله کړمه

وار مـــې د تـــورو زلفـــو تېـــر شـــه اوس مې په تورو زلفو نه نښلي بازونه

کـه مـې خـدای ښـه ساتي کـه بـده را تول به نکړم د سالو سره پلوونه

د کـــوټې تیـــر راباندې پـــروت وای راباندې نه وای د بې ننګ سرې لاسونه

ثنکـه دی خـواره کړمـه خدایـه چه همسایه مې د خولګۍ تمه لرینه

خلـــق جـــوړه جـــوړه ویـــدیږي زه کم نصیبه یار په خوب لانه وینمه

خدای به دی بیا راته محتاج کړی که په لنډۍ زنه می ووهل خالونه

چـه زه کـور نـه یـم تـه رامشـي تا له به کور په بنو خوك جارو کوینه

جبـــل وهـــه دنیـــا پرســـته زما د ناز خندا دی هېره شوه مینه

تینکـه مـې مـه نیسـه پـه غیـږ کښـې سبا به بوی د لونګین در څنی ځینه

لـــه مانـــه تـــه ښـــه ئـــې چلمـــه چه جانان خوله دربانډې ږدی دواړه لاسونه

پـــه نصـــیب خپـــل همزولـــی راکـــړی که نیستی راغله په خندا به ئی تېرومه

پـــه متیـــز تـــوب درســـره نـــه ځـــم په پاکه مینه درسره یم څو چه یمه

پـــه غـــم کښـــې تـــا نـــه کمـــه نـــه یـــم کـم عقلـه نـه یـم چـه بـه کلـی خبرومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېـړده چــه تــور ښـامار مــی وخــوری　　　پــه پـاړوګــر جانــان زه ډېـره نازېدمــه

❀ ❀ ❀

اشـــــنا مــــــې وری رانـــــه تللــــــی　　　چــه دسـترخان لــره ورځــم ژړا راځینــه

❀ ❀ ❀

ســــترګی مــــی تــــا تــــه تــــورولی　　　چه تـه رانغلـی پـه سرو اوښـکوئی مینځمـه

❀ ❀ ❀

ځــوك بــه دی مــړ کــړی ښــکلی یــاره　　　پـردی پرستنی جګـوی شـمېرې خالونـه

❀ ❀ ❀

کــه مـــې د یـــار ګـــوتې پـــه لاس وای　　　ما بـه لـه ټولـو نجونـو پورتـه وړه لاسـونه

❀ ❀ ❀

بنګړی می ستا پـه کـټ کښـې مات شـوه　　　که مړنی ئی اوس مې ډك کړه مړوندونه

❀ ❀ ❀

پــه خــوب ویــده بــه دې راویښ کــړم　　　یــاره زمــا د لاس بنګــړی راغلــی دینــه

❀ ❀ ❀

کـــه پـــه ســـلام مـــې خوشـــحالېږې　　　زه به دا سری منګولی تل په تندی ږدمه

❀ ❀ ❀

زمــا هــر وخــت تــا تــه ســلام دی　　　چـه در پـه یـاد شـوم زمـا اخلـه سـلامونه

❀ ❀ ❀

د جنـــــازې بـــــازومی نیســـــــه　　　که سپینه خوله می په راستی درکړی وینه

❀ ❀ ❀

لالیـــه راشـــه چـــه خولـــه درکـــړم　　　زمـونږ پـه کلـی کښـې مرګـوده مړه بشـمه

❀ ❀ ❀

پـــاس د اســـمان ســـتورو تـــه ګـــوره　　　په تا می دومره دی د سپینې خـولی پوروڼه

❀ ❀ ❀

کــه مــی پخپــل یــار کښــې وفــا وای　　　زه بـه د بـل یـاری تـه ولـی پخسـېدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورځی توری سترګی ګرزم　　د شپې په لپو لپو اوښې تویومه

❀ ❀ ❀

اوبه د کوز ګودر خوړې دی　　زه د اشنا دپاره برګودر ته ځمه

❀ ❀ ❀

زما سالو کښې ګرمی کېږی　　په زړه ظالم اشنا مې اورته کشوینه

❀ ❀ ❀

اختر د واړو مبارك شه　　زه به خپل سره لاسونه یار ته ورکومه

❀ ❀ ❀

خلق دی وائی تهمتونه　　زه د اشنا په غېږ کښې چا لیدلی یمه؟

❀ ❀ ❀

ریباره ورشه ورته وایه　　که د بدیو زور لرې درسره ځمه

❀ ❀ ❀

برائی چېری وی یتیمه!　　چه شا لیلا په سپینه خوله کړه خیراتونه

❀ ❀ ❀

په ځان مین ئی په ما نه یې　　یاری په داسی مینو نه کېږی مینه

❀ ❀ ❀

تر مستانه یار خو می جارکی　　چه تش دیدن ته ئی خېمې وهلی دینه

❀ ❀ ❀

خاونده بیا دی ماسختن که　　چه نارضا کټ ته می ریږدی اندامونه

❀ ❀ ❀

روکی چه سپور شی د خپل کور شی　　لالی دی سپور شی چه سپره وریسی ځمه

❀ ❀ ❀

زما جانان دی راسره وی　　په مادی تیږی له میرو راچلوینه

❀ ❀ ❀

امیره ستا نوکران ډېر دی　　د سپینې خولی نوکر را پرېږده چه راځینه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار می په سرو لاسو مین دی / ځکه نکریزی پخپل کور کښې شنې کومه

❀ ❀ ❀

ګوتی بنګړی د دنیا دود دی / زه له نښتمنه یاره نه غواړم دودونه

❀ ❀ ❀

زه دی په دوه و کښې کړم خدایه / چه د پلار کور کړم که له یاره سره ځمه

❀ ❀ ❀

هغه ساعت به لوی قیامت وی / چه زوړ سړی په چتې واچوی لاسونه

❀ ❀ ❀

تر دی خوږی سپی راتېر شه / تر دی ملالی خولی به زه در تېره شمه

❀ ❀ ❀

خاطر دی ډېر راباندی ګران دی / زه په ملاله خولګۍ نه پرېدم لاسونه

❀ ❀ ❀

دا پېغلتوب می دی غم دود کړی / خیالی ځوانان راپسی مری خونکاره شومه

❀ ❀ ❀

زړه دی زمونږ له کوره ویسه / مونږ کره نشته د مینو زړو ساتنه

❀ ❀ ❀

توره بلایم نور څه نه یم / په یار می خاوری اړوی هیڅ نه کېږمه

❀ ❀ ❀

ته د اختر په سهار راشه / زه به دراوزم توری سترګی سره لاسونه

❀ ❀ ❀

هلکه مری که پاته کېږی / دا می دستور دی نری سترګی توروم

❀ ❀ ❀

سترګی کجکول کړه دیدن واخله / ملنګه یاره په بانه راغلی یمه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینو له خوا:

پــه ګـــودر څـــه بـــلا لګېـــږې؟ چه کشر ورور دی بدرګه درسره ځینه

❀ ❀ ❀

د شپې پـه خـوب کښـې ګـلان وینـم د لیلـی مینـه مـی پـه ګلـو ګرزوینـه

❀ ❀ ❀

خـــال دی واهـــه خبـــر دی نکـــړم ناغه به راکړی د سرکو شونډو سرونه

❀ ❀ ❀

کـــه پـــه صـــورت درنـــه جـــدایم اروا می ستا په کټ منګولی لګوینه

❀ ❀ ❀

لـــه پاســـه ســـره لســـتونی راغلـــه د بـام پـه سـر ورتـه پېریـانو ونیومـه

❀ ❀ ❀

کـــه ســـتا د ســـترګو اشـــارت وی په موزیګی به درته سره کړم دېوالونه

❀ ❀ ❀

ستا په نتکی کښې شیطان ناست دی هره شپه می ستا خولګی ته لمسوینه

❀ ❀ ❀

پــه ګــورد ســرو ســالو ښــکاره شــه مـا وی دی تـورو اوبـو اور واخسـت مینـه

❀ ❀ ❀

ژړا مـــی نـــه ده پـــه چـــا ګرانـــه خوشـی ګریـوان پـه اوښـکو څلـه لمدومـه

❀ ❀ ❀

زړه مـــی د تاســـی کـــور کښـــې پرېښـــود مـور تـه دی وایـه چـه پـری نکـړی منتونـه

❀ ❀ ❀

زړګـــی مـــی تاســـی کـــړه هېـــر شـــه خور به دی ځای جارو کوی مونده به ئی کړینه

❀ ❀ ❀

اول دی لاپـــې دیـــاری کـــړی اوس دی کټکی د مور له څنګه ګرزوینه

❀ ❀ ❀

کـــه دنیـــا ئـــی شـــرمو نـــه نـــه وای تا به منګی وور زه به تش درسره تلمه

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هر راز لنډۍ:

خدایه بې دردوته درد ورکړې      چه د دردمنو له احواله خبر شینه

❁ ❁ ❁

زما سلام په هغو وایه      چه د ماښام ډوډۍ له اوښکو سره خورینه

❁ ❁ ❁

په خوله به جنګ دسره وکړم      د زړه کوځې به درنه ولې بېلومه

❁ ❁ ❁

ټپس د باز په نرخ خرڅېږی      زه په دغه بازار سودا کله کومه

❁ ❁ ❁

خندا له تا سره جوړېږی      ماته پراته دی په ځولۍ ځولۍ غمونه

❁ ❁ ❁

د ازادۍ په لار کښې مړ شې      چه جنازه دی د اسمان ملکی وړینه

❁ ❁ ❁

مسلمانی په چا کښې نشته      مرور ګرزم څوك می نه پخلا کوینه

❁ ❁ ❁

زما د ګور مړی یادېږی      ما ګور ګټې کړی چه قبرونه لټومه

❁ ❁ ❁

خاونده غبرګ بچی ئی مړه کی      چه یو اشنا له بل اشنا نه بېلوینه

❁ ❁ ❁

د توتی هسی خولګۍ سره ده      د باغ ګلونه ټول بورا خوړلی دینه

❁ ❁ ❁

سلام دی راغی ته رانغلې      وابه دی نخلم بی دیدنه سلامونه

❁ ❁ ❁

د زړګی حال ویلی نشم      لکه خوله پټې تنور بلی لمبې خورمه

❁ ❁ ❁

د دلالانو بچی مړه کی      د ګلو لښتی په موزیانو زړوینه

❁ ❁ ❁

د لاله فکر پکښې وکړه      چه شال شړۍ سره یو ځای نکړی مینه

❁ ❁ ❁

دا به له مانه پوره نشی      چه هر ساعت دی په جرګو پخلا کومه

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربل دی جوړ په غنم لوکه　　زه خوار به لو کړم که به ستا نندارہ کړمه

❁ ❁ ❁

په ګودر ګڼی ونې کېږده　　چه شا لیلا منګی په سیوری ږدوینه

❁ ❁ ❁

په دهقانی باندې زور وکړئ　　سپینې پایڅی د زرو ځلی ورانوینه

❁ ❁ ❁

په صبر صبر پوره نشوه　　سبا می نیت دی بی صبری ته ملاتړمه

❁ ❁ ❁

جنی پخپله ښایسته ده　　زړګره ستا په ګاڼه اور پوری کوینه

❁ ❁ ❁

جلی وړه د یاری نه ده　　ناپوهه مورئی ورته سترګی توروینه

❁ ❁ ❁

څوك به ئې ولی خاطر نکړی　　چه کور کښې سره او سپین لری یا سپین مخونه

❁ ❁ ❁

چه په دنیا په ښه رانغلی　　بیا می د شناختو په سر مه وهه لاسونه

❁ ❁ ❁

مور ئی په کلی شړومبی غواړی　　لورئی چارك اوری په غاړه ګرزوینه

❁ ❁ ❁

یا خو زما په زړه تیاره ده　　یا د تمامی دنیا مړه دی مشلونه

❁ ❁ ❁

زما زړګی د کاوون غر دی　　په نورو ګردوی په ما واوری ورروینه

❁ ❁ ❁

سوال به ئی ولی نه قبلېږی　　چه تور اوربل په زیارت ږدی سوالونه کړینه

❁ ❁ ❁

اوښانو بیا غاړی کړی کړی　　چه پری سپرې دی سپینی خولی زیړ پیزوانونه

❁ ❁ ❁

بی له دیدنه به روغ نشم　　که په بارو بارو دی راشی کاغذونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه بــل وطــن مــی نــه لــوریږی      کــه د ځلميــو رســالی درپســـې ځينــه

❀ ❀ ❀

ولـــــې بـــــه نـــــه ژاړم تالاشـــــوم      اشــنا زمــا ديــدن ئــی نــور خلــق کوينــه

❀ ❀ ❀

غمــازه خــوار شــی مــونږ دی خــوار کــړو      شړیٔ دی لنګ شه څه شکوی پردی شالونه

❀ ❀ ❀

ســـردی لـــه هـــری ونـــې لـــوړ دی      چنــاره ولــی نــه راوړی د خيــال ګلونــه

❀ ❀ ❀

عــالم بــه ټــول پــه تــا مــين شــی      کــه دی زمــا پــه ســترګو ووينــی مينــه

❀ ❀ ❀

پــه يارانـــه کښـــې زړه ســـندان کـــه      پکښـــې پيښـــيږی د پلکونـــو ګذارونـــه

❀ ❀ ❀

نجلـــیٔ پـــه ســـر دی منګـــی مـــات شـــه      چـه دی اوبـه شـی د سـينی د بـاغ ګلونـه

❀ ❀ ❀

نصـــــيبه وســـــوزی ايـــــری شــــې      تنديه مات شی په تا څه ليکلی دينه(۱)[31]

❀ ❀ ❀

---

۱ :څه لنډۍ له (ملی سندری) واخستل شوی او ځينی لنډۍ ښاغلی (پرهيز) او ښاغلی محمد علی (لونګين) راکړيدی چه د يادولو حق لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعرانو قضاوتونه

هوښيارانو ويلي دي چه زر زرگرته ښيه او شعر شاعر ته په عربي کښې هم متل دی چه د فضيلت خاوند صاحب فضل پېژني، نو که مونږ غواړو چه شعر يا شاعر لږ څه ښه وپېژنو بايد د شاعر پوښتنه له شاعر نه وکړو مګر له همعصرو رقيبانونه نه ځکه چه رقابت د حقيقت په مخ پرده غوړوی، او نظر کمزوری کوی. د يوه شاعر په خبرو لکه چه شاعر پوهېږی بل څوك پرې هغسې نشي پوهېدای ځکه چه په خبرو پوهيدل او خبری تلل څه آسانه کار نه دی بلکه د چونګښو له توله هم مشکله خبره ده، خبری هر څوك کوی مګر په خبرو هر څوك نه پوهېږی.

دا متل دی چه د ګونګ په ژبه ګونګ پوهېږی او د دردمنو له حاله دردمن خبرېږی نو که څوك شاعر نه وی او د شعر په دقايقو پوه نشي عجيبه نه ده.

مونږ په باغ کښې د بلبلو نغمی اورو او خوند هم را کوی مګر نه پوهېږو چه څه وائی، د ګل غوړېدل او خوربدل وينو مګر دا نشو ويلی چه زړه ئې له خفقانه وچاوده او که له خوشحالۍ ئې د زړه غوټه خلاصه شوه ځکه چه دا د دنيا مرموز اشعار دی او هر يو پرې نشي پوهېدلی، څنګه چه په دنيا کښې شاعران او د نغمو خاوندان کم دی دغسې شعر پېژندونکی او په خبرو – پوهېدونکی هم لږ دی.

پدی کتاب کښې کوښش وشو چه شعر او شاعر تر يوه حده وپېژندل شی او دا مقصد هم د ځينو نورو مطالبو په ضمن کښې په کنائی ډول تر يو حده حاصل شی مګر دا کار دومره ګران دی چه ډېر عمر مطالعه او په خبرو کښې ننوتل غواړی.

نو ښه به دا وی چه د څو تنو شاعرانو قضاوتونه هم د پښتو شاعرانو په باب کښې دلته رانقل کړو(۱) او په دغه هنداره کښې هم ځينو شاعرانو ته وګورو چه د نورو شاعرانو په نظر کښې څه مقام او منزلت لری؟ کوم يو د کوم يوه په مقابل کښې غوره ګڼی او د يوه له بل نه څه راز امتياز کوی؟ خوشحال، رحمان، حميد، عبدالقادر، شيدا، عليخان ميرزا، دولت، پير محمد او نور په څه نظر کتل کېږی او دوی پخپله يو بل ته په څه ډول ګوری او څنګه ئې ستائی د هر يوه نظريه، فکر، قضاوت او حکميت لاندی بيانېږی.

(۱) خوشحال وائی:

چـــه لاف وهـــی د شــــعر نــــن پــــه دا دور دی ډېــــر

---

۱ :پدی برخه کښی د کابل له مجلی د ښاغلی حبيبی له مقالی د شاعرانو څه اشعار اخستل شويدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دی نه کا چه به وایم　　حال د دویو تېر و بېر
څوك پاوی څوك نیم پاوی دی　　(قلندر) پکښې نیم سیر
د مونږه په حساب دی　　هیڅ می نه دی واصل هېر
بل دولت فقیر درې پاوه　　زه ترې څو سر شاهی تېر
چه په سرای کښې به پیدا شی　　پس له قرنه پوره سیر

❀ ❀ ❀

د میرزا دیوان می ومانده په ګوډی　　مسخره می ارزانی خویشکی زمند کړ

❀ ❀ ❀

کاظم خان شیدا وائی:

په دا فن کښې څو اشخاص دی　　ډېر زمونږ خاندان خاص دی
یو میرزا دولت واصل هم　　ښه کلام لری حاصل هم
د پښتو شعر معلوم و　　په معنی کښې کالمعدوم و
چه قلم په لاس د خان شه　　مرتب ئې لوی دیوان شه
تصانیف ئې فراوان شول　　مستند د درست افغان شول

❀ ❀ ❀

هر شاعر چه د افغان دی　　ریزه چین د خان د خوان دی
خان ممتاز د تمام روه دی　　بل استاد د دی ګروه دی

❀ ❀ ❀

یونس وائی:

حقیقت ئې و یونس وته څرګند دی　　ډېر غرور دې پخپل شعر ختېك نه کا

❀ ❀ ❀

علیخان وائی:

پښتنو به د میرزا شغل و نکړو　　که خبر زما د شعر په مضمون وای

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پیر محمد کاکړ قضاوت:

کـه هـر ځــو وائـي نـازك شـاعران شـعر　　ولـی دوی ګڼـی معجـز د رحمـان شـعر
ســوز ګــداز د محبــت یــې مکــر زیـات و　　چه سوزان ئی هسی شان کړ بیان شعر
جوړ په شعر کښې رحمان غیب اللسان دی　　پـدا څېـر نشـته هرګـز د انسـان شـعر
تــر مصــراع ئــي ځــار شــه لاړ د مرغلــرو　　پـه څـه تـارئې آویختـه کـړ یکسـان شـعر
بل پـه شـعر کښې هـم سیال د خوشـحال نشـته　　که څه درشت دی دا د ده سخندان شعر
کـه څــوك بحـر مـواج وائـی ورتـه ښـائی　　پدیوان کښې ئې مونده شی هرشان شعر
هېڅ تـر شعر د رحمان بـه څه کم نـه وی　　ومنصف ته د ختك خوشحال خان شعر
لکــه شــعر دی د ده پــه پښــتنخوا کښــې　　بل به کم وی پدا وخت د افغان شعر
بیــا رنګــین شــعر بیــان عبــدالقادر کــړ　　د اشرف دی هم تـر ده نـه سـوزان شعر
پـس لـه دویـه موشـګاف عبدالحمیـد دی　　چـه ئـی ووې ښـه نـازك نکتـه دان شـعر
د میــرزا شــعر بــه جــوړ و، ولــی دریغــه　　پـه وحشـی الفـاظو ده کـړ ویـران شـعر
د مشـــهورو شـــاعرانو حـــال مـــې ووی　　نــه و، مــا وتــه د نــورو عیــان شــعر
باریـك بـین لـره کمـال د شـعر ښـه دی　　جوهر دار به ئی کړی تیغ د زبان شعر
هــر بــی آب پــه آب د شــعر آبــدار کېــږی　　هـم زما د دردمـن زړه دی درمـان شـعر

چه انصاف زه پیر محمد کړم لافی نکړم
پـه هـم عصـرو کښـې مـی خـوښ دی د ځـان شـعر

❁ ❁ ❁

## د میرزا حنان رایه:

شــاعران د پښــتنو ډېــر دی تــر ســل　　څــو بــه کــړم درتـه معلـوم زه پـه ویـل
یـو میـرزا میرخـان دولـت د علـم کـان و　　د سـلوك شــعر ئــی کــړی دی افضــل
بل اخوند میاداد د عشق په میومست و　　ښــه شــیرین الفــاظ ویلــی دی واصــل
بــل رحمــان ســړبنی د پېښــور دی　　د پشـتو یـی غـزل بـه دی یـو تـر بـل
د خوشحال ختك ویل کل نصیحت دی　　پــه ظـاهر ئـې مسـخری بولـه بالکـل
بـل عبـدالقادر شـاعر د خوشـحال زویـه　　ښـه کتـاب ئـی دی جـوړ کـړی لکـه ګـل
بـل حمیـد موشـګاف د خیـال پـه شـعر　　څــه بــه وایــم ناســفته درئــی پیــل
علی خان اخوند زاده هم ښه شاعر وو　　ښــه آبــدار درئــې لــه ژبــی تویــول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا حسن آخوند نبه پیر په تلو کان کښې     په ویلو کښې د شعر ډېر اکمل

د آخوند ملا پیر محمد نظم که واوری     هرګفتار ئی دی په مثل د بلبل

جان محمد حافظ کاکړ په نعمت و مدح     سیال ئی نه و په پښتو کښې په ویل

اوس زمونږ د زمانی ملا شمس الدین دی     په تکلیف ئې جوړول مدام غزل

اوس صدیق آخوند زاده نبه شعر وائی     ډېر نبه پوه دی د بیتو په نښلول

ملا جمه په شاعری کښې ډېر استاد وو     په هر بیت سره ئی زړونه سولول

د عیسی آخوند زاده شعر که واوری     آفرین به باندی وائی تل تر تل

د سکوت مهر پر خوله کښېږده حنانه

څه غرض لرې د خلقو په ښوول؟

❀ ❀ ❀

د شمس الدین رایه:

ه څوك ونیسی په لاس میزان د شعر     په عروض کا سنجیده بیان د شعر

و به نه رسی په شعر له رحمانه     که هر څو کوی هوس افغان د شعر

پس له ده نور موشکاف عبدالحمید دی     باریکی ئی د کلام ده ځان د شعر

درست دیوان ئې له نو خطو ګفتګوی کا     هم ئې واخست له نو خطو شان د شعر

نبه مضبوط شعر بیان عبدالقادر کړ     ځکه دی په پښتانه کښې کان د شعر

په غزل کښې ئې لږ پست و بلند نشته     برابر ئې دی تمام سامان د شعر

علی خان په رنګین شعر که خبر شی     هر غزل ئې دی تنها دیوان د شعر

نه رسېږی د چا لاس د ده تر فکره     هسی شان ئی کړ بلند ایوان د شعر

د خوشحال ختك پر شعر نظر وکړه     بیا څکوی په یوه تار کاروان د شعر

د فقیر میرزا پر شعر ویل نشته     بل به نه وی هسی شان د کان د شعر

په ردیف کښې برابر دی ولی دریغه     بې معنی الفاظ ئی کړی نقصان د شعر

قلندر او د میرا دیوان موجز دی     منتخب ئې څو غزل عیان د شعر

بل شاعر عبدالرحیم د بخارا دی     چه ئی نه وو په ردیف پایان د شعر

پیر محمد کاکړ په شعر کښې نامدار و     یووړ قبر لره ده ارمان د شعر

که د واړو شاعرانو حال بیان کړی

نکړی څوك پر شمس الدین ګمان د شعر

❀ ❀ ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عبدالله محزون (قندهارى) نظریه:

د عبدالحمید د ژبې څه تعریف کړم — مونده نشي په پښتو کښې بله ژبه
یو څو کسه شاعران چه د پښتو دي — ته ئې یاد کړه ګوندي زړه شي په خوشتره
د حمید موشګاف خیال وته هوښ کړ — ګوندي شي د ده په جذب تیز نظره
د میرزا حنان د شعر نکتې زده کړه — معلومیږي دي پر ډیرو باندي غوره
د رحمان له شعره بوی د معجزي ځي — مرید ژر کاندي له پیره برابره
بل رحمت داوي کتاب لرى دلکشه — ګمان نکړم چه بې خوك لري دفتره
شمس الدین آخندزاده د کلچابات دي — د قلم په شان ئې ژبه ده دوه سره
بل محمد کرم آخند زما استاد وو — . . . . . .
صدیق صدق ځان له وائي يم د شهر — دا نور واړه اعرابیان بولي دلبره
ملا میران که بیا ګوري بلاوائي — واى بهتریم تر حمید په څو هنره
پختګي د شعر نه شي بې له علمه — فیض الله رنګه امي نه وولـه سره
د آخند ملا پیر محمد هم ښه کتاب دي — ډیر دقیق غزل لري لکه ګوهره

د عبدالکریم غزل مي اوريدلي
زړه د ښخه پريکوي لکه خنجره

❀ ❀ ❀

## د میر احمد شاه رضواني قضاوت:

د پښتو ژبې که ډیر دي شاعران — خو په واړو کښې بادشاه دي خوشحال خان
هیڅ حصار نه دي په لوړه په ژوره — نه پوهیږم اباسین دي که طوفان
منظومات ئې دي لړي د مرغلرو — که تسبیح دي د یاقوت او د مرجان
د خوشحال د زړه کتري څه هسې نه دي — چه سیالي به ئې کاندي لعل د بدخشان
فصاحت ئې د کلام په خپل لسان کښې — د حسان بن ثابت دي د سبحان
رزمیات ئې هو بهو د حماسې دي — په عشرت کښې بونو اس دي د دوران
په آثار و د قدرت کښې چه را چل شي — ته به وايې چه هو مردی د یونان
په شکوه د اورنګ زیب او د بهرام کښې — فردوسي هم ورته پاتي شي حیران
په پښتو کښې خوشحال خان داسي شاعر دي — لکه وه امرالقیس په عربستان
مقالات ئې واقعي او حسب حال دي — نه فرضي ویل چه کاندي شاعران
تر شیراز خوږو الفاظو ئې رازیږي — ډیر خسرو غندي طوطیان د هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس له دی که څوك شاعر و سخندان — نکته سنج نازك خیال شیرین بیان
اول څوی د خوشحال خان عبدالقادر وه — بل هجری وه چه ئې نوم وه اشرف خان
د هجری طبیعت هاله زور ښکاره کړ — له وطنه چه د کن ته شو روان
د عبدالقادر اشعار که چېری واوری — د اتیا کالو بډا به شی پری ځوان
خیالات د ده څه هسی بلند نه دی — چه به کښېوزی په کمند کښې د اسمان
پس له دوی چه کاظم خان شیدا گویا شو — چه وو زویه دانشمند د افضل خان
په هوائې هېڅ مارغه د خیال پری نښود — ده چه باز د طبیعت خپل کړ پران
لطافت او نزاکت چه د کلام وه — واړه خدای کړ په نصیب د کاظم خان
هر یو شعر ئې د دېوان انتخابی دی — هر غزل ئې دی تصویر د پرستان
بیا په دور د شاه عالم په سر بن کښې — چه ښکاره شو په جهان عبدالرحمان
موسیقار غوندی ئې هسی نغمی وکړی — چه ئې پوری کړلو اور په کل جهان
تا به وی چه د شیراز خواجه حافظ دی — چه پیدا شو په اولس کښې د افغان
که صوفی که محتسب او که قاضی وه — بې له مانه ټول ئې ګډ کړ په میدان
بیا په دور د تیمور شاه او دل له واره — ماشوخیلو کښې را وخوت حمید خان
چه ئې وپیلل په زور د طبیعت خپل — د الفاظو په ځای ستوری د اسمان
پس له دوی نه زلالی به دی را یاد شی — که دی ولوسته اشعار د علیخان
خو دا ټول مصوران د خیالاتو — مبتلا په خط و خال ؤ د جانان
هیچا ونه کړه په وعظ و نصیحت کښې — هسی شان چه ویل وکړه بابو جان
له دنیا و مافیها به دی زړه تور شی — که ئې واوری ای غافله یو بیان
وه په قدر و منزلت کښې په خپل دور — دا اته واړه په مثل د شاهان

نور د ډول او د سرنا شاعران ډېر دی
رضوانی خو شمارلی استاذان

❀ ❀ ❀

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library